

# د سميع الدين « افغاني »
# اشعار او افکار

# The Sameuddin "Afghani"
# Poems and Thoughts

د سميع الدين « افغاني »
د « پنځم تلين » په مناسبت

١٩٥٢ _ ٢٠٢٠


ترتيب کوونکي :
برهان الدين "سعيدي"

By: Buranoddin Saidi




## د کتاب پيژندنه:

ـ د کتاب نوم: د سميع الدين « افغاني » اشعار او افکار
ـ ترتيب کوونکی: برهان الدين « سعيدي »
ـ ديزائين او ګرافيک: بکتاش « سعيدي »
ـ د چاپ کال: دسامبر ۲۰۲۵ ميلادي
ـ ناشر: د افغان ستراتيژيکو مطالعاتو تحقيقاتي مرکز

اړيکی:

b-saidi@gmx.de

http://www.said-afghani.org

# د سمیع الدین « افغاني »

# اشعار او افکار

**The Sameuddin "Afghani" Poems and Thoughts**




**ترتیب کوونکې:**

**برهان الدین « سعیدي »**

**By: Buranoddin Saidi**

# سره مزه کا!

محـفـل چې د يارانـو ټنګ ټکور سره مزه کا

خوښي او خوشالي د کلي، کور سره مزه کا

پروا مې د اشنا پـــه ځان منـلې ده نو ځکه

اشنا ستا يارانه خــو د پيـــغور سره مزه کا

***

سميع الدين « افغاني »

# Sameuddin „Afghani“
# Schriftsteller, Dichter und patriotischer Diener



**Herr Sameuddin „Afghani“ war ein prominenter Schriftsteller und Dichter auf dem Gebiet des Wissens, der Kultur, der Poesie und der Literatur.**

**In seinen 66 Lebensjahren verfasste Sameuddin „Afghani“ insgesamt 16 Bänder mit Gedichten und Lektüren sowie Broschüren, von denen 10 Bände gedruckt und 6 Bände unveröffentlicht wurden.**

**Ebenso wurden viele seiner wissenschaftlichen, sozialen und politischen Forschungsartikel und Schriften in verschiedenen Medien des Landes veröffentlicht.**

**Sameuddin „Afghani“ befand sich aufgrund einer Langzeiterkrankung in regelmäßiger Behandlung im Krankenhaus. Am 22. Dezember 2020 hörte sein freundliches Herz auf zu arbeiten und er verstarb im Krankenhaus.**

**<u>Inna lillahi wa inna ilayhi raji'un</u>**

**Die Beerdigung des verstorbenen Sameuddin „Afghani“ fand am 23. Dezember 2020 auf dem islamischen Friedhof der Stadt Mönchengladbach in Deutschland, zusammen mit seiner Familie und vielen Schriftstellern, Dichtern und Freunden statt.**

**"Möge Allah ihm seine Barmherzigkeit gewähren und Möge Allah ihm die höchste Stufe im Paradies geben"**

**gez. Baktash Saidi**

# د مینې رنګ

ما ویل سترګې دې خوږې دي
دې ویل تورې په رنجو دي

ما ویل مینه دې سور اور دی
دې ویل یار زما ملنګ دی

ما ویل زما سره اشنا شه
دې ویل زموږ کلي ته راشه

ما ویل مینه رسوا کیږي
دې ویل دا دمینې خوند دی

ما ویل ښکلې دې ځواني ده
دې ویل مینه رسوایې ده

ما ویل زه دې لیونی کړم
دې ویل یار مې غنم رنګ دی

ما ویل سپینه خوله دی راکړه
دې ویل مینه کړې بې باکه

ما ویل زړه ته مې نژدې یې
ویل زه شمع یارمې پتنګ دی

ما ویل راشه مازیګر ته
دې ویل دربه شم ګدر ته

ما ویل لاره به دې څارم
ویل منګی مې شین په څنګ دی
***

سمیع الدین « افغاني »

# Sameuddin "Afghani"
# Writer, poet and patriot servant



**Sameuddin "Afghani" is the grandson of Maulana Dr. Muhammad Said, "Said Afghani", the grandson of Ghazi Maulvi Abdul Majid "Safi" and the son of Maulvi Sayed Amir Sahib, who was born in the year "1333" Hijri Shamsi 1954, in the area of Omarziyo in Laghman province. He was born in Khair Abad village.**

**Sameuddin completed his elementary educations at Haydar Khanio Rural School and Mehtaralmak Elementary School in Laghman Province and then graduated from the 12th grade High school of Pir Roshan High School.**
**In the year "1359" Hijri Shamsi 1981, was sent abroad to get higher and professional education. He started working in the Ministry of Interior in 1364 AH and has reached the rank of Major.**

**Mr. Sameuddin "Said Afghani" was a great writer, poet and servant of the country in the field of knowledge, culture, poetry and "Pashto and Dari" literature. His poems and writings have his hopes, pains, love, aspirations and a deep social, human and humanitarian color.**

**He was thirsty for peace, prosperity and good fortune. He shed tears for the pains of the oppressed people of the country, raised the voice of love and affection instead of hatred, hatred and differences. And it is clearly proven that his poetry, his prose, his writing, his news and his thoughts are about the homeland, peace and the good and happiness of humanity, and in this way, his constant efforts to have done with.**

**Sameuddin "Said Afghani" is married and has five children names are: "Samir, Sear, Skandar, Salma and Sahel", and lived in Munshan Gulad Bagh (Mönchengladbach, Germany).**

**Sameuddin "Afghani"; The people wrote "16-volume" poetry and prose books and pamphlets, which are "10-volume" printed and "6-volume" unpublished. Likewise, many of his scientific, social and political research articles have been published in various media and internet websites of the country.**

**Similarly, some of his poems have been composed in the "academic seminars" of the country's poets and writers, and some others have been composed in the voices of the country's melodious singers, such as: "I am Afghan, May you be lucky, Hemat, this is Afghanistan, Banjara Mama, you are in my room, Mirum Laghman Jan, in memory of the country, Barkiley Godar... and many others that are worthy of our countrymen's attention.**

**Published works:**

- **Remembrance of te homeland"The First Collection of Poems"**
- **Pardis Khyalone "The Second Collection of Poems"**
- **Our village and band "Prose"**
- **false hearts "Third Collection of Poems"**
- **The village of Khapuru and Bandi**
- **Shin Khali "Novel"**
- **After the return of "short story"**
- **Crushed nuts"The Fourth Collection of Poems"**
- **Sameuddin's "Afghani" Printed works and books**
- **Dude, you're in trouble"Poetry Generalities"**

## Unpublished works:

**- The best poems and poems, the first book of selected poems**
**-The fifth poetry collection**
**- The second part of Shen Khali's novel**
**-A collection of poems in three languages**
**-A collection of composed poems**
**- Our villages and bonds, part two**

**Sameuddin "Afghani" passed away in the hospital on the 2nd of Marghumi 1399 AH due 2022 to a long-term illness, and passed away and buried in the Islamic cemetery of Munshan Gulad Bagh( Mönchengladbach- Germany). He was buried with respect and hornor. (Inna Allah and inna ilahi rajiun)**

**Divine! You in your grace and mercy; May the late Samiuddin "Said Afghani" be forgiven, may his soul rest in peace and Jannah Firdaus be installed and bestowed on him. Amen or Lord of the worlds .**

**BY: Ashraf "Anwary"**
**April – 2025**

# فهرست او لړلیک


| شمیره | مطالب | پاڼې |
|---|---|---|
| ۱ | ـ د سمیع الدین « افغاني » د مړینې پنځم تلین په مناسبت .............. | ۱ ـ ۲ |
| ۲ | ـ د سمیع‌الدین « افغاني» ادبي اوفکري میراث:استاد تمهید «سیلاني» ....... | ۳ ـ ۴ |
| ۳ | ـ د دین، ادب او فرهنگ حقیقي خدمتگار!: قاضی نثاراحمد « مصلح » ....... | ۵ ـ ۶ |
| | **لومړی فصل**<br>**د سمیع الدین « افغاني » پیژندنه:** | |
| ۴ | ـ لنډ ژوند لیک ................... | ۷ ـ ۱۰ |
| ۵ | ـ کورنۍ شجره « مکمله نسبی سلسله ................... | ۱۱ ـ ۱۴ |
| ۶ | ـ د سمیع الدین « افغاني » د پلار« مولانا سعید افغاني » لنډ ژوندلیک ....... | ۱۵ ـ ۲۲ |
| ۷ | ـ د سمیع الدین « افغاني » د نیکه «غازي عبدالمجید » لنډ ژوند لیک ....... | ۲۳ ـ ۲۴ |
| | **دویم فصل**<br>**د سمیع الدین « افغاني » فکري سبک، کتابونه او آث ار:** | |
| ۸ | ـ شعر لیکنې او فکري سبک! ........................ | ۲۵ـ ۲۶ |
| ۹ | ـ لیکنې ........................ | ۲۷ |
| ۱۰ | ـ د وطن یادونه « د شعرونو لمړۍ ټولگه» ........................ | ۲۸ |
| ۱۱ | ـ پردیس خیالونه « د شعرونو دویمه ټولگه » ........................ | ۲۹ |
| ۱۲ | ـ زمونږ کلي او باندې« نثر» ........................ | ۳۰ |
| ۱۳ | ـ داغلي زړونه « د شعرونو دریمه ټولگه » ........................ | ۳۱ |
| ۱۴ | ـ د خاپوړو کلی او باندې ........................ | ۳۲ |
| ۱۵ | ـ شین خالی « ناول » ........................ | ۳۳ |
| ۱۶ | ـ پس از بازگشت « داستان کوتاه» ........................ | ۳۴ |
| ۱۷ | ـ نړېدلې جونگړې « د شعرونو څلورمه ټولگه» ........................ | ۳۵ |
| ۱۸ | ـ د سمیع الدین « افغاني » چاپ شوي آثار او کتابونه ........................ | ۳۶ |
| ۱۹ | ـ یاره ستا په اننگو کې « شعري کلیات » ........................ | ۳۷ ـ ۳۸ |
| | **دریم فصل**<br>**د سمیع الدین « افغاني » ویناوې او کتابونه ؛ مینه والوته!** | |
| ۲۰ | ـ ویناوې او د کتابونو ډالۍ په « هالند، جرمني، کابل، لغمان » کې .......... | ۳۹ ـ ۴۷ |
| | **څلورم فصل**<br>**د سمیع الدین « افغاني » یو شمیر کمپوزشوي او انتخابي اشعار:** | |
| ۲۱ | ـ د وطن پـه یاد ........................ | ۴۸ |
| ۲۲ | ـ بنجاره ماما ........................ | ۴۹ |
| ۲۳ | ـ میروم لغمان جان ........................ | ۵۰ |
| ۲۴ | ـ یاره ستا په اننگو کې « د مینې رنگ » ........................ | ۵۱ |
| ۲۵ | ـ افغان یمه زه ........................ | ۵۲ |
| ۲۶ | ـ پل دې بختورشه ........................ | ۵۳ |
| ۲۷ | ـ ناوکې ........................ | ۵۴ |
| ۲۸ | ـ دبرکلی گدر، ـ د گران افغانستان، ـ سجدې ، ـ د حسنونو سودا گـر، ـ یوښه فرصت ، ـ سره مزه کا ، ـ شنه بنگړي. ........................ | ۵۵ ـ ۶۱ |

| شمیره | مطالب | پاڼې |
|---|---|---|
| | پینځم فصل<br>د سمیع الدین « افغاني » ادبي مرکې: | |
| ۲۹ | ـ د « شرنگ » د خبریال ادبي مرکه ............... | ۶۲ ـ ۶۵ |
| ۳۰ | ـ د « اوښکې » ادبي مرکه .............. | ۶۶ ـ ۶۸ |
| ۳۱ | ـ د « زرلښت د ویبپاڼې » ادبي مرکه .............. | ۶۹ ـ ۷۴ |
| ۳۲ | ـ د « زرلښت ډاټکام » ادبي مرکه ............... | ۷۵ ـ ۷۹ |
| | شپږم فصل<br>د سمیع الدین « افغاني » په آثارو باندې لیکنې: | |
| ۳۳ | ـ یاره ستا په اننگوکښې ...!:پروفیسورعبدالله بختانۍ « خدمتگار» ....... | ۸۰ ـ ۸۵ |
| ۳۴ | ـ سریزه: څېړندوی حبیب الله « رفیع » ....... | ۸۶ ـ ۸۷ |
| ۳۵ | ـ د وطن یادونه: شاه محمود « حصین » ....... | ۸۸ ـ ۸۹ |
| ۳۶ | ـ شین خالۍ د سمیع الدین«افغاني» لیکنه: شهسوار« سنگروال» ....... | ۹۰ ـ ۹۱ |
| ۳۷ | ـ نالیدلی سمیع الدین« افغاني»: اجمل اټک« یوسفزی» ....... | ۹۲ |
| ۳۸ | ـ د سمیع الدین «افغاني» د شاعرۍ...: پوهندوی محمد داود« وفا » ...... | ۹۳ ـ۹۴ |
| ۳۹ | ـ د شین خالۍ کیسه د انځوریزې شاعرۍ...:نجم الدین« سعیدي» ....... | ۹۵ ـ ۹۷ |
| ۴۰ | ـ د سمیع الدین« افغاني» لیکل شوي اثار: فضل الرحمن« سیرت» ........ | ۹۸ ـ ۹۹ |
| ۴۱ | ـ یاره ستا په اننگوکي! دوکتورعبدالظاهر « شکیب» ........ | ۱۰۰ ـ ۱۰۱ |
| ۴۲ | ـ مینه پال شاعر: محترم استاد تمهید « سیلاني » ........ | ۱۰۲ـ ۱۰۷ |
| ۴۳ | ـ سریزه « نړیدلي جونگړې »: مصطفی « آرین » ........ | ۱۰۸ـ ۱۱۰ |
| ۴۴ | ـ داغلي زړونه: اغلې زرلښت حفیظ « بشریار» ........ | ۱۱۱ـ۱۱۲ |
| ۴۵ | ـ زه دویم یم : افضل « ټکور » ........ | ۱۱۳ـ ۱۱۴ |
| ۴۶ | ـ بازگشت : خانم مل ........ | ۱۱۵ |
| ۴۷ | ـ داغلي زړونه : د حق دلارې کلتوري ټولنه ........ | ۱۱۶ |
| ۴۸ | ـ نړیدلي جونگړه : د حق د لارې کلتوري مرکز ـ جرمني ........ | ۱۱۷ |
| ۴۹ | ـ دهیواد دوتلي شاعراو لیکوال «افغاني»: قاضي نثاراحمد « مصلح » ... | ۱۱۸ـ ۱۱۹ |
| ۵۰ | ـ خپلې خبرې: سمیع الدین « افغاني » ........ | ۱۲۰ـ۱۲۱ |
| ۵۱ | ـ خپلې خبرې: سمیع الدین « افغاني » ........ | ۱۲۲ |
| ۵۲ | ـ شین خالې او انځوریزه شاعري : سمیع الدین « افغاني » ........ | ۱۲۳ـ۱۲۴ |
| | اووم فصل<br>د سمیع الدین « افغاني » وفات، رسیدلي پیغامونه او فاتحه: | |
| ۵۳ | ـ وفات ...... | ۱۲۵ |
| ۵۴ | ـ د افغانستان دعلومو اکاډمۍ رئیس، پیغام ...... | ۱۲۶ |
| ۵۵ | ـ د لیکوال استاد تمهید « سیلانۍ » پیغام ...... | ۱۲۷ |
| ۵۶ | ـ لیکوال او شاعر سمیع الدین « افغاني » وفات شو: نن ټکی اسیا ...... | ۱۲۸ |
| ۵۷ | ـ تکړه شاعر افغاني صیب وفات شو: تاریخي افغانستان ...... | ۱۲۹ |
| ۵۸ | ـ د خواشینۍ او ډاډ گیرنې پیغام! ....... | ۱۳۰ |
| ۵۹ | ـ فاتحه، دعایه او د قران عظیم الشآن ختم په لغمان کې! ...... | ۱۳۱ |
| ۶۰ | ـ لتوم دی! شاعر نجم الدین « سعیدي » ....... | ۱۳۲ |

| شمیره | مطالب | پاڼې |
|---|---|---|
| | **اتم فصل<br>د سمیع الدین« افغاني » اشعار او افکار<br>« څېړنیز اوعلمي مونوګراف »<br>ترتیب کونکي: فاطمه « نیازۍ »** | |
| ۶۱ | ـ دسمیع الدین «افغاني»:« مونوګراف»: داکتر صلاح الدین« سعیدي» | ۱۳۳ |
| ۶۲ | ـ د پیل خبرې: .................... | ۱۳۴ |
| ۶۳ | ـ سریزه:« د موضوع موخه اوهدف، څېړنیز مېتود،د موضوع شالید» | ۱۳۵ ـ ۱۳۶ |
| ۶۴ | ـ د سمیع الدین « افغاني » لنډه پیژندنه: « کورنۍ شجره، زوکړه ...». | ۱۳۷ ـ ۱۴۰ |
| ۶۵ | ـ د سمیع الدین « افغاني » ادبي هڅې: .................... | ۱۴۱ ـ ۱۴۲ |
| ۶۶ | ـ د سمیع الدین « افغاني » شاعري او اثار: .................... | ۱۴۳ |
| ۶۷ | ـ چاپ شوي آثار :<br>« دوطن یادونه، پردیس خیالونه، داغلي زړونه، زمونږ کلي او باندې ،<br>د خاپوړوکلي او باندې، شین خالۍ ،پس بازګشت، نړیدلی جونګړې» .<br>ـ ناچاپ آثار :<br>« ـ پنځمه شعري ټولګه ـ د شین خالۍ ناول دویمه برخه ـ د سمیع الدین افغاني چاپ شوي اثار ـ د دري ژبې اشعارو ټولګه ـ کمپوز شوي اشعارو ټولګه ـ زمونږ کلي او باندې دویمه برخه<br>ـ غوره اشعاراونظمونه د منتخبو اشعارو لمړۍ دیوان ». | ۱۴۴ ـ ۱۵۰ |
| ۶۸ | ـ د سمیع الدین « افغاني » متفرق اثار: .................... | ۱۵۱ |
| ۶۹ | ـ د سمیع الدین « افغاني » د شعرونو فورم: ....................<br>ـ غزل ـ ردیف لرونکی غزل بیلګه ـ بې ردیفه غزل | ۱۵۲ ـ ۱۵۵ |
| ۷۰ | ـ مثنوي .................... | ۱۵۶ ـ ۱۵۹ |
| ۷۱ | ـ څلوریزه « رباعي » .................... | ۱۶۰ ـ ۱۶۱ |
| ۷۲ | ـ بولله (قصیده) .................... | ۱۶۲ ـ ۱۶۴ |
| ۷۳ | ـ څلوریز(مربع) .................... | ۱۶۵ ـ ۱۶۶ |
| ۷۴ | ـ چاربیته .................... | ۱۶۷ |
| ۷۵ | ـ ولسي(کلیوالي) مصرې .................... | ۱۶۸ |
| ۷۶ | ـ ازاد او نیمه ازاد شعرونه .................... | ۱۶۹ ـ ۱۷۰ |
| ۷۷ | د سمیع الدین « افغاني » د شعرفکر او محتوا: ....................<br>ـ حماسي ـ انتقادي ـ غنایي ـ دیني ـ اخلاقي | ۱۷۱ ـ ۱۷۷ |
| ۷۸ | د سمیع الدین « افغاني » شعري سبک: .................... | ۱۷۸ ـ ۱۸۲ |
| ۷۹ | د سمیع الدین « افغاني » په شعرونوکي ادبي صنعتونه:<br>« ـ تلمیح ـ مبالغه ـ ارسال المثل ـ سوال او ځواب ـ طباق او ......... | ۱۸۳ ـ ۱۸۷ |
| ۸۰ | د سمیع الدین « افغاني » او شعرونوته کره کتنه: .................... | ۱۸۸ |
| ۸۱ | ـ پایله: .................... | ۱۸۹ |
| ۸۲ | ـ وړاندیزونه: .................... | ۱۹۰ |
| ۸۳ | ـ مأخذونه: .................... | ۱۹۱ |

# یو ښه فرصت!

زه پــــه قلم د زمــانې برباد وختونه لیکم
رقیبه ستا د ناکـــردو بــد حالتونــه لیکم
زه د خلقت د رنګینو د راز او نیاز سره یم
د حقیقت د لارې مـل، نه چې مجاز سره یم

سمیع الدین « افغاني »

# بسم الله الرحمن الرحیم

# د سمیع الدین « افغاني » د مړینې پنځم تلین په مناسبت!

اروابناد سمیع الدین « افغاني »؛ په « ۱۳۹۹هجري شمسي ـ کال » د مرغومی پر ۲ نیټه، « د ۲۰۲۰ میلادي ، د دسمبر ۲۲ مه » ، د دې فاني دنیا نه سترګې پټې کړې او ځان یې حق تعالی ته تسلیم کړ.

« إنا لله وإنا إلیه راجعون »

سمیع الدین « افغاني » یو تکړه لیکوال ، خوږ ژبی او په هیواد او ولس مین شاعر وه چې د هغه شعري روش او فکری سبک یوه ځانګړی سبک او نوې تګلاره ده.

د افغاني صیب په لیکنواو شعرونو کې هم مطلب شته او هم پیغام ؛ هم جوهر لري ، هم احساس او هم خوند . هغه په ډیر اخلاص او صداقت؛ خلکو او وطن سره بې سارې مینه درلوده او د هغو دردونه او هیله یې په ډیر ساده او اولسي سبک او طرز، بیان کړي .

سمیع الدین « افغاني » مجموعاً شپاړس جلده « ۱۶جلده » شعري او نثري کتابونه او رسالی لیکلي چې لس جلده « ۱۰ جلده » چاپ او شپږ جلده « ۶ جلده » ناچاپ دي. همداسې د هغه دیرشمیر څیرنیزې علمي ، ټولنیزې، سیاسي مقالې او لیکنې یې د هېواد په مختلف رسنیو کې چاپ او خپرې شوي او یو شمېر شعرونه یې د هېواد د وتلو شاعرانو او لیکوالو په « علمي سیمینارونو » او مشاعرو کې د کلمه، او ښایسته ډیر شمېر د هغه حماسي شعرونه د هېواد د خوږ ژبو هنرمندانو په غږونو کې کمپوز شوي دي.

د یادونه خبره داده چې:
څو ورځی مخکې د افغاني صیب د مړینې څلورم تلین « د ۲۰۲۴ میلادي ، د دسمبر ۲۲ مه »؛ ما خوب می ولید چې خدای بخښلې افغاني صیب چې څو کتابونه او لیکل شوي آثاریې پر لاس کې وه، په ډیره خوشحالې زما خواته راغې او پس له ګرم روغبړ راته یې وویل:

زړګیه! دا زما کتابونه واخله او یو څه پرې ولیکه او ...
دا خوب لیدل زه په چرت کې غرق کړم او د هغه تعبیر په لټه شوم. نو تصمیم مې ونیوه چې ده اروابناد افغاني صیب کتابونه او آثارو چه ماسره په ارشیف کې موجود وه ، مطالعه کړم او بیا وروسته می د هغه د وطنی شعرونو تائیپ او نشرولو کار می په : « مولانا سعید افغاني د سولی او تفاهم نشراتی ارګان او نورو انترنیتي پاڼو کی » ، پیل کړ.

څه وخت روسته په دې فکر شوم ترڅو د افغاني صیب تمام کتابونه او آثار را ټول او یوه مجموعه تری ترتیب او تنظیمه کړم . نو همغه وه چه یو شمیر نور اسناد او معلومات مې د افغاني صیب د ځامنو له لارې په ځانګړې توګه: « سیر جان و ساحل جان » نه تر لاسه کړل او یو څه می د انترنیت پاڼو نه را ټول کړل، او دا دې « د سمیع الدین « افغاني » اشعار او افکار » تر نامه لاندی

دا کتاب مي په « ۸ » فصلونو او « ۱۹۱ مخوو » کی « د افغاني صيب لنډ ژوند، شجره، کتابونه او د يو شمير ليکوالان او شاعرانو کيکني د افغاني صيب په اثارو او ... » تايپ او ترتيب کړ.

د دې کتاب په اتم فصل کي مي د اغلي فاطمه « نيازئ » مونوګراف چي د افغاني صيب « لند ژوند ، اشعار او افکار» په هکله، په ډير عالي شکل ليکلي شوې دې، او د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي لخوا په کال « ۱۳۹۴ لمريز » چاپ ته رسيدلي دي ؛ په مکمل ډول ترلاسه ، تنظيم او د دې کتاب يوه برخه و ګرځوله.

په روستي برخه کي د محترم الحاج نجم الدين « سعيدي» ، محترم داکتر صلاح الدين « سعيدی» ، محترم استاد تهميد « سيلانئ »، محترم محمد اشرف « انوري »، محترم قاضي نثاراحمد «مصلح»، محترم استاد بکتاش « سعيدي »، محترم سير « افغاني » او محترم ساحل « افغاني » نه ډيرې مننې چه زما سره يې د دې کتاب په بشپړولو کی په ډير اخلاص د تصحيح ، تنظيم او د معلومات په را ټولو، د قدروړ لاربښودني او مرستې و کړې.

آې الله سبحانه او تعالى !

زما ناتوانه لاسونه د ستا د رحمت ، مهربان او ببښونکی لوې درگاه ته وچت دي!

ته رحم کوونکې يې .

ته ببښونکې يې .

لطفاً ؛ ته د خپل رحمت دروازې اروابناد سميع الدين « افغاني » ته خلاصې کړه ، اروايې ښاده او د فردوس جنت يې په نصيب وګرزوه.

امين يا رب العالمين

برهان الدين « سعيدي »

د اپريل مياشت ، د ۲۰۲۵ کال ـ جرمني

# د سمیع‌الدین « افغاني » ادبي او فکري میراث

« د سمیع‌الدین افغاني اشعاراو افکار» ترسرلیک لاندې دا ارزښتمن اثر، چې د برهان‌الدین« سعیدي» په علمي ذوق، ادبي ژمنتیا او ځېرنیز دقت ترتیب شوی دی، د معاصر پښتني ادب په ډګر کې یو درونډ، بنسټیز او تلپاتې تالیف بلل کېدای شي.

دا کتاب یوازې د یوه شاعر او لیکوال د ژوند او آثارو د خوندي کولو هڅه نه ده، بلکې د هغه د فکري، هنري او ټولنیز حضور یو منسجم، ژور او علمي انځور وړاندې کوي.

په دې اثر کې د مرحوم سمیع‌الدین « افغاني » د ژوند بېلابېل پړاوونه، کورنی، فرهنګي شالید، ادبي هڅې او فکري مسیر په داسې علمي توازن راټول شوي چې لوستونکی د یوه بشپړ ادبي شخصیت له جوړېدلو سره مخامخ کوي.

دلته ژوندلیک یوازې د پېښو تسلسل نه دی، بلکې د شاعر د فکري ودې، ارزښتونو او هنري درېځ د درک وسیله ګرځي. دا تګلاره د معاصرې ادبي څېړنې له هغو معیارونو سره سمون لري چې ادبي اثر د خپل ټولنیز او تاریخي متن په رڼا کې ارزوي.

د کتاب بله مهمه ځانګړنه د افغاني صاحب د ادبي او فکري میراث منظم، کره او هراړخیز معرفي کول دي. شعري ټولګې، نثري لیکنې، ناول او کیسې په داسې علمي موشګافی تشریح شوي چې د اثرپېژندنې او ادبي تاریخ د اصولو ځرګند انعکاس پهکې لیدل کېږي. په اثر کې د شاعر ټولنیز حضور، فرهنګي فعالیتونه او ادبي اغېز په ځانګړې پاملرنې سره راخیستل شوي دي.

ویناوې، فرهنګي غونډې او انتخابي اشعار دا ځرګندوي چې سمیع‌الدین « افغاني » یوازې د کتاب د پاڼوشاعر نه و، بلکې د ولس، وطن او انساني ارزښتونو ژور غږ یې له شعر سره یوځای کاوه. د هغه په شاعرۍ کې احساس، موسیقیت او ولسي رنګ داسې سره نښتي چې شعر یې د عامو او خاصو لوستونکو پر زړه اغېز کوي.

ادبي مرکې او پر آثارو لیکل شوې کره کتنې د دې کتاب علمي ارزښت لا پسې لوړوي. دا لیکنې نه یوازې د شاعر د ځان پېژندنې اسناد ګڼل کېدی شي، بلکې د بېلابېلو استادانو، څېړونکو او ادبپالو نظرونه د افغاني صاحب د شاعرۍ د څو اړخیز تحلیل لپاره یو غني فکري تومنه برابروي. د همدې ځانګړنې په درلودلو سره نوموړی کتاب له ساده تذکره نویسی څخه اوړي او د علمي ډیالوګ او انتقادي ب حث پر لور ګام ږدي.

د شاعر د وفات اړوند پیغامونه، غبرګونونه او فرهنګي اسناد د کتاب بله درنه برخه ده. دا مواد د یوه ادبي شخصیت د ټولنیز مقام، فرهنګي اغېز او درناوي کچه روښانه کوي او د معاصر افغان فرهنګي تاریخ لپاره د ارزښت وړ اسناد وړاندې کوي.

د اثر وروستۍ څېړنيزه برخه، چې د علمي مونوګراف بڼه لري، د کتاب اکاډميک اوج بلل کېدای شي. دلته د څېړنيز مېتود وضاحت، د شاعر د فکر اوسبک شننه، د شعري فورمونو، محتوا او ادبي صنعتونو منظم تحليل دا ثابتوي چې دا اثر د پوهنتوني څېړنو له معيارونو سره بشپړ توافق لري او د علمي ګټې اخيستنې لپاره پوره وړتيا لري.

په پايله کې، « د سميع‌الدين « افغاني » اشعار او افکار» د يوه شاعر د خاطراتي کتاب تر کچې ډېر لوړ ارزښت لري.

دا اثرد ژوندليک، ادبي متن، کره کتنې او څېړنې تر منځ يو متوازن، سنجول شوی او ادبي ترکيب وړاندې کوي او د همدې علمي پوخوالي او ادبي ژورتيا له امله د پوهنتوني استادانو، څېړونکو او د ادب لوستونکو لپاره يو ارزښتمن او د باور وړ اثر ګڼل کېږي.

درنښت

سيلانی

۲۸ جدي ۱۴۰۴
غالب پوهنتون ـ کابل

قاضي نثاراحمد « مصلح »

# الحاج سميع الدين « افغاني »
# د دين، ادب او فرهنگ حقیقي خدمتگار!

هغه کورنۍ چې د اسلام سپیڅلي دین سربېره، د ادب، فرهنګ او د ټولنیزو چارو مختلفو بر خو کې کلونه د خپل فکر او قلم له لارې انساني ټولنې ته خدمتونه کړي، د ویاړ و یادونې وړ دي.

هوکې: آروابناد سمیع الدین « افغاني » د دین، ادب او فرهنګ حقیقي خدمتکار چې د شعر او ادب په برخه کې خلاقیت، په شاعري او لیکوالي کې ځان ته تګلاره درلوده، « د ۲۰۲۰ میلادي ، د دسمبر ۲۲ مه » د دې فاني دنیا څخه سترګې پټې کړې او په حق ورسید. « إنا لله وإنا إليه راجعون» .

خدای بخښلي افغاني صیب که څه هم له هېواده څخه بهر « جرمني » کې ژوند کاوه، خو د ده فکر، حواس، او ضمیر د خپل دردېدلي ملت له حالاتو سره تړلی وه، د ده شعرنونه او لیکني د ادب مینه والوو لخوا په هره ناسته او خوښۍ کې زمزمه کیږي، او دا د پښتو ادب د بډاینې لپاره ارزښتناک میراث دی چې پرېښې یې دي.

افغاني صیب خوږ انسان وه، تل به ماسره په اړیکه کې وه، د خپلو أدبي فعالیتونو په آړه راسره مشورې او خبرې کولې، په چارو کې یې راته ښه مشورې را کولې، زه یې علمي ، فکري، او ادبي برخو زده کړو ته ډیر هڅولم، او تل به یې د وطن لپاره د خدمت د مثبت فکر روحیه را کوله.

یوه خوږه خاطره چې هېڅ مې نه هیریږي، او هغه د یادولو وړ ګنم داده چې؛ زما د کوژدې په خبر سره راته تیلفون کوي، په هغه ورځ یې را سره ډیرې خبرې وکړل، د مبارکۍ ترڅنګ ډیر سخت خوشحاله شو، ویې ویل چې : شکر « قاضی صیب » دغه آرمان مو هم پوره شوو...

افغاني صیب راته یې د خپل ژوند لوړې او ژورې، یعني له ماشومتوب تر ځوانۍ په دغه مرحله کې د مصروفیتونو، خوښیو، ستونزو انقلابونو او د خپلې دندې څخه د ځینو خوږو او ترخو خاطراتو په اړه کیسې وکړل، د مهاجرتونو په پیل او عواملو یې خبرې درلودې بیا یې راته ویل چې راځم اصل موضوع ته چې تاسو اوس د ژوند په یو نوی فصل کې خپل قدم کیښود دا چې تر دې وروسته کوم مسؤلیتونه په راتلوونکي کې به ولرئ، څنګه ژوند وکړې، څنګه مخکې لاړ شې، او کوم حقوق مراعات کړې دېته ورته نورې لازمي مشورې او لارښووني راته وکړل؛ او د ده لخوا د مبارکي یوه لیکنه چې د خپل له فیسبوک ادرس څخه یې نشر کړه پکې داسې لیکلی وه:

ګران او مستعد ملګري قاضي صیب نثار احمد « مصلح » ته د نوي ژوند مبارکی پیغام!

ځوان او مستعد قاضي صیب نثاراحمد « مصلح » نن د ۲۰۲۰ میلادي کال د دوشنبې ورځ د دسمبر د میاشتې ۲۸مه نیټه د ژوند نوی پیل او کوژدن شو، زه خپل نژدې دوست ، قریب او ملګري نثار احمد جان ته چې زما نژدې ملګری، دوست او همکار پاته شوي د هغه د نامزادي د زړه د کومې مبارکی وایم پل یې بختور شه او هغه ته د لوی خدای له درباره د ښه ، هوسا ، او روښانه سباوون هیله کوم مبارک موشه خوشاله اوهوسا ژوند مو په نصیب شه٠ په ډیره مینه. سمیع الدین «افغاني».

د خبرو په پای کې یې دا هم وویل چې ته اوس څو ورځې به بوخت یې کله چې وزګار شوې په فرصت سره کابل ته به لاړ شې او د محترم استاد تمهید « سیلانی » صاحب سره به وګورې، چې د شعری کلیات لخیره چاپ کړو دا چې څنګه ډیزاین او اماده شي، کومې ضروري نکتې په نظرکې ونیول شي.

ورته مې وویل چې: په دواړو سترګو ، ان شاءالله لاړ به شم، شته ټولې ستونزې به شریک او حل شي، دا چې دنیا فاني ده او انسان بیا پدې نه پوهیږي چې کله او چیرته له دغې فاني دنیا څخه ابدي کور او ژوند په لور روانیږي، کوم ارمانونه او پلان چې وي هغه ټول ترې نیمګړي پاتې او روان شي، همداسې و شول متأسفانه!

د افغاني صیب هغه ارمان یې کوم چې په ژوندون یې درلوده پوره نه شو!! مګر د درنې کورنۍ لخوا یې دا شعري کلیات چې نومې « یاره ستا په اننګو کي » دې ، په ډیر عالي د ډیزاین په کابل کې د دانش خپرندویه مطبعې لخوا په « ۵۱۹ » مخونوکې او عالی صحافت د چاپه ووت ، او د اروابښاد افغاني صیب هغه ارمان پس له مرګه یې ورته پوره کړ.






د ویاړ ځاې دی چه اوس نوی کتاب د افغاني صیب د څلورم تلین په ویاړ : « د سمیع الدین « افغاني » اشعار او افکار » چې په هغه کې د افغاني صیب أدبي شخصیت و پیژندنه: « لنډ ژوند ، کورني شجره، د کتابونه لنډ معلومات ، د لیکوالانو سریزې او لیکني د افغاني صیب په کتابونو او هم د اغلی فاطمه « نیازی» خور، مکمل مونوګراف د افغاني په هکله؛ چي مخکې مستقل چاپ ته رسیدلی؛ په عالي ډول ترتیب او تنظیم شوې هم دي، د دې کتاب چاپ به هم د اروابښاد « افغاني » صیب ارمانونه پوره او د ادب دنیا کې به یې ، لا ځلانده کړي.

په پای کې د الله تعالی له دربار څخه آروابښاد افغاني صاحب ته د جنت الفردوس هېله کوم، پر قبر یې انوار، او یاد یې تلپاتې وي.

قاضي نثاراحمد « مصلح »

اپریل ۲۰۲۵ میلادی کال
د ملا صفت کلی ــ لغمان

# لومړي فصل

## د سميع الدين « افغاني » پيژندنه:

| مطلب | شمير |
|---|---|
| ـ لنډ ژوند ليک. | ۱ |
| ـ کورني شجره « مکمله نسبی سلسله ». | ۲ |
| ـ د سميع الدين « افغاني » د پلار« مولانا سعيد افغاني » لنډ ژوند ليک. | ۳ |
| ـ د سميع الدين « افغاني » د نيکه « غازی عبدالمجيد » لنډ ژوند ليک. | ۴ |

# لنډ ژوند لیک!



سمیع الدین « افغاني » د مولانا استاد داکتر محمد سعید « سعید افغاني » ځوی، د غازي مولوي عبدالمجید « صافی » لمسی او د مولوی سید امیر صیب کړوسی دی، چی په کال « ۱۳۳۳» هجري شمسي د لغمان ولایت د عمرزیو د سیمي په خیراباد کلي کې ، زیږیدلی دی.

سمیع الدین د لغمان ولایت د حیدرخانیو په دهاتي ښوونځی او د مهترالمک ابتدایه ښوونځی کې یی لمړنۍ زده کړې کړي، او بیا وروسته د پیرروښان د عالي لیسې د دولسم ټولګی څخه فارغ شوې دی.

په کال « ۱۳۵۹ » هجري شمسي د لوړو او مسلکي زده کړو د ترلاسه کولو لپاره بهر ته واستول شو. او په « ۱۳۶۴» هجري شمسي کال په کورنیو چارو وزارت کی په کار پیل کړ، او د« ډګروالی » تررتبې رسیدلی دی.

سمیع الدین « افغاني » د پوهې، فرهنګ، شعر او د « پښتو و دری » ادب په ډګر کې یوتکړه لیکوال او خوږ ژبي شاعر وه ، چې ځان ته یې شعري سبک او شعري روش درلود او د هغه په شعرونو اولیکنیوکې « هیلې، دردونه، مینه، ارمانونه او ټولنیز او بشري رنګ » لیدل کیږي.

افغاني صیب د سولې، هوساینې او نیکمرغۍ تږی وه. د وطن د زوریدلي انسان په دردونو اوښکې تویوي، د کرکې ، نفرت او توپیر غوښتنې پر ځای د مینې او محبت اواز اوچت کړ . او په ښکاره ډول ثابت دی چه د ده شعر ، د ده نثر ، د ده لیکنه ، د ده خبری او د ده افکار د وطن، د سولی او د بشریت د خیر او سعادت په هکله دي او پدی لای کی « پښتو او دری » ژبوو ته ښکلا وربښلې ده.

سمیع الدین« افغاني »؛ شپاړس جلده « ۱۶جلده » شعري او نثري کتابونه او رسالی د خپل اوچت قلم له لارې په « پښتو او دري ـ فارسي » ژبو لیکلی چی لس جلده « ۱۰جلده » چاپ او شپږ جلده « ۶ جلده » ناچاپ دي. همداسی دهغه دیر شمیر څیړنیزې علمي، ټولنیزې، سیاسي مقالې اولیکنې یې د هېواد په مختلف ورځپاڼو ، مجلو ، رسنیو او انترنیتي ویب پاڼو کې چاپ او خپرې شوې دي.

د افغاني صیب یو شمېر شعرونه د هېواد د وتلو شاعرانو او لیکوالو په « علمي سیمینارونو » او مشاعروکې د کلمه، او یو شمېر نوریې د هېواد د خوږ ژبو هنرمندانو په غږونوکې کمپوز شوی دي، لکه : « زه افغان یم ، پل دې بختور شه ، همت ، دا افغانستان دې ، بنجاره ماما ، یاره ستا په اننګو کې ، میروم لغمان جان ، د وطن په یاد، د برکلي ګودر ... » او ډیر نور چې زمونږ د هېوادوالو د پاملرنې وړ ګرځېدلي دي.

## چاپ شوي آثار:

ـ د وطن یادونه « د شعرونو لومړۍ ټولګه ».
ـ پردیس خیالونه « د شعرونو دویمه ټولګه ».
ـ زمونږ کلي او باندې « نثر ».
ـ داغلي زړونه « د شعرونو دریمه ټولګه ».
ـ د خاپوړو کلی او باندی .
ـ شین خالی « ناول ».
ـ پس از بازګشت « داستان کوتاه ».
ـ نړېدلي جونګړې « د شعرونو څلورمه ټولګه ».
ـ د سمیع الدین « افغاني » چاپ شوي اثار او کتابونه.
ـ یاره ستا په اننګو کی « شعري کلیات ».































## ناچاپه آثار:

ـ غوره شعرونه او نظمونه « د شعرونو دیوان » .
ـ پنځمه شعري ټولګه
ـ د شین خالی ناول دویمه برخه
ـ د دري ژبې اشعارو ټولګه
ـ کمپوز شوي اشعارو ټولګه
ـ زمونږ کلي او باندې دویمه برخه

الحاج سميع الدین « افغاني » په « پښتو ، دري ، روسی او الماني » ژبو تسلط درلود، واده يې کړی او پېنځه اولاده هريو: « سمير ، سير، سکندر، سلما او ساحل » لري.



برهان الدین « سعیدی» د سمیع الدین « افغاني » ځامنو سره هريو:
سمیر « افغاني ، سیر « افغاني » او سکندر « افغاني »

سمیع الدین « افغاني » په کال « ۲۰۱۹» میلادي کې د کعبې شریفې زیارت ته مشرف شوو او د حج مراسم يې ادا کړ.



انځور کې : نجم الدین « سعیدی » ، سمیر « افغاني » ، امین الدین « سعیدي » ، رفیع الدین « سعیدی» او سمیع الدین « افغاني » . د برول ښار ــ جرمني



افغاني صيب د حج په مراسوموکې
د ۲۰۱۹ میلادی ــ کال

سميع الدين « افغاني » د اوږدې مودې ورپېښې ناروغۍ له کبله په « ۱۳۹۹ هجري شمسي کال د مرغومی پر ۲ نیټه » مطابق « ۲۲ دیسمبر ۲۰۲۰ میلادي - کال » د هغه مهربان زړه د فعالیته ودرید او په روغتون کی په حق ورسید. إنا لله وإنا إلیه راجعون

د اروابناد سمیع الدین « افغاني » جنازه په سبایی « ۲۳ دیسمبر ۲۰۲۰ میلادي - کال » د جرمني هیواد ، د مونشن ګلاد باخ ښار اسلامي حضیره کې خاورو ته وسپارل شو. جنازې او دعایه کې یې ګن شمیر لیکوالانو، شاعرانو او دوستانو ګډون کړاې وه.








اې الله سبحانه او تعالی!
ستا مقدس درګاه ته مي لاسونه وچت کړي.
ته په خپل مهرباني او رحمت؛ اروابناد سمیع الدین
« افغاني » وبخښه، اروایې ښاده اوجنت فردوس یي
په نصیب کړي.
امین یا رب العالمین

# کورنۍ شجره « مکمله نسبی سلسله »

اروابناد سمیع الدین « افغاني » د مولانا دوکتور محمد سعید « سعید افغاني » دریم زوی، د غازي مولانا عبدالمجید « رحمة الله علیه » لمسی او د مولوي سید امیر صیب کړوسی دی او د کورنۍ شجره « مکمله نسبي سلسله » په ترتیب:

« صالح، مولوی اقامحمد ، ملا شیر محمد ، لنګرخان ، پاینده محمد ، مولوی خیرالدین او ملا محمد عمر بابا « ساپی ـ صافۍ » ته رسیږي .

البته باید وویل شي چې : ملا محمد عمر بابا « ساپي » درې زامن درلودل :

۱ـ مولوي خیرالدین : د هغه اولاده مشهور په « خرین زائي » دي.

۲ـ مولوی عبدالمحمد: د هغه اولاده مشهور په « ادوخیل» دي .

۳ ـ برهان الدین: د هغه اولاده مشهور په « برهان خیل » دي.

## د لغمان ولایت په عمرزیو منطقه کې؛ صافیان څوک دي:

په لغمان ولایت کې اوسیدونکی قامونه او پرګنی؛ په مجموع ډول « شیږ دیرش » ته رسیږي لکه : « ساپی ، سهاک ، تره خیل ، رستم خیل ، خروټی ، عبدالرحیم زي ، هودخیل ، جبار خیل ، تره کی ، پشه ئي، هزار میښ ، میچن خیل ، ناصر، اکاخیل ، دیګان « دهکان »، محمد زي، ریکا ګان، عمرخیل ، وریا خیل ، وردګ ، تاجک ، میرعلی خیل ، نیازي، اړوکي ، الکوزي (الکوځي) ، سادات، لطف الله خیل ، نورستاني ، درګي ، علی خیل ، ابراهیم خیل ، محمد خیل ، خیرو خیل ، قولان او اهل هنود » دي. چې پدې لیکنه کې د صافیانو په هکله لنډ معلومات داسې دي .

د صافیو قوم د لغمان د عمرزیو منطقه کی ؛ په درې پلرونو تقسیم شوي دي.

۱ـ د خیر محمد بابا اولاده ده چه د خیر اباد کلي یی مرکز دې او لاندی ریشی لري : « پایه خیل ، یاسین خیل ، تورخیل ، ایاز ۰» .

۲ـ د عبدالمحمد بابا اولاده چه په « ادو خیلو» مشهور دي.

۳ـ د ابراهیم بابا اولاده چه په « ابرهیم خیلو» یادیږي.

اوس په عمرزیی کی د خیر محمد بابا اولاده ډیره ده . دغه خلک زړور، جنګیالي، او په میړ انې شهرت لري . دوی میلمه پا لو نکي او په پښتني ننګ او غیرت ټینګ خلک دي.

مأخذ: په لغمان کی اوسیدونکي قامونه او پرګني : د مولانا داکتر محمد سعید « سعید افغاني » لیکنه.


شجره ملا محمدعمر بابا « ساپی »
مولوی خیر الدین
د مولوی خیر الدین اولاده مشهور په
« خرین زائی »
مولوی عبدالمحمد
د مولوی عبدالمحمد اولاده مشهوریه
« ادوخیل »
برهان الدین
د برهان الدین اولاده مشهور په
« برهان خیل »
پاینده محمد
مولوی محمد یاسین
محمد عیسی
نور محمد
لنگر خان
سلطان محمد
ملا شیر محمد
مولوی آقا محمد
محمد نظر
فتح محمد
ملک محمد شریف خان
حاجی جمعه گل
انجینرتنگیالی
صبورالدین
انجینرظهورالدین
لوآ مشر سراج الدین
مرحوم محمد شریف
حاجی غوث الدین
حاجی جمال الدین « شمس»
عبدالظاهر
سراج الدین تسل
معراج الدین شمس
سراج الحق شمس
جنرال حاجی عبدالقاهر
عبد الظاهر « توریالی »
سحر
سنگر
غلام دستگیر
صالح محمد
حاجی محمد یونس
غلام دستگیر گران
حیات الله
ملا سید امیر
حاجی غلام حضرت
اورنگزیب
شاه جهان
غازی مولانا عبدالمجید
« رحمة الله علیه »
محمد اصف
احسان الحق زوندون


غازی مولانا عبدالمجید « رحمة الله علیه »
مولانا داکتر محمد سعید « سعید افغانی »
Maulana Dr. Muhammad Said Said Afghani
خارنوال عبدالقدیر
فضل الربی
داکتر سید امیر
عبدالله
مرحوم عزیزالله
قاضی نقیب الله « نقیب »
داکتر فخرالدین « سباوون »
احمد مسیح
خیبر«سایئ»
مرحوم پامیر
عتیق الله « نقیبي»
عبدالمجید « نقیبي»
روح الله نقیبی
مولانا دوکتور محمد سعید « سعید افغانی » (سعیدی)
Maulana Dr. Muhammad Said Said Afghani
بی بی خلیقه
Qaleka
ملکه
معراج الدین
سراج الدین
وزمه
حمیرا
مینا
نجم الدین « سعیدی »
Najmoddin Saidi
نجیب الله
صدیق الله
آرزو
یوسف الله
سمیع الدین « سعیدافغانی »
Sameuddin Said Afghani
سمیر
سیر
سکندر
سلما
ساحل




**مأخذ: د مولانا « سعید افغاني » د سولې او تفاهم نشراتي ارگان نـه:**

# د سمیع الدین «افغاني » د پلار
# « مولانا سعید افغاني » لنډ ژوند لیک!



مولانا استاد دوکتور محمد سعید « سعید افغاني » زمونږ د هیـواد مشهور عـالم ، لیکوال ، مـولف، استاد او اجتماعي شخصیت و چه تل یې د سولې ، تـرقي ، ورورې ، برابري او تفـاهم لپـاره مبارزه کـوله ، د دی نومیالـي پوه درونډ نوم هم په وطن کښې او هم د نړۍ په نورو هیوادونـو کښې خپور او مشهور دې.

محمد سعید په کال « ۱۳۰۰ هجري شمسي» مطابق « ۱۹۲۲ میلادي » کې د لغمان ولایت د خیر آباد په کلي کې ژونـد ته سترګې پرانیستي ، هغه د خپل د پـلار مولانا غازي عبدالمجید « رحمة الله علیه » چه د خپل وخـت له مشهور مجاهدو، مـدرسانو او هـم د لغمان ولایت د تیرګـړیو د جامع جـومات خطیب او د تصوف د مشهور و مشایخوۀخه وو، اوهم د نورو مخورو روحانینو څخه، خپلې لو مړنې زده کړې وکړې او هملته ښایسته ښه ملا شوو.

وروسته بیا محمد سعید د کابل د عربي دارالعلـوم ته شامـل شـو ، کله چه په « ۱۳۲۵» هجري شمسي کال د دغې مدرسی نه فارغ او په سریې د مولوي توب پګړې و تـړله شوه ، سمدستي همد لته د استاد په حیث « کادر علمي » مقرر شو، او هلته یې د « سعید افغاني » تخلص ځان ته انتخاب کړ او بیا د ننګرهـار د نجم المدارس د مدیر په حیث و ټاکـل شوو.

مولوي محمد سعید افغاني ، لس کاله د نجم المدارس د مدرسي مدیریت کړې او د ننګرهار د اد بي شاعرانه ویښ چاپیر یال د هډې په تاریخي کلـي کښې او سیدلې دی ، چیرته چه د هیواد د مشهور عالم مولانا نجم الدین اخونزاده ( هډې صاحب ) مزار دې.

مولوي سعید افغاني د مدرسی شاګردان لیکوالي ، شعر او ادب ته هم تشویقول او هغــوې روزل . د د ه په توجه او پالنه به د ننګرهار د ورځپاڼې او مجلــې پاڼی د نجم المدارس د شاګــردانو او استادانو په مقالو او شعرونو ډکیدلې. په دغه وخت کښې مولوي سعید افغاني د ( النجم ) په نامه ، د مدرسی لپاره ، په پښتو ژبه ، یوه قلمي جریده هم چلوله چه مسولیت یې د ده په غاړه و. چې د دی جریدي لو مړی ګڼه د ( ۱۳۳۷ هجري شمسي ) کال د میزان په ۳۰ مه خپره شوې ده . دا ګڼه او ځینې نورې ګڼې یې هم دا اوس زمونږ په لاس کښې دي او د قلمي جریدو ډیر ه ښه بیلګه ده .

سعید افغاني وروسته د ننګرهار نه د کابل حبیبیې لیسې ته د دیني علومو ښوونکي په حیث را بدل شو. دلته یې هم د « اخلاق » په نامه د نوموړې لیسی لپاره قلمي جریده لیکله. هغه به د « النجم » او « اخلاق » د جریدو زیاتره مضمونونه پخپله لیکل او نورې لیکني به یې هم له نظره تیریدلې .

که مونږ د دغو دوارو جریدو نومونو ته ځیر شوو ، نو له هغو نه هم د هغو د مسوؤل مدیر او موسس د نظر دقت ځرګند یږي. په « النجم » کښي دهدی اخوندزاده صاحب مولانا نجم الدین د نامه او شخصیت یاد تازه کیده او په « اخلاق » کښي د کابل ښار په چاپیریال د لیسی د زده کوونکو ځوانانو اخلاقي روزني او پالني ته د سعید افغاني توجه او عنایت ثابتیږي.

سعید افغاني په « ۱۳۴۲ هجري شمسي » کال مصر ته ولاړ او تر« ۱۳۴۷ هجري شمسي » کاله پوري په « جامة الازهر » کښي د فلسفي او الهیاتو په زده کړه بوخت و، او څه موده په قاهره کی د پښتو رادیو یی خپرونو نطاق او آمر هم وو.
سعید افغاني همدلته یی د هیواد تاریخ نړیوالو او عربي نړي ته پراخه ور معرفي کړ او خپله یی هم د عربي نړی له هغو آثارو څخه چی د افغانستان او افغاني شخصیتو نو په هکله لیکل شوي وو خپلی تاریخي ځیرني مخته بو تلي .
سعید افغاني په ( پښتو دري او عربي ) ژبو آثار ولیکل او په هغو دوو مشهورو آثار و سره چی د سید جمال الدین افغان او خواجه عبدالله انصار په هکله یي په عربي ژبه ولیکل دغو دو ځانګړو افغاني شخصیتونو ته چي یویي د سیاست او فلسفي د ډګر وتلي شخصیت و او بل یي په تصوف کي ځانګړي مقام در لود تلپاتي والي و با ښه ، او په خاص ډول هغه د اسلام دین چه د « عشق ، محبت ، عاطفي ، صلح او سلم » پر بنیاد ؛ اسماني دین دی ، بشریت ته ور معرفي کړ.

سعید افغاني د خداي استعداد په اساس په څلورنیمو کالو کي د الازهر پوهنتون څخه « ماستري و دوکتورا » واخسته اوخپل ګران وطن ته : ( مولوي ولاړ او دکتور راستون شو ) .

محترم فضل الرحمن « فاضل » د افغانستان پخواني لوئ سفیر په مصر هیواد کی داسی لیکلي دي:




لکه چي پوهیږو د شلمي پیړی په دویمه نیمایي کښي ، افغانستان د ازهر پوهنتون ته محصلین د زدکړو لپاره لیږل پیل کړل، که په دقیقه توګه د هغو محصلینوترمنځ بررسي ترسره شي ، د همغه محصلینو په ډله کښي د دکتور محمد سعید افغاني نوم په سرکښي راځي، چي د زدکړی په وخت کښي پدې هیواد کښي په عربي ژبه د ده لیکنی هم چاپ شوي

د لیږل شوي محصلینو ترمنځ ځیني نومورهم شتون درلود چي وروسته د افغانستان په سیاسي او علمي ډګرونو کښي ښه و ځلیدل چي پوهاند غلام محمد نیازي، استاد برهان الدین رباني، استاد عبد رب رسول سیاف، حضرت صبغت الله المجددي ، پوهاند عبدالسلام عظیمي، پوهاند وفی الله سمیعي، محمد موسی شفیق، محمد صدیق سیلاني، عبدالقیوم رهبر، سیف الرحمن سایف، عنایت الله رشید، پوهاند محمد کبیر، پوهاند غلام صفدر پنجشیري، جوهر صدیقي، پوهاند نعمت الله شهراني،

ډاکټرسیدجان بیان، محمد ګلاب بشار، پوهاند عبدالعزیز، پوهاند غلام محی الدین دریز او په لسګونو نور چې د خپلې دورې لایق محصلین ؤ. د دې څلیدلی کسانو په جمله کښې راځي، مګر دخپلې تحصیلي دورې په موده کښې چې په مصر کښې اوسیدل د عربي او مصري مخاطبانو ترمنځ يې د خپلو آثارو او تالیفاتو نشر کولو ته پاملرنه ونه کړه.



محصلین افغانی پوهنتون اسلامی
الازهر جمهوری عربی مصر
مورخ : روز شنبه « ۱۷ سپتمبر سال ۱۹۶۶ »





دوکتور سعید افغاني کله چې خپل وطن ته راستون شو لومړې د عالي دارالمعلمین د استاد په توګه دنده تر سره کړه او بیا ورسته د کابل پولي تخنیک ته ولاړ. هغه د استادي په وخت کې د ځوانو محصلانو او استادانو له ځانګړي احترام څخه برخمن ، او هغوی ته به يې د ژوند او مبارزې په هکله د ارزښت وړ مشورې ورکولې ، د ده تو لنیز شخصیت دومره اوچت و چې آن دښمنان يې هم د ده په وړاندې سر ټیټولو ته مجبور وو .

استاد سعید افغاني د محصلانو او استادانو د دموکراتیکو مبارزو له لړې سره د خپل دیني او مذهبي مقام له ساتلو سره سم یو ځای شو او همدلته د کابل پوهنتون د استادانو له خوا دهغه وخت د استادانو د اتحادیي غړې او بیا د عالي شورا د مرستیال په توګه انتخاب شوو.



استاد سعید افغانی واتحادیه استادان ومحصلان پوهنتون



استاد سعید افغانی با شاگردان لیسه حبیبیه شهر کابل

استاد سعید افغاني د استبداد ، ظلم ، رشوت ، سود خورې ، بی عدالتي ، ورانکاري ، فسادونو او نور و و مظالمو پر ضد يې ټینګه ملاتړې وه ، او مهمه دا چې د ځوانانو په مظاهرو او میټنګونو کې يې ویناوې کړیدی او مقالی يې لیکلي دي .

محترم سرفراز « مومند » د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځی استاد او د استادانو د اتحادیي منشي په خپله خاطره کې داسی لیکلي دي.
( جلسی روانی وې ، تضادونه عمیق کیدل او بالاخره یوه جلسه دومره هیجاني شوه چی نژدې وه چی د استادانو اتحادیه چی د استادانو د صنفي ګټو یوا ځنی ربښتني مدافع وه جوړه نشي او غونډه ړنګه شي او دغه کلاس حق او دیموکراتیک غوښتنه په ځای پاتی شي.
درست په دغه لحظه کي استاد سعید افغاني چی د پولیتخنیک د بی طرفه استادانو ځخه ؤ او د پوهنتون اکثره استادانو کی د ټاکلی احترام ځخه بر خورداره ؤ ، یوه ثابته بیانه ایراده کړه ، استادان یی اتحاد او اتفاق ته را وبلل ، صنفي هدفونه او سیاسي هدفونه یی لنډ توضیح کړل ، هیله یی وکړه چی صنفي غوښتنې د سیاسي غوښتنو ځخه بیلی کړي ، استادان یی په ډیر ارام او متانت سره دغه عظیم مسؤولیت ته متوجه کړل چی که دا اتحادیه جوړه نشي نو یوه نه بخښونکی تاریخي اشتباه به مو کړې وي او راتلونکي به په مونږ لعنت وایی .
پرلپسې چکچکو د غونډې سکوت مات کړ، دغه بیانیې په ټولو استادانو ښه تاثیر و کړ ، جلسې دوام وکړ او په نتیجه کې په یو ټا کلی پروګرام د اتحادیي انتخابات وشول ، اتحادیه جوړه شو، چې دارلانشایي پدی ډول و ټاکل شوه.

۱ـ استاد فضل الربی « پژواک » د اتحادیي د ریس په توګه.
۲ـ استاد سعید افغاني د اتحادیې د معاون په توګه .
۳ـ سرفراز« مومند» د اتحادیي د منشي په توګه .
۴ـ داکتر پشتونیار « د ننګرهار پوهنتون ځخه» د اتحادیې د منشي په توګه.
د دی نه وروسته زما د استاد سعید افغاني سره د استادانو د اتحادې په اساس روابط پیدا شول ، ډیر وخت به مو د اتحادې په باره کی او د استادانو د صنفي غوښتونو په ارتباط خبری کولې ، ما د هغه د خبرونه استفاده کوله او زیات احترام می ورته پیدا شو.)

واقعیت دادې چې د روحانیت په مقام کې داسې اشخاص لکه د علامه سعید افغاني ، په ځیر مونږ ډیر کم پیژنو ځکه دې هم عالم و هم روحاني ، هم ملا و او هم خطیب ، هم سیاست مدارو او هم پخپله لیاره کې ریښتني ، هم په فلسفه کی وارد و او هم په الهیاتو کي ، ده هم په دیني علوم کې لاس درلوده او هم په اجتماعي علوموکې، دې هم محقق وو او هم ژورنالیست ، لنډه دا چې ده خپل رول د یو واقعي افغان او واقعي مسلمان په حیث په نړیواله سطح کې ولو با وه ، او هم پیشقدم وو.

مولانا سعید افغاني د کورني او بهرني سولی ته ډیر ه زیاته توجه در لوده ، ده د سولي د ټینګښت په خاطر ډیری زیاتی مقالي ، موعظي ، دیني مضامین ، کتابونه او رسالی لیکلي دی، چی هریو یی د ډیر زیات ارزښت لرونکي دې.
ډاکتر سعید افغاني عالم وو ، او عالمان ور باندی ډیر سخت ګران وه ، او عالمانو ته به یی همیشه داسې خطاب کاوه : سوله تبلیغ کړې ، ورور ګلوی تبلیغ کړې ، د انسان انسانی کرامت تبلیغ کړې ، فقر ، فلاکت ، دربدري ، بی عدالتي ، لوږه ، بی کوري او اجتماعي مظالم چی اصلاً د اسلام مبین دین یی په کلکه غند نه کوي، د اسلام له نظره و ځیرې او اضرار یی ټولو مسلمانو او زیارایستونکو هیواد والو ته، روښانه کړې.

دی پدی عقیده و چې : مـلا امام ، خطیب او نور دیني او مـذهبي مسوولین د نورو هیواد والو په وړاندی ډیر درانده مسوولیتونه لري ، را پیدا شوي ستونزی باید عالمان او روحانیون په مبتکر رانه توګه تشریح او توضیح کړي.

مولانا استاد سعید افغاني له بشري تولني سره له هر ډول تو پیر او تبعیض پر ته، مینه درلـوده او د نړې والي سولئ یو پیژنـدل شـوې مبـارز وو ، ده نه یـواځې په زیاتو نړیوالو هـغو سیمینارونـو کې بـرخه واخیسته چې سولئ ته وقف شوې وه، بلکه ده د قلم په وسیله هم د صلح آرامش ، حسن تفاهم او عدم تشدد ؛ لیکوال او مبارز شوو او پـې دی مبارزی کـې یی د ابـوعلي ابـن سینا زرمي کـالیزي په مناسبت ، جـایزه « طلائي مدال » تـر لاسه کړ.



مولانا استاد داکتر محمد سعید « سعید افغاني »
د ابـوعلي ابـن سینا زرمي کـالیزې جایزه تـرلاسه کړه



مولانا سعید افغاني آن د رواني پیرې ځلورمی لسیزې په پیل کی ځانګړې هڅځ وکړی چې په هیواد کې د ملي یووالـي لپاره د یو پراخه ملي جبهي ضرورت خلکو ته په ګوته کړل او هغه د یو داسي تـولنیز پر مختک او ټولنیز بدلون سره چې د بې عدالتیو کمپله تولږ کړې مینه درلوده ،

په همدئ وجه و چې په کال « ۱۳۵۲ هجري شمسي » کښې د قضا عـالي شـورا غړې او ورپسئ د تمیز دعالي محکمي رئیس ( قاضي القضات ) شـو، وروسته د اسلامي شئونو وزارت په راس کې وټاکل شو، او بیا د وخت د ملی جبهي مرستیال او هم د علما او روحانینو عمومي مشر شوو.

سعید افغاني د اوه دیرش « ۳۷ » جلده کتابونه او د « یونیم زرونه » زیات مذهبي ، فلسفي ، تصوفي ، اجتماعي و ادبي مقالي لیکلي چه په خاص ډول دي « انیس ، هیواد، پامیر، کاروان ، ننګرهار ، پیام حق و قضا » په روز نامو او مجلو کې خپرې شوي دي.













## د مولانا داکتر « سعیدافغاني » چاپ شوي آثار او تآلیفات:

| شمیره | د کتاب نوم |
|---|---|
| ۱ | ـ شیخ الاسلام عبدالله الانصاري الهروي: په عربي ژبه ، چاپ 1967 کال. |
| ۲ | ـ نابغة الشرق سیدجمال الدین الافغاني : په عربي ژبه چاپ 1967 کال . |
| ۳ | ـ د شرق نابغه سیدجمال الدین افغاني : په پښتو ژبه ، چاپ 1355 کال. |
| ۴ | ـ الاشارات و التبهات ابن سینا: په پښتو ژبه ، چاپ 1359 کال . |
| ۵ | ـ خلاصه اندرزها و نصایح سودمند برای ستاژیران قضا : د ۱۳۵۴کال چاپ. |
| ۶ | ـ تفسیر: د یولسمو ټولګیو د لپاره : په پښتوژبه ، کال « ۱۳۶۰هجري شمسي» . |
| ۷ | ـ تفسیر : برای صنف ۱۱ لیسه ها : په دری ژبه ، کال « ۱۳۶۰هجري شمسي» . |
| ۸ | ـ عقاید : درسي کتاب. |
| ۹ | ـ منطق : درسي کتاب. |
| ۱۰ | ـ اساسات اسلام به نګاه علم و فلسفه : د دارالمعلمین 13 صنف لپاره. |
| ۱۱ | ـ اساسات اسلام از نګاه علم و فلسفه: د دارالمعلمین 14 صنف لپاره. |
| ۱۲ | ـ مختصر تاریخ افغانستان و دول متمدن اسلام : پولیتخنیک کابل . |
| ۱۳ | ـ کلتوراسلام از نګاه علم و فلسفه، په دري ژبه : د 1349 کال چاپ. |
| ۱۴ | ـ و الصلح خیر، صلح و آرامش از دیدګاه اسلام : د 1362 کال چاپ. |
| ۱۵ | ـ محمد« ص » رهبربزرګ اسلام : د 1363 کال ـ چاپ. |
| ۱۶ | ـ پلاروطنه ملی جبهه او یا دلته د تولنیزوستونزو د حل لار: د 1362 کال چاپ. |
| ۱۷ | ـ خطر جنګ هستوي : په دري ژبه ، د 1362 هجري شمسي ـ کال چاپ. |
| ۱۸ | ـ طبیب بګو مرضم چه و چاره چیست ؟ په دری ژبه ، فبروري « ۲۰۱۰» میلادی کال. |
| ۱۹ | ـ مبادي اسلام : د ۱۳۶۹ کال ـ چاپ. |
| ۲۰ | ـ زندګي مسلمانان: په دري ژبه د کال 1363 چاپ. |
| ۲۱ | ـ د نجات او کامیابي لپاره دعلم او فلسفي له نګاه: د 1370 کال چاپ. |
| ۲۲ | ـ افغانستان ، تاریخاً و حضارتاً و کفاحاً : په عربي ژبه ، ناچاپ. |
| ۲۳ | ـ اندرزونه « غورې ویناوې » : په پښتو ژبه ، ناچاپ. |
| ۲۴ | ـ آداب قاضي : په دري ژبه. |
| ۲۵ | ـ العقیده الاسلامیه وآرا المعتزله والاشاعره والماتر یدیه و اختلافاتهم: ناچاپ. |
| ۲۶ | ـ اندرزونه « نصایح سودمند » : په دري ژبه ، ناچاپ. |
| ۲۷ | ـ در باره ادیان و دین اسلام : په دري ژبه ـ ناچاپ. |
| ۲۸ | ـ اخلاق و فلسفه : په دري ژبه ، ناچاپ. |
| ۲۹ | ـ امراض روحي و معالجه آن : ناچاپ. |
| ۳۰ | ـ الاخلاق و التصوف: په عربي ژبه ، ناچاپ. |
| ۳۱ | ـ سفر : د ۱۹۸۲میلادي ـ کال ، ناچاپ. |
| ۳۲ | ـ ارکان ، شرایط و احکام نکاح : ناچاپ. |
| ۳۳ | ـ حاکمیت انقلابي : نا چاپ. |
| ۳۴ | ـ تعبیر : په پښتو ژبه ، ناچاپ. |
| ۳۵ | ـ د باختر اطلاعاتی اژانس مطبوعاتی مصاحبه : د ۱۳۴۷ کال ـ ناچاپ. |
| ۳۶ | ـ انقلابی افکار ، هڅی او هیلی : ناچاپ. |
| ۳۷ | ـ زما ژوند : ناچاپ. |

محترم انجینر محمد رحیم « یوسفي » د اروابناد مولانا « سعید افغاني » په هکله په خپله خاطره کې داسې لیکلي دي:

« د کابل په دولتي مطبعه کې د مولانا سعید افغاني وروستي کتاب د چاپ لاندې ؤ ، یو دوه و رځې و روسته ډاکتر صاحب تیلفون وکړ تر څو د کتاب پروف د ځانه سره د تصحیح لپاره دغه روغتون ته یوسم او هغه دواړه تصحیح کړو.



دوکتور سعید افغاني دناروغی په بستر کښي

زه د څلورسوه بسترایز روغتون دریم منزل ته وختم د وخت څلور سوه بسترایز روغتون چهارایز قوماندان داکتر ولایت حبیبي چې زما په گومان د قلب یا د زړه د ناروغي متخصص په ؤ د ده په دروازه کې ولاړو و د ړوغیرنه وروسته ئې راته وویل: ډیر تگ او راتگ مه کوې، د اسې د مرگ مریض دې شاید ډیر وخت په پکې هم نه وې !!
ما ورته کړل چې:
پوښتنه خولاڅه چې ما د هغه د نوې کتاب پروف ورته راوړې ترڅو هغه تصحیح کړو. ډاکتر حبیبي زما په خبره و خندل او راڅخه ولاړ خو دومره ئې وویل چې : که دا سړې نه مړکیږې، خو بیا هم ځان وژني !
زه د ډاکتر سعیدافغاني د بستر کوټې ته داخل شوم ، دهغه په سینې پورې مزې تړلې او ماشین چالان ؤؤ چې ما ورسره دهغه د نوی کتاب پروف ولوستل او ترې را رخصت شوم .
زه لا دفتر ته نه وم رسیدلي چې حضرت عزرائیل « ع » د ده روح قبض او د د دې فاني دونیا څخه ئې د « ۶۳ » کلونو په عمر رحلت کړې ؤ .

مولانا داکتر سعید افغاني د ۱۳۶۳کال ، د حوت په او ومـه « د ۱۹۸۵ د فبروری ۲۵ مه » د افغانستان د طبي علـومو اکـادمي په رغتون کښې ؛ مهـربان ، خواخوږی او تېاند زړه و درید او په سبایئ د مرحوم مولوی صیب جنازه ؛ په خاصو مراسمو کښی د « دولتي شخصیتونو، د کابل د ښارعلماء و ، روحانیونو ، لیکوالو ، استادانو ، شاگردانو، د اسلامي شئونو، د علمأو او روحانیونو دعالي شورا، د علومود اکادمي او دلیکوالو د اتحادیی غړو، او په سلگونو دوستانو او علاقه مندانو » په اشتراک ، د جـابرانصار« علیه الرحمة » د مزار تـر څنگ ، د شهداې صالحین په هـدیره کښی په درنـاوې خـاوروته و سپارل شـوو.

إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ

د اروابناد مولانا داکتر سعید افغاني د ستر ضایعه په مناسبت زمونږ دهیواد او دوستو هیوادونو مذهبی او روحانی ټولنو، د پښتو، دری او عربی ژبو د لیکوال ، مولف او خطیب ، دیني عالم او اجتماعي شخصیت په مړینه د خواشینی او تسلیت پیغامونه استولیي دي .

پرو فيسورعبدالله خدمتګار« بختانی » په خپل کتاب کې چې « د سولی او تفاهم دلیارې مبلغ دوکتور سعيد افغاني » نومیږي کې داسې لیکیي دي:

په دوکتور سعيد افغاني باندی، د هغه د ژوندانه کلونه ، په لوستلو ، تدريس کولو، ليکلو، تاليف ، موعظو او خطابو تير شو، هغه به دسولي ، امنيت ، تفاهم، دوستي ، ورورې ، برابري ، اجتماعي عدالت او انساني کرامت لپاره په دم ، قدم او قلم مبارزه کوله.

دغه قطعه ما ليکی ده او د دوکتور سعيد افغاني د شناختې د مرمرو په ډبره کنيدل شوی ده :

په لـوستلو ، لـو لـو لـو او ليکـــلو
د پـوهنـــي د ډ يــو ي لانــدی کـــارونـــه
فضـيلت او شــرافــته سره تــــير شــول
په ( دوکتورسعيد افغاني ) دری شپيته کلونه

« دوکتور سعيد افغاني » د ابجد په حساب « ۱۹۲۲» کيږی، چه دا د نوموړی د تولد ميلادي کال دی. هغه « دری شپيته کلونه » ژوند تير کړي دي چه د اسلام د پيغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه و سلم د ژوندانه له کلونو سره برابر دی.






الهي : په خپل فضل و مرحمت اروابښاد مولانا سعيد افغاني دا د سولې ، ترقي ، ورورې ، برابرې ، حسن تفـاهم او دعدم تشدد د لارې مبارزه وبخښي او د فردوس جنت پر نصيب کړه.

امين يا رب العالمين
د مولانا سعيد افغاني د سولی او تفاهم ، نشراتی بورد لخوا

http://www.said-afghani.org

# د سميع الدين « افغاني » د نيکه
# مولوي غازي عبدالمجيد « رحمهٔ الله عليه » لنډ ژوند ليک!

خـدای بخښلی غازي عبدالمجيد « رحمهٔ الله عليه » د مـلا سيد امـير زوی زمونږ دهيواد يو ديني عـالم ، مشهور مدرس، د استقلال پـياوړي مجاهد او د تصوف مشايخـوځ څخه وه.

مولوي صاحب ! د وطن د آبادئ او آزادئ له پاره ئي نه هيرونکي خدمتونه کړي او هـم د هغه د « پوهـه ، ميـراني ، تقوی، پرهـيزگارۍ، اخلاص او محبت » فيض او برکت څخه ، په سلګونو د هـغه « مريدانو ، مخلصانو ، شاګردانو او دوستانو » برخمـن شوي دي.

مولانا محمد سعيد « سعيد افغاني » چې د غازي عبدالمجيد مشر زوی دې ، د خپل کتاب کښی چه « زما ژونـد » نوميږی داسې ليکلـي دي:

( زما مرحوم نيکه : مـولانا سيد امير صيب د خپل وخت تکړه عالم ، د ښه شهرت او ملی قدرت خاوندوو او ډير شاګرداني روزلی دي. دې د لغمان د کله کوټ په قريه کښې او سيده او د خپلو شاګردانو لويه درسي حلقه ئې در لودله . د هغه شاګردانو څخه هم ډير رسيدلي کسان جوړشوي او دهغوی له جملې څخه د تګاب سپين ملا افضل ، تور ملا افضل او مرحوم نجم الدين د هډی اخندزاده صاحب ملا ، چې په « ملا بزرګ صاحب » شهرت درلود او نور... دي.

زما مرحوم پلار مولوي عبدالمجيد د مولانا سيد امير زوې، په قام « صافی » ، د لغمان د ولايت د عمرزيو په قريی او د خيرآباد په کلي کښې اوسيده ، چې د خپل پلار څخه يـوی ځوی صغير پاتی شوې دې.

زما مرحوم پلار پس له دې چه ابـتدائي زده کـړې له مختلفوځ مشهورځ روحـانيونه تکميل او ښايسته ښه مـلا شو ، بيا د عـالي زده کړو د پـاره پيښور« پاکستان » تـه ولاړ او هـلته ئي د « معانيو ، لوی منطق ، حکمت ، تفاسير ، احاديثو ، فقهي ، اصـول ، رياضي ، تجـويد او نـور علـوم » د ښو پيـاوړو استادانـو څخه ولـوستل او د « مـولـوي » درجه او پګړئي د علـماځ په رسمي غونډې کښی ترلاسه کړه ، او وطـن ته بيرته راستون شو .

زما پـلار د وطـن د استقلال او آزادې په جهاد کښي پـوره موثره بر خه در لـوده او دخپلـو قومي ځـوانانو، مشرانو ، شاګردانـو او پيرانو سره د مشرقي سيمه کښی په خصوص « ډکی، تورخم، او ناقی » په سيمو کښی پوره ميرانې جنګيد لـې دې.

زما پلار د ملای لنګ د شورش په وخت کښی ؛ کله چې امير امان الله خان په پغمان کښې جرګه جوړه کړه ، دی د خپل قام او د لغمان د ولايت د علماځ او خلکو په وکالت رسمی وکيل انتخاب شو او دهغه وخت په لويه جرګه کښی فعاله برخه واخيسته.

و روسته له دی چې جرګـه ختمه شوه ، د امان الله خان دولت زښت زياد کوښښ وکړ ترڅو دی په دولت کښی رسمي دنده قبول کړي ، اما په ډير معزرتونو ورڅخه ئي ځان خـلاص کړه ،

حتی دی ته په خاص ډول د قضا په عرصه کښې هم ځو ځو واری د رسمي کار کولو دعوت وشو ، مګر ده رسمي دنـده په دولت کښی قبوله نکړه او د خپل په اسلامي او ملي ډول د خدمت کولـو په کار ؛ ډیـر خوښ ؤ .

زما پلار ته مرحوم نادر خان غازي او مـرحوم محمد هاشم خان هم پوره احترام او اخلاص درلـود ، حتی د دی د رحلت څخه وروسته محمد هاشم خان زمونږ سره دپـلار ښه نـوم او شهرت په وجهی زیاته مینه کـوله.

زمـا پلار په ټـولو مروجو علـومو کښې تدریس کولـو ، خو په منطق او حکمت کښی ئی زیات شهرت در لوده ، خو د عمر په آخـر و مرحلو کښې د ده تصوف جذبه زیاته شوه ، نوئې د « تفسیر ، حدیث ، فقهې ، او د تصوف د علومو » مطالعه زیاته کوله او هم د زیاتـو مریدانـو او مخلصانو خـاوند هم ؤ .

څنګه چې ده ښه علم ، تصوف او تقوی درلوده ؛ نو خلکو دې مجبور کړ چې د لغمان د ترګړو مشهور او لـوی مسجد د خطابت وظیفه هم په غاړه واخلي ، په دی مسجد کښی ده زیات عمر د جمعې په ورځ موثری خطابې ایراد کړې او د ده شهرت د شاګردانـو او مریدانـو د لیاری په ټول لغمان او ننـګرهار بلکه په ټول افغانستان کی زښت زیات شو.

زمـا پلار ډ یر ښه واعظ او مبلغ ؤ ، ډیـر ښه آواز ، ښه سپیڅلې ګیره او ځیره ئی در لـوده او د ښه اخلاص او ګذارې خـاوند ؤ ؛ نو همدا وجه وه چې هره ورځ له هرې خوا وربانـدی د علمي او روحي استفاده لپاره هجوم ؤ ، او د ده په دیره او حجره کښی لنګر چلیده چې تر اوسه پورې په ټول مشرقي ، په خصوص د لغمان ولایت کښی زیات خلک د ده « علمي بحثونه، موعظې ، خطابې ، روحي ژونـد ، تقـوی ، پرهیزګاري ، میرانـګي، اخلاص او محبت » معقولی او نمونی روایتوي . )

خـدای بخښلي غازي عبدالمجید « رحمهٔ الله علیه » په کـال « ۱۳۲۰ هجري شمسي » چه د شپیتو کلونو په شاو خوا کښې عمر در لـوده ، د ژمی په موسم کښی ناجوړ شو او دیو څو ورځو له مریضي څخه وروسته ، مهربان زړه ئی ودرید او په سبائی د مولوی صیب جنازه د هغه د سلګونو « مـریدانو ، مخلصانو ، شاګـردانو او دوستانو » له خـواه پـورته شوه او د لغمان د ولایـت ، د عمـرزیـو د خیـرآباد په هـدیره کښی، په پوره درنـاوی خا وروتـه و سپارل شو.

روح دی ښـاد وي

امین

# دویـم فصل

## د سمیع الدین « افغاني »

## فکري سبک، کتابونه او آثار:

# شعر لیکنې او فکري سبک!

اروا ښاد سمیع الدین « افغاني » یو تکړه لیکوال ، خوږ ژبی او په هیواد او ولس مین شاعر وه چې د هغه شعري روش او فکری سبک؛ یوه ځانګړی سبک او نوې تګلاره ده.

د افغاني صیب په لیکنواو شعرونو کې هم مطلب شته او هم پیغام ؛ هم جوهر لري ، هم احساس ، هم شوق او هم خوند . د هغه شعرونه ډېر سلیس، روان ، با محتوا او با احساسه دي ، په شعري سبک کې ؛ قوي پیغام لیدل کیږي او په زړه باندې سخت تاثیر اچوي. څنګه چې « د وطن په یاد » شعر کې داسی بیانوي:

په وطن موجوږ ماتم دی ـ تورتمونو کې مو شپې دي
دا د کوم ظالم له لاسه ـ چې ظلمونو کې مو شپې دي

***

د نیا توله راته خاندي ـ موږ په چیغو چیغو ژاړو
څه سپین سترګي دنیاګی ده ـ سیاستونو کې مو شپې دي
دا د کوم ظالم له لاسه ـ چې ظلمونو کې مو شپې دي

سمیع الدین « افغاني» د زرلښت دوبیپاڼی مرکه کونکي ؛ اغلي نیازګله « پښتنه» د سوال په ځواب داسی وایي : « دا چې زه د کوم سبک شاعر یم د دې پوښتنې ځواب به زما لپاره ګران کار وي خو دا چې کله، کله د زړه خواله د خپلو هیوادوالو سره د شعر په ژبه شریکوم د دې پوښتنې ځواب د هیواد شاعرانو او د شعر او ادب مینه والو ته ښه معلومیدلی شي »٠

نو په دې اساس لازمه ګڼم چه د یو شمیر قدرمنو لیکوالانو او شاعرانو ؛ سیرنې او نظرونه د افغاني صیب د « شعر لیکنې او فکري سبک » په ارتباط ؛ د مثال په توګه وړاندی کړم:

ـ محترم څېړندوی حبیب الله « رفیع » داسی لیکلي:
« د افغاني صاحب په شعرونو کې له اجتماعي دردونو سره ، سره د مینې سوبې نغمې هم شته او د سوي هیواد رنګین یادونه هم او له دې سره د ده په شاعرۍ کې د ادبي رنګینیو پر ځای د هدف بیانولو ته زیاته توجه شوې او د خپل زړه رازونه یې د رمزونو له پوښ نه بهر په صراحت او څرګندو لفظونو بیان کړي دي.»

ـ محترم استاد تمهید « سیلانی » خپله سیرنه ، داسي بیان کړې ده:
« اروابناد سمیع الدین « افغاني » خپل فکر ، درد ، احساس او د ټولنې انځور د شعر په ژبه په بیلا بیلو شعري فورمونوکي وړاندې کړي دي چې له هغې ډلې « غزل ، مثنوي ، څلوریز ، مخمس ، څلوریزه او داسې نور » د یادولو وړ دي .
افغاني په خپلو لیکنو « نظم و نثر » کې سمبیزې محاورې ، سیمبولونه ، ساده ولسي ترکیبونه او وییونه، حتا په ځینو مواردو کې سمبیزګړدودونه هم کاروي .
د ده د شعر او نظم ژبه ډیره ساده ، ولسي او خوندوره ده ، د هرې کچې او پوهې لو ستونکی پرې پوهیدلی شي ، نوموړی د شعر لیکنې او فکري سبک له مخې د معاصرو لیکوالو او شاعرانو له نړی لید ، فکري دریځ او لیکنې سبک څخه اغیزمن ښکارې؛ دی د سیاسي او طبقاتي افکارو له اړخه

د اکادمیسین سلیمان« لایق » ، انقلابی شاعر اجمل « ختک » او ځینو برخو کې د فلسفي شاعر غني خان سره اړخ لګوي . د ژبنیز سبک له اړخه د ولسي شاعر ملنګ جان او ګل پاچا « الفت » له سبکونو سره ورته والی لري.
اروابناد افغاني کله نا کله دومره ساده ولسي او سمییزې محاورې کاروي چې ډیری ترکیبونه او وییونه یې د یوې خاصې سیمې مال ګڼل کیږي ، خو برعکس بیا ډیرو مواردو کې عربی او نور مستعار شوي وییونه او علمي ترکیبونه هم له پامه نه غورځوي.»

ـ محترم شاه محمود « حصین » داسی لیکلي:
« سمیع الدین « سعید افغاني » شاعر دی، د هغه په شعرکې د هغه هیلې ، دردونه ، مینه او ارمانونه ژور ټولنیز، انساني او بشري رنګ لري. د سولې، هوساینې او نیکمرغۍ تږی دی. د خپل ځپل شوي وطن د زوریدلي انسان په دردونو اوښکې تویوي ، د کرکې ، نفرت او توپیر غوښتنې پر ځای د مینې او محبت آواز اوچتوي د ارمانونو ارمان یې خپل خلک خپله مینه او خپل وطن دی... »

ـ محترم نجم الدین « سعیدی » په خپله لیکنې کې داسې بیان لري:
« ښاغلی سمیع الدین « افغاني » ؛ د لیکوالۍ او شاعرۍ په تاریخ کې یوه نوې پاڼه ، روش او لاره په ګوته کړې ده، د هغه ټولې لیکنې او اشعار ، او په خاص ډول د هغه څیړنیز ، علمي او ادبي اثر « شین خالئ » د لیکوالۍ او شاعرۍ په تاریخ کې د خیال د دنیا څخه د تصویر او حقیقت په شکل ژوندی ترسیم او خاصه سبکي نمونه ده.»

ـ اغلې فاطمه « نیازۍ » د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځۍ پخوانی محصلې په خپل څیړنیز مونوګراف کې داسې لیکلي دي:
« ښاغلي سمیع الدین « افغاني » په مختلفو فورمونو او یا شکلونو کې شاعري کړې ده. خو زیاته برخه یې ولسی شاعري ده او خپله یې هم ویلې، چې ولسي شاعر دی. په ولسي شعرونو کې یې داسې شعرونه هم شته چې د فورم له مخې یې پیژندل ګران کار دی، یانې ډېر او مختلفو شکلونو کې یې ویلي دي.
ښاغلي سمیع الدین « افغاني » په خپلو شعرونو کې د ملنګ جان پیروي کوي او عروضي شاعري هم کړي ده خو په مرکزي نقطه یې همدا د وطن یادونه ده او تل یې د خپل هېواد او هېواد والو درد او غم یې په خپلو شعرونو کې بیان کړي دی. »

ـ محترم افضل « ټکور» پدی نظر دي:
« زما په اند افغاني صیب د یو ښه شاعر نه پرته خورا ښه طرز یا تصنیف جوړونکی دی او دا د ده د شاعري یو لوی کمال دی ځنی طرزونه او سندری خو یی ډیر ژر د اوریدونکو زړونو ته لار پیداکړی د هر چا پ پر ژبه دی او دی د ده شهرت هم زیات کړې دی که د کمیت او کیفیت له پلوه یا د پوهاند صاحب زیار پر وینا جوله ( شکل ) منځ پانګه ( محتوا ) له پلوه د افغاني صاحب دغه شعری جونګ ګورو نو هغه د بنجاره کځوری ته ورته ده چی هر څه په کی موندلی شو. څلریزی، نظمونه، لنډۍ، متلونه ، غزلی ، رباعی ، بګتی او د شعر هر قالب په کی موندلی شو. »

په اخر بیان کی:
د هیواد شاعران ، لیکوالان او د شعر او ادب مینه وال نه په ډیر درنښت هیله کوم چې د افغاني صیب نثرونه او اشعار مطالعه کړي او د هغه شعری روش او سبک نه خوند اوخلي.

# ليکنې !

سميع الدين « افغاني » مجموعاً شپاړس جلده « ۱۶ جلده » شعري او نثري کتابونه او رسالی ليکلي؛ چی لس جلده « ۱۰ جلده » چاپ او شپږ جلده « ۶ جلده » ناچاپ دي.

همداسی د افغاني صيب ډير شمير څيرنيزې علمي ، ټولنيزې، سياسي مقالي اوليکنې يې د هېواد په مختلف رسنيو او انترنيتي ويب پانو کې چاپ او خپرې شوې دي. او د هغه يو شمېر شعرونه د هېواد د وتلو شاعرانو او ليکوالو په « علمي سيمينارونو » او مشاعرو کې د کلمه، او يو شمېر نور يې د هېواد د خوږ ژبو سندرغاړو په غږونو کې کمپوز شوی دي، لکه :« زه افغان يم ، پل دې بختور شه ، همت ، دا افغانستان دې، بنجاره ماما ، ياره ستا په اننګو کې ، ميروم لغمان جان، د وطن په ياد، د برکلي ګودر ... » او ډير نور چې زمونږ د هېوادوالو د پاملرنې وړ ګرځېدلي دي.

## چاپ شوي کتابونه:

- د وطن يادونه « د شعرونو لومړۍ ټولګه ».
- پرديس خيالونه « د شعرونو دويمه ټولګه ».
- زمونږ کلي او باندې « نثر ».
- داغلي زړونه « د شعرونو دريمه ټولګه ».
- د خاپوړو کلی او باندی .
- شين خالۍ « ناول ».
- پس از بازگشت « داستان کوتاه ».
- نړېدلې جونګړې « د شعرونو څلورمه ټولګه ».
- د سميع الدين « افغاني » چاپ شوي اثار او کتابونه
- ياره ستا په انګو کی « شعري کليات ».

## ناچاپه آثار:

- غوره شعرونه او نظمونه « د شعرونو ديوان » .
- پنځمه شعري ټولګه
- د شين خالۍ ناول دويمه برخه
- د دري ژبې اشعارو ټولګه
- کمپوز شوي اشعارو ټولګه
- زمونږ کلي او باندې دويمه برخه

# د وطـن یادونـه
# « د شعرونو لمړۍ ټولگه »

# Remembrance of te homeland "The First Collection of Poems"




## د وطـن یادونـه

د « وطن یادونه » د سمیع الدین « افغاني » لمړي شعري ټولگه ده چې په « ۲۰۰۳ م کال» کې په ښکلي صحافت په « ۵۷ » مخونو کې د حق لارې کلتوري ټولنه له خوا چاپه شوې ده.
په دغه شعري ټولگه کې ښاغلي شاه محمود « حصین » یوه ښکلې سریز لیکلې ده او د شعرونو په اړه یې خپل نظر څرگند کړې دی ۰ همدارنگه په دغه شعري ټولگه کې سمیع الدین « افغاني» یوه لنډه لیکنه کړې او د خپلو شعرونو په اړه لوستونکو سره لازمه معلومات شریک کړي دي.

**د وطن په یاد**

په وطن موجوړماتم دی
تورتمونو کی مو شپی دی
دا د کوم ظالم له لاسه
چه ظلمونو کی مو شپی دی

## د کتاب پیژندنه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د وطن یادونه « د شعرونو لمړۍ ټولگه » |
| ویناوال: | سمیع الدین « افغاني » |
| چاپ کال: | ۱۳۸۲ لمریز ۲۰۰۳ میلادي ـ کال |
| چاپ شمیر: | ۵۰۰ ټوکه . په « ۵۷ » مخونو کې |
| چاپ وار: | دوم |
| ډیزان او کمپوزر: | احمد « سعیدي» |
| چاپ ځاې: | د حق د لارې کلتوري ټولنه |
| سریزه: | ـ شاه محمود « حصین » |

**Pardis Khyalone**
**"The Second Collection of Poems"**

# پردیس خیالونه
# « د شعرونو دویمه ټولګه »




## پردیس خیالونه

پردیس خیالونه:د اروابنادافغاني صیب، دویمه شعري ټولګه ده.
دغه شعري ټولګه په کال « ۲۰۰۹ م۰ کال » د اسد دانش مطبعه له خوا په ښکلي صحافت په « ۱۰۸» مخونوکې د چاپه راوتلې ده.
پدغې شعري ټولګه کې ښاغلي سر محقق عبدالله بختاني « خدمتګار» بابا ، یوه تحقیقي سریزه لیکلې ده.

همدا رنګه په دغه شعري ټولګه کې د هیواد ځوان او تکړه لیکوال او شاعر ښاغلي اجمل اټک « یوسفزي» صیب هم یوه سریزه لیکلې اود اشعارو په اړه یې خپل نظرڅرګند کړی دې.

**د مینې رنګ**

یاره ستا په اننګو کې
چې د چا د وینې رنګ دی
زما د پاکې مینې
حقیقت پکې څرګند دی

## د کتاب پیژندنه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | پردیس خیالونه « د شعرونو دویمه ټولګه » |
| شاعر: | سمیع الدین « افغاني » |
| خپرندوی: | د حق د لارې فرهنګي ټولنه ـ جرمني |
| چاپ وار: | لومړی |
| چاپ نیټه : | ۲۰۰۹ میلادي ـ کال |
| شمیر: | ۱۰۰۰ ټوکه ، په « ۱۰۸ » مخونو کې |
| ټولګه: | دوییمه |
| د چاپ ځای: | اسد دانش مطبعه ـ کابل |
| کمپوز: | ذبیح « شفق » |
| سریزه: | ـ پروفیسورعبدالله خدمتګار« بختانې »<br>ـ اجمل اټک « یوسفزې » |

# Our village and band "Prose"

# زموږ کلي او باندې:
# « نثر »




## زموږ کلي او باندې:

زموږ کلي او باندې د اروابښاد سمیع الدین « افغاني » تاریخي مجموعه ده چې په (۱۳۹۰ل) کال کې په « ۹۷ » مخونوکې په ښکلی صقافت او ډیزآین چاپه شوې ده.

پدغه کتاب کې د لغمان په اړه د هیواد د معاصرو څیرونکو او لیکوالانو معتبره تاریخي او کره مطالب راټول شوي دي.

همدارنګه په دغه اثر کې د لغمان تاریخی قدامت او جغرافیوی موقعیت په اړه د معاصرو او معتبره لیکولانو څیرنیزو کره لیکونو ته هم ځای ورکړل شوی دی.

پدغه کتاب کې افغاني صیب د خپلو دخاپوړو دکلیو اوباندو تر څنګ په کلیو کې د ودونو رواجونه، د درس اوتعلیم معاشره، ودونه اوعنعنې ، اشریا د خپلې خوښې کارونه او د محلی ژوند هراړخیزه برخو ته لنډه کتنه کړې ده .

## د کتاب ځانګړنې:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | زمونږ کلي او باندې |
| لیکوال: | سمیع الدین « افغاني » |
| ډیزاین چارې: | ایملیار « ساجد » |
| چاپ کال: | ۱۳۵۹ لمریز « ۲۰۱۶ میلادي» |
| چاپ ځای: | د مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه |
| چاپ وار: | لومړی |
| د چاپ شمیر: | ۱۰۰۰ ټوکه ، په « ۹۷ » مخونو کې |

**false hearts**
**"Third Collection of Poems"**

**داغلي زړونه**
**« د شعرونو درېيمه ټولګه »**




**داغلي زړونه**
**توري وريځې طوفانونه**
**غم لړلي ماښامونه**
**بيا اسمان ولې په قهر دی**
**بد حالت دی بد روز ګار دی**

**داغلي زړونه د سميع الدين « افغاني » درېيمه شعري ټولګه ده چه په کال « ۲۰۱۱ ميلادي » د حق دلارې فرهنګي ټولنه لخواه په ډير ښکلي صحافت په « ۱۰۸ » مخونو کې چاپه شوې ده .**
**پدغې شعري ټولګې د هيواد نامتو علمي شخصيت محترم خپرندوی حبيب الله « رفيع » صيب يوه ښکلې سريزه يې پرې ليکلې ده.**

**همدارنګه پدغې شعري ټولګې پيژندل شوې ليکوال او شاعر: اغلي زرلښت « حفيظ بشريار » او محترم افضل « ټکور » ښکلې سريزې ليکلې دي.**

## د کتاب پيژندنه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | داغلي زړونه « درېيمه شعري ټولګه » |
| ليکنه: | سميع الدين « افغاني » |
| د چاپ کال: | ۱۳۵۹ هجري شمسي ـ ۲۰۱۱ ميلادي |
| د چاپ شمير: | ۱۰۰۰ ټوکه ، په « ۱۰۸ » مخونو کې |
| د چاپ وار : | لومړی |
| کمپيوټر: | سير « افغاني » |
| خپرندوی: | د حق د لارې فرهنګي ټولنه ـ جرمنی |
| د چاپ ځای: | د دانش خپرندويې ټولنه |

## The village of Khapuru and Bandi       د خاپوړو کلي اوبانډي




### د خاپوړو کلي اوبانډي:

د خاپوړو کلي او بانډي د ارواښاد سميع الدين « افغاني » نثري کتاب دی، چې په (۲۰۰۹م ) کال په « ۱۰۱ » مخونو کې د حق د لارې فرهنګي ټولنه لخواه چاپه شوی ده.

پدی کتاب کې مختلفې موضوع ګاني لکه:

- مکتب ته د شامليدو دوره.
- قلعه صفت.
- د حيدرخانيو د کلی جومات.
- د حيدرخانيو کلی.
- زموږ تفريحی مصريوفتونه.
- د روژی مبارکه مياشت.
- په کليو کی د ودونو رواجونه.
- پل دی بختور شه.
- لغمانی اوږره يا د لغمان د خلکو خاص خواړه.
- خوږ ژبی سندرغاړی مرحوم مسجدی.
- په کلو کی د اختر رواجونه.

او داسی نور مطالب ليکل شوي دي.

**پل دی بختور شه**

**شپې دی د برات شه شه کلونه دی اختر**

**پل د ی بختور شه ناوی پل دی بختور**

### د کتاب پيژندنه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د خاپوړو کلي او بانډې |
| ليکنه: | سميع الدين « افغاني » |
| د چاپ کال: | ۱۳۵۸ هجري شمسي ـ ۲۰۰۹ ميلادي |
| دچاپ شمير: | ۵۰۰ ټوکه ، په « ۱۰۱ » مخونو کې. |
| د چاپ وار : | اول |
| کمپيوټر: | سجاد « ويديا » |
| د چاپ ځای: | د حق د لارې فرهنګي ټولنه ـ جرمني |

Shin Khali "Novel"　　شین خالی « ناول » :

## شین خالیٔ

**څه ښکلا څه نازونه یې دی**
**تور اوربل شنه خالونه یې دی**

شین خالی د اروابښاد سمیع الدین « افغاني » « ناول » یو ژوندی تاریخي کیسه او زمونږ د ګران هیواد دکلیوالي ژوند هغه ریښتني داستان دی چې د شعر او ادب مینه والو ته ډالی کیږي.

دغه ناول په کال « ۲۰۰۹ م۰ کال » د دانش خپرندویې ټولنې له خوا په ښکلې صحافت په « ۹۱ » مخونو کې د چاپه شوې ده.

پدغې ناول باندې دهیواد وتلي لیکوال او شاعر ښاغلي شهسوار « سنګروال » او دهیواد تکړه لیکوال او شاعر ښاغلي الحاج نجم الدین « سعیدی» یوه ښکلې سریزه او ادبي لیکنه یې پرې لیکله ده.




## کتاب پیژندنه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم : | شین خالئ « ناول » |
| لیکوال : | سمیع الدین « افغاني » |
| خپرندوې: | د حق د لارې فرهنګي ټولنه ـ جرمني |
| چاپ نیټه : | ۲۰۰۹ میلادي ـ کال |
| چاپ ځاې: | دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه |
| چاپ وار: | لومړې |
| شمیر: | ۵۰۰ ټوکه ، په « ۹۰ » مخونو کې |
| کمپوز: | سکندر « افغاني » |
| سریزه: | ـ محترم شهسوار « سنګروال»<br>ـ محترم نجم الدین « سعیدي » |

# After the return of "short story"

# پس از بازگشت « داستان کوتاه »




## پس از بازگشت

پس از بازگشت : د اروابښاد سمیع الدین « افغاني » نثري لیکنه ده چې په دري ژبه په (۱۳۵۱ه ش) کال کې چاپه شوې ده .

په دی داستان کې یو ځوان د نسیم په نوم د تفریح لپاره کابل نه جلال آباد ته ځي او هلته خپل پخوانی ملګر جاوید سره ویني بیا په لاره کې د موټرو د ټکر له امله زخمي خلکو سره مرسته کوي، چې هلته بیا له یوې نجلی سره مخامخ کیږي او ...

ښاغلي « افغاني » صیب دا داستان په ډېر ښکلی انځوراو په ښکلو ساده جملو لیکلی او د ادب مینه والوته یې وړاندی کړی دې.
همداسی په دې داستان باندی اغلې مل صیب یوه ښکلی سریزه لیکله ده.

## معرفی کتاب :

اسم کتاب : پس از بازگشت « داستان کوتاه »
نویسنده : سمیع الدین « افغاني »
سال تحریر: ۱۳۵۱ هجري شمسي ۱۹۷۴ میلادي
سال چاپ: ۱۳۸۷ هجري شمسي ۲۰۱۰ میلادي
تعداد چاپ : ۵۰۰ جلد
کمپیوتر: سمیر« افغاني »
مرجع چاپ: مرکز کلتوری د حق لاره
محل چاپ : جرمني
مقدمه: محترمه خانم مل

# نړیدلي جونګړي
# « د شعرونو ځلورمه ټولګه »

# Crushed nuts
# "The Fourth Collection of Poems"

**نړیدلي جونګړه**

خیرالناس

ځیني ظاهر کي با پاس ښکاري
خو پټ په زړه لکه خناس ښکاري
کړي په ظاهره د ورورئ خبري
په بدبیني بیا برلاس ښکاري

***

نړیدلي جونګړه: د خدای بخښلي سمیع الدین « افغاني » ځلورمه شعري ټولګه ده چي د شعر او ادب مینه والو ته یې ډالي کړې ده.
دغه شعري ټولګه په کال « ۲۰۱۶ م ۰ کال » د حق د لارې فرهنګي ټولنه لخوا ، د اسد دانش مطبعه کي ، په ښکلي صحافت په « ۲۸۸ » مخونو کي چاپه شوې ده.

په دغه شعري ټولګه باندی د حق د لارې فرهنګي ټولني او همداسي د هیواد ټکره لیکوال او شاعر محترم مصطفی « آرین » ډیرې ښکلي سریزې لیکلي او د شعرونو په اړه یې خپل نظر څرګند کړي دي.




## کتاب پیژندنه:

د کتاب نوم: نړیدلي جونګړي « ځلورمه شعري ټولګه »
شاعر: سمیع الدین « افغاني »
سریزه: ـ مصطفی « آریـن »
ـ د حق د لارې فرهنګي ټولنه
چاپ کال : ۲۰۱۶ میلادي ــ ۱۳۹۵ هجري شمسي ـ کال
خپرندوی: د حق د لارې فرهنګي ټولنه ـ جرمني
چاپ ځاې: اسد دانش مطبعه ـ کابل
چاپ شمیر : ۱۰۰۰ټوکه ، په « ۲۸۸ » مخونو کي
ډیزاین: سپین « سهار »

# د سمیع الدین « افغاني »
# چاپ شوې آثار او کتابونه:

# Sameuddin's "Afghani"
# Printed works and books




## کتاب پیژندنه:

د کتاب نوم: د سمیع الدین « افغاني » چاپ شوي اثاراو کتابونه

شاعر: سمیع الدین « افغاني »

ترتیب کونکی: قاضي نثار احمد « مصلح »

ډیزاین: هدایت الله « ناصري »

چاپ نیټه : ۱۳۹۹ هجري شمسي – ۲۰۲۰ میلادي

خپرندوې: د حق د لارې فرهنگي ټولنه ـ جرمني

د چاپ ځاې: اسد دانش مطبعه ـ کابل

د چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه ، په « ۸۸ » مخونو کې

یادداشت: د اروابناد سمیع الدین « افغاني » چاپ شوي اثاراو کتابونه : په کال « ۲۰۲۰ میلادي » د اسد دانش مطبعه له خوا په ښکلي ثقافت په « ۸۸» مخونوکې چاپ شوې ده.
پدغه کتاب کې د افغاني صیب په څلورو کتابونو: « د وطن یادونه، پردیس خیالونه، داغلی زړونه، او نړیدلی جونګړی » ، د هیواد لیکوالانو او شاعرانو اندونه او سریزوته او همدا رنګه د لیکوال خپلې خبرې او د کتابونو د منځپانو او د محتوا په اړه ښایسته معلومات ځای ورکړل شوي دي.

# یاره ستا په اننګو کي
# « شعري کلیات »

# Dude, you're in trouble
# "Poetry Generalities"




## یاره ستا په اننګو کي

یاره ستا په اننګو کي د اروابناد سمیع الدین « افغاني » شعري کلیات دې چې د شعر او ادب مینه والو ته یې ډالي کړې ده.

د غه شعری کلیات په کال « ۲۰۲۱ م۰ کال » د حق د لارې فرهنګي ټولنه مرکز له خوا په « ۵۱۹ » مخونوکي اوعالی صحافت پس له د افغاني صیب وفات نه ، د اسد دانش مطبعه ـ کابل کې چاپ شوې ده.

پردې کلیات باندې:
محترم ځیرنپوه دوکتور عبدالظاهر « شکیب » ، محترم استاد تمهید « سیلانی » ، پوهندوی محمد داود « وفا » او د ستراتیژیکو مطالعاتو تحقیقاتي او د حق لاره کلتوری مرکز؛ ښکلې سریزه او ادبي لیکنه یې پرې کړې دي.

## کتاب پیژندنه:

| | |
|---|---|
| کتاب نوم: | یاره ستا په اننګوکي « شعري کلیات » |
| شاعر: | سمیع الدین « افغاني » |
| سریزه: | ـ ځیرنپوه دوکتور عبدالظاهر « شکیب » د افغانستان د علومو اکادمي رئیس<br>ـ د ستراتیژیکو مطالعاتو تحقیقاتي او د حق لاره کلتوری مرکز<br>ـ استاد تمهید « سیلاني » ـ کابل |
| اوډون: | استاد تمهید « سیلاني » |
| کمپیوتر: | قاضي نثار احمد « صافي » |
| چاپ کال: | ۲۰۲۱ میلادي ـ کال |
| دچاپ اداره: | د ستراتیژیکو مطالعاتو تحقیقاتي او د حق د لارې فرهنګي ټولنه ـ جرمني |
| د چاپ ځای: | اسد دانش مطبعه ـ کابل |
| د چاپ شمیر : | ۱۰۰۰ ټوکه |
| یاددونه: | دا شعري کلیات په « ۵۱۹ » مخونوکي او عالی صحافت چاپ شوې ده |

# شعري کليات!

سميع الدين « افغاني » شاعر دی . هغه شاعر چې د مينې په سمندر کې نايابه ګوهر لټوي. دی د هيواد او ولس مينې ناکراره کړی ، په بيلتون کې يې لپه لپه وينې تويوي او د هيواد په مينې د منصور په شان سرورکوي.

ماته يې د خپل شعري کلياتو د چاپولو زيری راکړ او غوښتنه يې وکړه چې يو څه پرې وليکم . ما د دې درد من شاعر شعري کليات ولوستل ، د مينې له بلا رنګينو الفاظو ، سيمبولونو ، انځورونو او د مينې له شاعرانه ترکيبونو جوړ دی . ده د ژوند ، هيواد او اولس هر و ناخوالوته د مينې رنګ ورکړی او په درد يې د زړه له تله غږ پورته کړي.

افغاني صاحب غوښتل چې دا شعري کليات په خپل لاس ترتيب او د ادب مينوالوته يې وړاندې کړي. خو دا چې د تقدير اراده بدله وه او دا موقع يې ده ته ورنه کړه چې دا هيله يې پوره شي ، نو نوموړی په جلا وطنۍ کې له ولس او هيواده لرې د جرمني په يو روغتون کې په ۲۰۲۱ م کال د دسمبر مياشتې په ۲۲ نيته د چهارشنبې په ورځ ، د ماذ ديګر په « ۴ » بجو د ژوند پور پرې کړ او د ابديت په آرامه خوب ويده شو.

افغاني صاحب د رنځ په بستر پورت و ، يو ورځ يې د تليفون په کرښه راته وويل :
چې زه د جوړيدو نه يم ، د دې اثر مسووليت تاته در سپارم او هيله لرم چې زما دا ګډ و مات الفاظ د پښتو ژبې او ادب مينوالوته ور ورسوې . ما هم په پوره ډاډ ورته د دې کار مسووليت په غاړه واخيست ، دا د نن له نيکمرغه د افغاني صاحب هيله پوره شوه او د ده شعري کليات هم چاپ شو.

دا اثر « ۵۱۹ » مخونه لري ، پر دې اثر د افغانستان د علومو اکادمۍ رئيس څيړنپوه دوکتور عبدالظاهر« شکيب » ، پو هندوی محمد داوود « وفا » ، په جرمني کې د ستراتيژيکو مطالعاتو تحقيقاتي او د حق د لارې کلتوري مرکز او پخپله د ارواښاد افغاني صاحب يادابښتونه ليکل شوي وي .

ارواښاد افغاني خپل فکر ، درد ، احساس او د ټولنې انځور د شعر په ژبه په بيلا بيلو شعري فورمونوکې وړاندې کړي دي چې له هغې ډلې « غزل ، مثنوي ، څلوريز ، مخمس ، څلوريزه او داسې نور » د يادولو وړ دي .

نوموړي د خپل هر شعري فورم سرليک د شعر د منځپانګې او موضوع له مخې نوموي ، نه د شعري فورم له مخې .

***

استاد تمهيد « سيلانی »

# دریيم فصل

## ویناوې او کتابونه؛ مینه والوته!

| مطلب | شمیر |
|---|---|
| ـ د افغانانو علمي، فرهنګي او ادبي غنډه! | ۱ |
| ـ د خپلواکی سلمې کالیزه! | ۲ |
| ـ د لغمان ولایت د قرغیو ولسوالۍ عامه کتابتون! | ۳ |
| ـ د هالند هیواد د میشته افغانانو ، فرهنګیان انجمن! | ۴ |
| ـ د افغاني صیب کتابونه مینه والو ته! | ۵ |
| ـ د افغاني صیب کتابونه؛ د ډالی سلسله! | ۶ |
| ـ د سمیع الدین « افغاني » کتابونه؛ د خپلواکه ټولنې ته ډالی شول! | ۷ |
| ـ د لغمان ولایت د مندراوړ د هلکانو عالي لیسې! | ۸ |
| ـ د لغمان « الفت کتابتون » ته افغاني صیب کتابونه ډالې شول! | ۹ |

# د افغانانو علمي، فرهنګي او ادبي غونډه !

# فرانکفورټ ـ جرمني

الحاج سميع الدين « افغاني » تل دا هڅه کوله چې د خپل فکر او قلم د ممکنه لارو څخه خپلو ګرانو هيوادوالو ته ورسوي. خاصتاً هغه سخته علاقه درلوده چې په مختلف ادبی ، کلتوري او اکادميک مجالسوو کې فعالانه ډول ګډون کړي اوخپلې ليکنې او شعرونه ؛ ګډون کوونکو ته بيان او خپل کتابونه او آثار ډالی کړي.

سميع الدين « افغاني » په دې نظر وه چه:

د انسان سره اړيکي ټينګول او هغه ته ښه تحفه ؛ د کتاب ډالـۍ کول دي!



د افغانانو علمي ، فرهنګي او ادبي غونډه

« د مى ۷ مه ، د ۲۰۱۱ ميلادی کال ـ جرمني »

خدای ببښلی سميع الدين « افغاني » د افغانانو په علمي ، فرهنګي او ادبي غونډه کي د حق د لارې د کلتوري مرکز په استازيتوب د فرانکفورت ښار د جرمني هيواد کې ګډون وکړ او پس له عالمانه وينا څخه ، خپل ډير شمير کتابونه ګډونکونکو ته ئې ډالې کړ چه په کور ودانی استقبال شوو.

# د خپلواکۍ سلمې کالیزه!

سمیع الدین « افغاني » د « اګست ۱۸ مه ، د ۲۰۱۹ میلادي ـ کال » د خپلواکۍ د سلمې کالیزې په و یاړپه هغه پرتمیني غونډه کې چې د جرمني هیواد ، د کولن ښار د «ایونت پلاست» په تالار کې جوړه شوی وه ، د حق د لارې کلتوری مرکز په استازیتوب ګډون وکړ او د هغه تولنې پیغام یې، ولوست او بیا یې خپل شعر« د وطن په یاد» د غونډې برخه والو ته ډالۍ کړ،چه سخت استقبال شوو.

## د وطن پـه یاد

پـــه وطـــن موجوړماتم دی
تــورتمونو کې مو شپې دي
دا د کـــوم ظـــالم له لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
ګـران وطن راته سوراورشو
دوزخ لمبې تـــــري خـــیژي
بـــل محشر ته حاجت نه شته
قیامتونو کې مو شپې دي
دا د کـــوم ظالم له لاسـه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
د کـابـــل هـــره کـوڅـه مو
ښکلي ښکلي خـــاطرې دي
اوس یې وران اوویجاړګورم
ګــړنګونو کې مـــو شپې دي
دا د کـــوم ظالم لــــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي



زوړ او ځوان مو شهیدان شول
څـوک بې پلاره څوک بې موره
د چا کور جوړ قـــبرستان شو
زیــــــارتونو کې مو شپې دي
دا د کـــــوم ظالم لــــه لاسه
چـې ظلمونو کې مو شپې دي
افغانان ټول تار او مار شول
څوک په کوزاوڅوک په بردي
په وطن کې چې اوســـیږي
ماتمونو کې یې شپې دي
دا د کـــوم ظالم لــــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
داسلام پــــه تــــمه تــــمه
د کــــافرو کاني وشـــوې
هـــــیڅ تمیزکـولای نه شو
په چـــرتونو کې مو شپې دي

دا د کــــوم ظالم لــــه لاسه
چـې ظلمونو کې مو شپې دي
دنـــــیا تـوله راته خاندي
موږ په چیغو چـــــیغو ژاړو
څه سپین سترګي دنیاګۍ ده
سیاستونو کې مو شپې دي
دا د کـــوم ظالم لــــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
افـــغاني وطن به جوړ شي
که د خدای مـــــــهرباني وه
د پــــردو لاس بــــه لنډیږي
امـــــیدونو کې مو شپې دي
دا د کـــــوم ظالم لــــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
***
سمیع الدین « افغاني »

# د لغمان ولايت د قرغيو ولسوالۍ عامه کتابتون!

ښاغلي سميع الدين « افغاني » د قرغيو ولسوالۍ عامه کتابتون سره د (۲۰) ټوکه کتابونو مرسته وکړه .
مرسته شوي کتابونه د قرغيو ولسوالۍ د ځوانانو مرکزي شورا مشر ښاغلي ذاکرالله « صافي» له لوري قرغيو ولسوالۍ عامه کتابتون ته وسپارل شول.

ښاغلي افغاني صيب او صافي صيب څخه ډيره زياته مننه کور يې ودان، احساس او هېوادنۍ مينه يې د ستايلو ده چې د قرغيو ولسوالۍ عامه کتابتون ته يې (۲۰) ټوکه ګټور کتابونه ډالۍ کړل، الله ج دې ستر اجر ور په برخه کړي.
درنو او خوږو هېوادوالو تاسو څخه هم غوښتنه کوو چې د ملي او هېوادني احساس له مخې د ياد کتابتون په بډاينه کې مرسته وکړئ.

درنښت

نيک محمد « وحدت »



د لغمان ولايت د قرغيو ولسوالۍ د ځوانانو مرکزي شورا مشر ښاغلي ذاکرالله « صافي» څخه په منني سره چې زما کتابونه ئې د يادې ولسوالۍ عامه کتابتون مسولينو ته سپارلي دي ۰ همدا رنګه د نثار احمد « صافي » څخه مننه کوم چې هيوادوالو ته زما د کتابونو په رسولو کې زما سره مرسته کړې ده، کور ئې ودان ۰

په درنښت

سميع الدين « افغاني »

# د هالند هیواد د میشته افغانانو ، فرهنګیان انجمن!





**محترم سمیع الدین « افغاني » د هالند هیواد د میشته افغانانو، فرهنګیان انجمن له استازو :
محترم احسان الله « ارینزی » ، محترم الحاج ابراهیم « سهار » او محترم نوروزي « نوزادي »
سره ښه شرین ادبي مجلس وکړ او خپل کتابونه یې هم دالی کړ .**





**سمیع الدین « افغاني » په خپله پاڼی کي داسی لیکلي دي :**

**د معزز نوزادي صیب او سهار صیب څخه په مننې سره چې د هالند هیواد د افغانانو د کلتوري مرکز په استازیتوب زه یې په ګلونو او تحایفو ونازولم.**

**سمیع الدین « افغاني »**

**د جنوري ۱۶ مه ، د ۲۰۲۰ میلادي ـ کال**

**د منشن ګلدباخ ښار ـ جرمني**

# د افغاني صیب کتابونه مینه والو ته!




**محترم محمد عثمان « همدرد » د افغاني صیب یو شمیر کتابونه وطنوالو ته ډالۍ کړ.**
**د ۲۰۲۱ میلادی کال ـ د کابل ښار**



**د افغاني صیب نوې شعری کلیات**
**محترم څارنوال اختر محمد « صافي » صیب ته ډالي شوو.**



# د افغاني صيب کتابونه؛ د ډالی سلسله!

**Usman Hamdard**
3 Feb ·

د کتابونو او مطالعې په ارزښت خارجیان پوهیږي،📖

دا د 2021 کال انځور ؤ چې ما کابل کې وړیا کتابونه ویشل چې
ومې کتل خارجیان هم راغلې وه د وطن د مثبت فکر خپرولو
لپاره مې دغې میرمن او نورو ته وړیا کتابونه ورکړل، او د
ځوانانو په ټولو مثبتو کړنو ورته خپله وغږیدم،
باور وکړئ بیخې حیرانه پاتې شول چې د تشویق په پار یې ماته
بیا (50 ایرو) په ډیر زور راکړې ځکه زه ددې لپاره نه وم لګیا، او
هغه پیسې مې تراوسه ساتلې ځکه دا اولنۍ پیسې او تشویق
دي چې ماته راکړل شوی.
Usman Hamdard
Mohammad Usman Hamdard



917 110 comments 28 shares

## د سمیع الدین « افغاني » کتابونه؛

## د خپلواکه ټولنې ته ډالۍ شول!




## دا کتاب له پندونو ډک ده ؛ په ویلو ارزي!

**له شاعر او لیکوال قدرمن سمیع الدین « افغاني » څخه نړۍ مننه چې د خپل شل جلده کتابونه یې زمونږ ټولنې تــه ډالی کړ ترې ، مننه او کور یې ودان.**

**د انسان لپاره ستره او نه هیریدونکې ډالــۍ ؛ کتاب ده !**

**افغاني صیب د هیواد اصیل بچی ده تـــل یې خلک د شعر په ژبه پوهولي او پارولي. قدرمن افغاني صیب تــه اوږد عمر غواړم د لابریاوو پــه هیله یې.**

**افغاني صیب خپله د هیواد نــه بــهر اوسي دا کتابـونه یې د اسرار احمد په لاس ډالی کړ.**

**داکتر بابر « سهاک »**

# د لغمان ولایت د مندراوړ د هلکانو عالي لیسې!

د هیواد نوم وتي ولسي شاعر او لیکوال ښاغلی سمیع الدین « افغاني » آثارو څخه چې تعداد یې سل ټوکه کتابونه ته رسیدل ، د افغاني صاحب په استازیتوب د بنده نثاراحمد « صافی » له خوا د لغمان ولایت د مندراوړ د هلکانو عالي لیسې کتابتون مسؤول محترم استاد میرویس« صافي » ته ډالۍ او وسپارل شول.

البته د یاد ښوونځی سرپرست آمر صاحب عبدالرحمن « ناصري» ، د دیني علومو د ډیپارتمنت مشر محترم استاد مولوي صاحب نورالحق« حقیار» ، سرمعلم صاحب زیارت ګل « بینوا» او محترم استاد محمد نذیر « ناصري» هم حضور درلودل.





ټولو معززو استادانو د أفغاني صیب ، لدې نیک اوملي احساس څخه قدرداني اومننه یې وکړه چې د خپل ګټور یې اثار یې د استادانو، او زده کوونکو د علمي ګټې اخیستنې له پاره د دې ښوونځی په کتابتون کې خوندي کړل .



په پای که الحاج افغاني صاحب او مونږ ته یې د دعا ترڅنګ په چارو کې د لابریاو هیله وکړه.

ومن الله التوفیق

قاضي نثار احمد « مصلح »

د شنبې څلورمه ، حوت میاشتې ، د ۱۳۹۸ هجري شمسي ـ کال

# د لغمان « الفت کتابتون » ته افغاني صیب کتابونه ډالۍ شول:

# کوروېږ وددان !

**لیکوال او شاعر ښاغلي سمیع الدین « افغاني» ، د قدرمن ورور نثار احمد « صافي » په لاسونو، د لغمان « الفت کتابتون » سره د خپلو « ۸۰ » ټوکو لیکل شوو کتابونو مرسته وکړه !**




**موږ په لوړي سر کې په جرمني هېواد کې میشت درانه مشر سمیع الدین « افغاني» او بیا له درانه ورور صافي څخه مننه کوو، چې د کتاب ورکړې دود یې وپاله او له یاد کتابتون سره یې مرسته وکړه.**

**کورونه یې ودان، په ژوند کې یې د پوهې ډیوې بلې اوسه!**

**جاوید « مسرور »**

# څلورم فصل

## د سمیع الدین « افغاني »

## یو شمېر کمپوز شوي او انتخابي اشعار:

| | |
|---|---|
| ۱ | د وطن  په یاد |
| ۲ | بنجاره ماما |
| ۳ | میروم  لغمان جان |
| ۴ | یاره ستا په اننگو کې  « د مینې رنگ » |
| ۵ | افغان یمه زه |
| ۶ | پل دې بختور شه |
| ۷ | ناوکې |
| ۸ | د برکلي گودر |
| ۹ | د گران افغانستان |
| ۱۰ | سجدې |
| ۱۱ | د حسنو سوداگر |
| ۱۲ | یو بنه فرصت |
| ۱۳ | سره مزه کا |
| ۱۴ | شنه بنگړي |

# د وطن پـه یاد!

## د وطن پـه یاد

پــه وطــن موجوړماتم دی
تــورتمونو کې مو شپې دي
دا د کــوم ظــالم له لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
***
ګــران وطن راته سوراورشو
دوزخ لمبې تــري خــېژي
بــل محشر ته حاجت نه شته
قیامتونو کې مو شپې دي
دا د کــــوم ظالم له لاسـه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
***
د کــابــل هــره کــوڅــه مو
ښکلي ښکلي خــاطرې دي
اوس یې وران اوویجاړګورم
ګــرنګونو کې مــو شپې دي
دا د کــــوم ظالم لــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
***
زوړ او ځوان مو شهیدان شول
څــوک بې پلاره څوک بې موره
د چا کور جوړ قــبرستان شو
زیــــارتونو کې مو شپې دي
دا د کــــوم ظالم لــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
***
افغانان ټول تار او مار شول
څوک په کوزاوڅوک په بردي
په وطن کې چې اوســېږي
ماتمونو کې یې شپې دي
دا د کــــوم ظالم لــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
***




د وطن په یاد شعر ! د وطن تکړه اوخوږ ژبي هنرمند محترم صدیق « شباب» په اواز کمپوز او کلیپ شویدۍ.

داسـلام پــه تــمه تــمه
د کــافرو کاني وشــوې
هــــیڅ تمیزکــولای نه شو
په چــرتونو کې مو شپې دي
دا د کــوم ظالم لــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
***
دنــیا ټـوله راته خاندي
موږ په چیغو چــیغو ژاړو
څه سپین سترګي دنیاګی ده
سیاستونو کې مو شپې دي
دا د کــوم ظالم لــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
***
افــغانی وطن به جوړ شي
که د خدای مــهرباني وه
د پــردو لاس بــه لنډیږي
امــیدونو کې مو شپې دي
دا د کــوم ظالم لــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
***
سمیع الدین « افغاني »

مأخَذ: د وطن پـه یاد شعر؛ د وطن یادونه « د شعرونه مجموعه » ، « ۱ ـ ۴ » مخ ، د « ۲۰۰۳ میلادی» کال چاپ.

# بنجاره ماما !




بنجاره ماما شعر؛ د تکړه اوخوږ ژبي هنرمند محترم طاهر « شباب » په اواز کي کمپوز او کلیپ شویدی.

## بنجاره ماما

موري بنجاره مـــامـــا راغلی دی
نورشیان یي ډیردي داپایزیب یي څومره ښکلی دی
موري بنجاره مـــامـــا راغلی دی
***
موري پیسي را که چي پایزیب می ډیرخوښیږي
رنګ رنګ سیـــخکونه په اوربـــل مي هوسیږي
عطر شام پاریـــس مي په د مـــاغ ډیر ښه لګیږي
نقدی پیسي نـــه وی ماما پور پـــــه ځان منلی دی

موري بنجاره مـــامـــا راغلی دی
***




اخـــلم دنداسه چـــي دنداسه مي ډیر خوښیږي
سری شوندی چي ګرځم نو اشنامي خوشحالیږي
توري توري سترګـــي پـــه کجلو ښه ښکاریږي
سرو زروچـــارګل ماما پـــه برجب کي ساتلی دی

موري بنجاره مـــامـــا راغلی دی
***
ځان چي مي سینګارکړه بیانوځمه د ګدر په لور
موري دهـــمزولـــوسره نـــن دمـــازدیګرپه لور
ډیربـــه شم خوشحاله چـــي دیارشم دنظر په لور
اچوم ټکریـــی چي افغاني کلتورمو ښکلی دی

موري بنجاره مـــامـــا راغلي دی
***
سمیع الدین « افغاني »

مأخَذ: د بنجاره ماما شعر؛ شین خالی « ناول » ، « ۴ ـ ۵ » مخ ، د « ۲۰۰۹ میلادی» کال چاپ.

# میروم لغمان جان !

## میروم لغمان جان

میروم لغمان جان د خارج دل مه تنک شده
ملک بیگانه به مه زندان دیهمزنک شده
میروم کنر جان درخارج دل مه تنک شده
میرم کابل جان امریکا دل مه تنک شده
***
د باغمرزا د قرغه يي مه اشنایا دارم
هم دعمرزايي و اليشنک قوم وخویشا دارم
باله د چاردی حیدرخانی اندیوالا دارم
از قلای پشه يي والینگار چه خاطرا دارم
میرم در خاني خود دیگه پای فقیر لنک شده
میرم کابل جان د خارج دل مه تنک شده
میروم کنر جان اروپا دل مه تنک شده
***




میروم لغمان جان شعر؛ د تکړه اوخوږ ژبي هنرمند ښاغلي حفیظ « کرونگر» په اواز کې کمپوز، کلیپ او ډیر استقبال شویدې.

یاد گلکی استاد چی یک داستان ها میکرد
یگان شیر جنگی را کتیش پاینده هم یکجا میکرد
یادت است ملا استاد چه یک خاندن ها میکرد
گل و رحم الله وهفته گل هم چه سازها میکرد
الی خو ساز ها کلي ګډ وډ و جلترنک شده
میروم لغمان جان د خارج دل مه تنک شده
میرم لوگرجان د سدني دل مه تنک شده
***
یک وخت د بازار ترگړی چه بیرو بار بود
سوني دیگري لب دریا چه واره دار بود
چقه جم جوش دترگړی جمعه بازار بود
زیارت و میله د مهترلام صاحب نامدار بود
یاد او وختا الی خو بخت کی ما د جنک شده
میروم لغمان جان اروپا دل مه تنک شده
میروم لغمان جان دلندن دل مه تنک شده
***

وخت سال نواست لغمان جان چقه زیبا شده
هر رقم میوه و حاصلات اینجه پیدا شده
وخت غریبی داس درو در همه جا شده
گر و نیشکر کتي بادرنک هم پر بها شده
چي خوب مردم ها بود حالي دل مردم سنک شده
میروم لغمان جان د خارج دل مه تنک شده
میروم لغمان جان کانادا دل مه تنک شده
***
بیا که لغمان جان بریم بیا دیگه اشتي کنیم
سنک د جای خود سنگین بیا اندیوالي کنیم
رنک جنگه گم کنیم سم وطنداري کنیم
گم جنک طلبا شوه رسم افغاني کنیم
مردم وطن دیگه به تنک از دست جنک شده
میروم ننگرهار د خارج دل مه تنک شده
میروم لغمان جان د اتریش دل مه تنک شده
***

سمیع الدین « افغاني »

مأخَذ: د « میروم لغمان جان » شعر؛ د سمیع الدین « افغاني » دري ژبې اشعارو ټولګه « ناچاپ ».

# یاره ستا په اننگو کې!



د مینې رنگ شعر؛ دهیواد د خوږ ژبي هنرمند ښاغلي طاهر« شباب» په اواز کې کمپوز شویدی.

## د مینې رنگ

یاره ستا په اننگو کې
چې د چا د وینې رنګ دی
زما د پاکې مینې
حقیقت پکې څرګند دی
***
ما ویل سترګې دې خوږې دي
دې ویل تورې په رنجودي
ما ویل مینه دې سور اوردی
وې ویل یار زما مالنګ دی
***
ما ویل زما سره اشنا شه
دې ویل زموږ کلي ته راشه
ما ویل مینه رسوا کیږي
دې ویل دا د مینې خواند دی

ما ویل ښکلې دې ځواني ده
دې ویل مینه رسوایي ده
ما ویل زه دې لیونی کړم
دې ویل یار مې عنمرنګ دی
***
ما ویل سپینه خوله دې راکه
دې ویل مینه کړې بې باکه
ما ویل زړه ته مې نژ دې یې
ویل زه شمع یار پتنګ دی
***
ما ویل راشه مازیګر ته
دې ویل دربه شم ګودر ته
ما ویل لاره به دې څارم
ویل منګی مې شین په څنګ دی
***
سمیع الدین « افغاني »

یاددونه: د مینې رنګ شعر؛ په پردیس خیالونه « د شعرونو مجموعه » کې ، په « ۱۸ ـ ۱۹ » مخ ، په کال ۲۰۰۹ میلادی کې - چاپ شوې دې.

# افغان یمه زه!




**د ا شعر « افغان یمه زه » د هیواد د خوږ ژبي هنرمند محترم طاهر « شباب» په اواز کې کمپوز او کلیپ شویدی.**

## افغان یمه زه

**زه څوک د کوم ملیت دکـــوم زبان یمه زه؟**
**بس دومـــره درته وایم چـــې افغان یمه زه**
*******
**پښتون دی که تـــاجک که هزاره د دې وطن**
**ازبک نورستاني که پشه ئي دی یـا ترکمن**
**د دې خاورې بچیان دي سره یومودی مدفن**
**تاریخ یم جـوړونکـــی د زمـان یمه زه**
**بس دومـره درتـه وایم چې افغان یم**
*******
**د ښمن مو په نفاق کې یـوتر بله بیلوي**
**په رنګ رنګ دسیسوموپه خپل مینځ کې جنګوي**
**په حیله او نیرنګ مو په قومو جلا کوي**
**اوس پـــوه زه د دښمن پـــه بد ګمان یمه زه**
**بس دومر درتـــه وایم چـــې افغان یمه زه**
*******

**د تورې په میدان کې هردښمن پدی پوهیږي**
**افغان باندې په زور او زیاتي کله کلي کیږي**
**خصلت مود میراني دی پدې هرڅوک پوهیږي**
**پـــه عـــزم، اراده کـــې بـــا ایمان یمه زه**
**بس دومره درته وایم چـــې افغان یمه زه**
*******
**راځی ای خوږو ورونو چې وطن سره اباد کړو**
**په پوهه هوښیاري باندې داخپل غلیم برباد کړو**
**پیشرفت او ترقی ته « افغاني» عزم بنیاد کړو**
**بیـــا سولې وروروليـــی ته ارمغـــان یمه زه**
**بس دومــــره درته وایم چـــې افغان یمه زه**
*******
**سمیع الدین « افغاني »**

**مأخَذ: د افغان یمه زه شعر؛ پردیس خیالونه « د شعرونو مجموعه » ، « ۹ـ ۱» مخ ، د « ۲۰۰۹» میلادی چاپ.**

# پل دې بختور شه!



محترم سميع الدين « افغاني » د هيواد د خوږ ژبي هنرمند محترم طاهر« شباب» سره.
فرانكفورت ـ جرمني

## پل دې بختور شه!

شپې دې د برات شه، شه كلونه دې اختر
پل دې بختور شه، ناوې پل دې بختور
***
پل دې بختورشه ناوې مينه كې دې كورشو
نوې اشنايي شوه نوی بل د مينې اور شو
ستا د حسن شمعه چې روښانه په هر لورشو
حسن دې ښكلا دې چيرې مه شه د نظر
پل دې بختور شه ناوې پل دې بختور
***
نن چې دې محفل كې خوشحالي ده هم خندا
خوښې دې همزولې دې په مينه كړې نڅا
يې د نجونو ميره ټول دا ستا په تماشا
رب دې په نصيب كړه په ژوندون كې زيب اوزر
پل دې بختور شه ناوې پل دې بختور
***
ناوې نوی ژوندكې خوشالي دې شه نصيب
كوردې بختورشه خوږ اشنا دې شه طبيب
اور يې چې بليږی پاک الله يې شې قريب
وی دی په امان كې « افغاني » ښكلی بشر
پل دې بختور شه ناوې پل دې بختور
***
سميع الدين « افغاني »

دا غزل « پل دې بختور شه» د هيواد خوږ ژبی هنرمند محترم صديق « شباب» په كال «۲۰۰۳ ميلادی» كې كمپوز كړی دې.

ياددونه: د پل دې بختور شه! شعر، په ياره ستا په اننگو كې « شعری كليات » په « ۱۷۸ـ ۱۷۹ » مخ ، په ۲۰۲۱ ميلادی كال ـ چاپ شوې دې.

# ناوکی!

## ناوکې!

راځه ورو ورو ناوکی
مبارکه مو دا ښادی شه

قدم اخله په لیموکې
په نصب مو خوشالی شه

***

نن ښادی ده خوشالی ده
دا د مینې خوږ ارمان دی

د یو نوی ژوندون پیل دی
نوی عهد نوی پیمان دی

هرخوا بل دی مشالونه
زیب او زر موزندگی شه

قدم اخله په لیمو کې
په نصب مو خوشالی شه

***

د نجونو مینځ کې هر قدم په مکیزو گده
ښکلې ناوې قدم ورو ورو گده

***




د غزل « ناوکې » د هیواد خوږ ژبی هنرمند محترم صدیق « شباب» په کال « ۲۰۰۳ میلادی» کې کمپوز کړی دې.

ډیر گیله من یمه زه
په زړه غمجن یمه زه

د ستا د حسن ،ښکلا
ډیر ارمانجن یمه زه

***

قدم راواخله هر قدم دې په نخرو گده
ښکلې ناوې قدم ورو ورو گده

شیرین رخسار مزه کا
ډول او سینگار مزه کا

ستا د ښکلا نه لوگی
شیرین گفتار مزه کا

در سره زیبی شینکی خال پاس په ابرو گده
ښکلې ناوې قدم ورو ورو گده

***

سمیع الدین « افغاني »

یاددونه: ناوکې شه! شعر، په یاره ستا په اننگو کې « شعری کلیات » په « ۱۷۸ـ ۱۷۹ » مخ ، په ۲۰۲۱ میلادی کال ـ چاپ شوې دې.

# د بر کلي ګدر!

د بـر ګـدر د چنارونـو خـوږ منظر دی
څه ښکلی مازیګر دی
لیلا ګدر ته ځینه
منګی یې شین په سر دی
سرې اوبه راوړینه
***
ده انتظار د ګدر لار کې
سور شال په سر ډول ، سینګار کې
زړګی یې نشته په اختیار کې
هر څه ترې هیر دي په تلوار کې
د یار بیلتون یې په زړګي کړی اثر دی
څه ښکلی مازیګر دی
لیلا ګدر ته ځینه
منګی یې شین په سر دی
سرې اوبه راوړینه
***
دا بـر ګـدر دی لارې لارې
همزولې ټولې ترینه لاړې
وایي راځه که دیدن غواړې
ورسته به څه راپسې ژاړې
د پلو لاندې پټ کاته یې په هنر دی
څه ښکلی مازیګر دی
لیلا ګدر ته ځینه
منګی یې شین په سر دی
سرې اوبه راوړینه
***

د یار په مینه باندې پایي
جانان په مینه ، مینه ستایي
وایي ځواني ورسره ښایي
مین په مینه کې رسوا یي
په محبت یې غړولی بال او پر دی
څه ښکلی مازیګر دی
لیلا ګدر ته ځینه
منګی یې شین په سر دی
سرې اوبه راوړینه

***
تر غنم لوه ورځې شماري
اشنا راتلو ته لارې څاري
سپین مړوندو ته بنګړي غواړي
سور شال یې ښه ورسره ښکاري
د مینې لار کې افغاني یـې د زړه سر دی
څه ښکلی مازیګر دی
لیلا ګدر ته ځینه
منګی یې شین په سر دی
سرې اوبه راوړینه

***
سمیع الدین « افغاني »

یاددونه: د بر کلي ګدر شعر ؛ په « غوره اشعار او نظمونه کی » چه ناچاپ دې ، راغلی دی او د محترم طاهر « شباب » په ښکلي غږ کې کمپوز شویدی.

# د ګران افغانستان!

دښکلو منظرو وطن دا زړه د اسیا دی
هر بوټی یې کیمیا دی
د ګران افغانستان
***
د سولې د جرګو وطن میراث مو دبابا دی
هر بوټی یې کیمیا دی
د ګران افغانستان
***
د سولې د ورورۍ لاسونه ور کړو یوتر بله
اباد کړو وطن خپله
ننګرهـــاره تر زابله
هرات نه تر کابله
لغمان تر سرې پله
بیا رسو تـر منزله
د سولې او جرګو د همغږۍ وطن زما دی
هر بوټی یې کیمیا دی
د ګران افغانستان
***

ویاړلې تاریخونه کندهار کې لا ژوندي دي
دا ویاړ مو دهستي دي
وګړي یې زمـــري دي
با عـــزمه میرني دی
د ښمن د هر پردي دي
میرویس نیکه لمسي دي
پامیر په جګه غاړه مفتخر بام د اسیا دي
هر بوټی یې کیمیا دی
د ګران افغانستان
***

هر خواته په هر سیمه دا وطن جنت نشان دی
کندوز کـــه بـــدخشان دي
هلمند کـــه ورزګـــان دی
پنجشیر که نورستان دی
بادغیس دی که بغلان دی
په مونږ باندې ډیر ګران دی
سیندونه یې ښه ښکارې دغه شین چمن زما دی
هر بوټی یې کیمیا دی
د ګران افغانستان
***
د بلخ ام البلاد د زوړ او ځوان دغه وینا ده
دا ملک مو د بابا ده
میراث زما او ستا ده
زمونږ د زړه دنیا ده
څه ښکلې یې هوا ده
خوږلنه یې فضاده
زمونږ د ګران وطن هر یو منظر رڼا رڼا دی
هر بوټی یې کیمیا دی
د ګران افغانستان
***
زمونږ د هرې سیمې هیوادوالو دا دوعا ده
کنر کـــه پکتیـــا ده
بادغیس که کاپیسا ده
فاریاب که پکتیکا ده
غزني ده کـــه فراه ده
پیشرفت یې مدعا ده
یووالی ، وروږګلوي په افغاني احساس بنا دی
هر بوټی یې کیمیا دی
د ګران افغانستان
***

سمیع الدین « افغاني »

مأخَذ: د سمیع الدین « افغاني » غوره اشعار او نظمونه ، ناچاپ.

# سجدې!

ستـــا د رضـــا د امیدونـــو سجدې
ربه ستا در کـــې د عذرونو سجدې

د گـــناهونو نـــه منزلـــونه جوړ دي
غـــواړم ادا د گـــناهونـــو سجـدې

ســـتا دغفار کـــریم رحیـــم له نومو
شـــي که قبول د طاعـــتونو سجدې

زاهـده! ځانـــله چې مغروره نه شې
زه یـــم پیرو د پـــاکو زړونو سجدې

څوک دی عابد ستا د دوزخ له ویرې
څوک کړي سجدې د ثوابونو سجدې

چې مسلمان دی او قایم په خپل دین
کړي پنـــځه وخته د فرضونو سجدې

که « افغاني» وطـن کـې سوله راغله
زه بـه ادا کـــړم د نفـــلونو سجـدې

***

سمیع الدین « افغاني »

# د حسنـونو سودا گر!

د حسنـونوسودا گریـــم شرابـي حسن په څو دی
چې معیاریې خال اوخط وي کتابي حسن به څودی

چې خوشحال یې هسې ستایي افتخارپرې شاعران کا
د تــــرکانو د خـوبانو گلابــــي حسن پــــه څــودی

چې د سترگو په ښکـلایې ټول عالم په مسیدو دي
د قــــفقاز دهسـکو پیغلو عنابي حسن په څو دی

چې عالــــم ورته سلا کـــا ښاپیرۍ ورته حیرانی
دسلاویانو په وطن کې ارزانــــي حسن په څو دی

نورستـان په سر درو کي د هلمند رود شاو خوا ته
د قندهـار کلو باندو کـــې نوراني حسن په څو دی

د ښکلا او د حسنونـــــو پــــه بازار کې هسی گرځم
چې بازار یې څنگه خوږدی افغاني حسن په څودی

***

سمیع الدین « افغاني »

# يو ښه فرصت!

زه پــــه قلم د زمــانې برباد وختونه ليکم
رقيبه ستا د ناکــــردو بــد حالتونـــــه ليکم
زه د خلقت د رنگينو د راز او نياز سره يم
د حقيقت د لارې مل، نه چې مجاز سره يم
چاچې د مال او د شهرت په طرف لار نيولې
په زور زياتي د شرارت په طرف لار نيولې
په زورواکي ځانله هوس ځانله جلال غواړي
د ځان خوښي اوسعادت دبــل مــلال غواړي
په خوله يوه وينا کوي په زړه کې بله وايي
په زور واکي او رزالت خبره خپله وايي
د انسانيت اوشرافت اصلي معنی ترې ورکه
د دغه ژوند د ختميدو او انتها تــرې ورکه
په ذلالـــت انساني ژونـــد د تيريدلـــو ندی
هر پاک ضمير ته دا خصلت هيڅ دمنلو ندی
ځه دانسان د سپيڅلتوب اوحقانيت سره ځه
نور د ژوندون اصلي معنې او ماهيت سره ځه
د ژوند معني د انسانيت او شرافت خبر ده
د زړه اخلاص د صداقت او دعــزت خبر ده
دغه ژوندون يو ازمايښت يو امتحان وګڼه
يوښه فرصت دعبادت د پاک سبحان وګڼه

***

سميع الدين « افغاني »

# سره مزه کا!

محــفــل چې د یارانــو تنگ تکور سره مزه کا

خوښي او خوشالي د کلي، کور سره مزه کا

پروا مې د اشنا پـــه ځان منــلې ده نو ځکه

اشنا ستـا یارانه خــو د پیـــغور سره مزه کا

***

د ژوند په اوږدو لارو منزلونو او ستړیا کې

دا تول جار اوجنجال بیا د زړه زور سره مزه کا

څوک ناست دی غمازي کاڅوک د ښکلوسوداگردی

د ا ژوند او کارو بار بیا لږ د شور سره مزه کا

***

ځواني چې مې د یار قد او قامت سره ښکلا ده

خالــونه یې په مــخ کې درې، څلور سره مزه کا

دیدن ته چــې د یار په « افغاني » وعده ورځمه

سور شال یې پلو داره په سر خور سره مزه کا

***

سمیع الدین « افغاني »

# شنه بنګړي!

مانـــه د زرګـــر د دوکـــان
خـــيالي پـــاولـــي غواړي
سپينې ليـــچې تشې ګـرځي
ليلا ځمانه شنه بنګړي غواړي
زرګره نقدې روپۍ واخله
مانه اشنا د لاس بنګړي په خپل مرزي غواړي
سپيـــنې ليـــچې تشې ګرځي
ليلا ځمانه شنه بنګړي غواړي
اشنا ځما نه مرور دی
د لاس بنګړي مې خوږ اشنا په بې صبري غواړي
سپينې ليچـــې تشـې ګـــرځي
ليلا ځمانه شنه بنګړي غواړي
بنګړي د يار په لاس کې خوند کړي
په سپين مړوند د بنګړو شرنګ ښکلی ځواني غواړي
سپينې ليـــچې تشې ګـــرځي
ليلا ځمانه شنه بنګړي غواړي

***

سميع الدين « افغاني »

# پينځم فصل

## د  سميع الدين « افغاني » ادبي مرکې!

١ د« شرنـک » ويب پاڼې سره ادبي مرکه!
٢ د « اوښکي » پاڼې سره ادبي مرکه!
٣ د « زرلښت دويبپاڼې » سره  ادبي مرکه!
۴ د زرلښت « ډاډګام » سره ادبي مرکه!

# د « شرنک » ویب پاڼې سره ادبي مرکه!

درنو او معززوملګرو!

ښاغلی سمیع الدین «افغاني» له هېواده پردېس ، تاند، هڅاند، نوښتګر او خوږ ژبی شاعره دی، چې د پښتو شعر اوادب په غولي روڼ برېښېدلی او د پښتو اوسنیو لیکوالواو شاعرانو د لیکې د مخکښو څخه دی .

ښاغلی سمیع الدین «افغاني» له هېواده بهر د جرمني په هېواد کې دېردېسۍ شپې ورځې سباکوي ، ښاغلی افغاني د خپل شته ادبي استعداد له مخې په ډېر کم وخت کې دشعرپه رنګینه نړۍ کې ډېره ښه وځلېده، چې داځل موله همدې ژورفکره، نوښتګر، دمانا اوحقیقت په لټون پسې ستړي ، فلسفي او دردمند لیکوال اوشاعر سره دزړه خواله کړې چې دخبرو پیل به دښاغلي په یوه بیت سره وکړو، چې وایي: .

څنګه چې ښایست بې داشنا په اننګوکي دی
هسې یې غــزل دنااشــنااـــځوره ووځي

شرنګ پاڼه : زه خو موپېژنم، که له درنولوستونکوسره پېژندګلوي وکړې ؟

سمیع الدین « افغاني »: زما نوم سمیع الدین « افغاني » دی ، د اروابښاد علامه دکتور محمد سعید « سعیدافغاني » ځوی یم او په کال « ۱۳۳۳ لمریز» کې د لغمان ولایت د عمرزیو د خیراباد په کلي کې زیږیدلی یم .

شرنګ پاڼه : که مود خپلوزده کړو په هکله مالومات راکړې؟

سمیع الدین «افغاني» : د لغمان ولایت د حیدرخانیو په دهاتي ښوونځي، د مهترالمک ع ابتدایــه ښوونځی کې مې لمړنۍ زدکړې او بیا د روښان دلیسي د دولسم ټولګی څخه فارغ شوی یم او په کال « ۱۳۵۹ » لمریز کې د لــوړو اومسلکي زده کـړو په مقصدد وطن څخه بـهر واستول شوم. د لوړ زده کړو د پای ته رسیدو وروسته وطن ته راغلم او په « ۱۳٦٤ لمریز» کال کې مې د افغانستان د کورنیو چاروپه وزرات کی په کار پیل وکړ او د « ډګروالی » تر رتبې رسیدلی یم.

شرنګ پاڼه : شعر ته مو ولې مخه کړه درد ؤ او که مینه ؟

سمیع الدین« افغاني» : ما له وړکتوب څخه د شعر سره علاقــه لرله ځکه زه د لغمان د ولایت په کلو او باندو کې رالـوي شوي یم د لغمان او په مجموع کې د مشرقي سیمه لکه د وطن دنورو سیمو په شان ښـکلي ، شاعرانه او شاعر پروره ده چې ډیر وتلي لیکوالان ، شاعران یې په خپله غیږ کې روزلي دي، له بلې خوا په وطن کې د څو لسیزو جنګي حالت په نتجه کې زمونږ ډېرهیواد وال اجباري مهاجرتونوته اړ باستل شوي دي ، د مهاجرت څپیرو لکه د نورو افغـانانو په شان زما مخ هم راشیـن

کړی دی ، نو چې کله کله د زړه خواله مې دقلم او هیوادالو سره شریکه کړې وی نودزړه تسکین مې د اشعـاروااولیکنو سره کـړی دی اوهمدامینـه او دردونو زه شعراو شاعری ته هڅولې یم.

شرنګ پاڼه : له خپله انده د ښه شعر لپاره کوم معیارونـه غوره کوئ؟

سمیع الدین «افغاني »: زما یو غزل دی چې هغه غزل په لاندي دوه بیته کې خلاصه کیږي ۰

ځنګه چې ښایست بې داشنا په اننګوکې دی
هسې یې غـزل د نـــااشنا انځوره ووځـې

زما په اند د ښه شعر لپاره به دا متل پر ځای وي چې وایي زړونـه، زړونو ته لار لري ، هرڅومره چې دزړونو درد ، احساس ، مینه ، دټولنې واقعتونـه ، کلتور اوپرګنیز منل شو ی فکتورونـه په شعرکې منعکس شي په همغه اندازه هغه تـه معیاري شعر ویلي شـود هغه شعر محتوا او ارزښت معیاري وی.

شرنګ پاڼه: ښه شعر او غزل کې څه توپیروینئ؟

سمیع الدین « افغاني » : زما په اند شعر مختلف ډولونـه لري لکه څلوریځې ، لنډۍ ، لوبې ، بګټۍ اونورچې غزل هم دشعر د ښکلي باغچو یوه په زړه پورې بیلګه ده.

شرنګ پاڼه: په نننې او پروني شعر کې څه توپیر وینئ ؟

سمیع الدین « افغاني »: لکه ځنګه چې هرموسم، فصل او زمان ځانله خپل شرایط، خصوصیات، هیلې اوارمانونـه لري د شعر روحیه هم د زمان په تیریـدلو سره تغیر مومي،پدې مـفهوم چې پخواني اشعاروکې د جامعې د محرومیتونو پر بنیاد د میني ، محبت ، عشقي او تصوفي اشعارو ته ډیره توجه شوې چې زمونږه ټولنه پدې برخې کې ډیرې لاسته راوړنې لري ، په اوسنیو خاصو شرایـطو کې دڅو لسیزو جنګي حالاتو زمونږ د خلکو ذهـنیتونو ، هیلو او غوښتنوته تغیر ورکړی دی زما په اند دوطن ناخوالو ، مهاجرتونواوحالات د معاصر و شاعرانو په شعرونو کې د نورو شعرونو تر ځنګ حماسي اشعارو ته خاصه پام لرنله شوي ده.

شرنګ پاڼه: خپل شعرونوکې موکوم یو خوښ دي چې د لوستونکو هم خوښ شوي وي؟

سمیع الدین «افغاني » : ما دخپل هر شعر څخه کوم چې زما د زړه ټکورپـری شوي د هغه څخه خوند اخیستی اوزه د نورو اشعارو تر ځنګ د حماسي اشعارو څخـــه په کوم کې چې زمونږ د ولسونو درد ناکه تاریخي واقعتونـه منعکس شوي وي ډیر خوند اخلم ، دا چې زما کوم اشعار زمونږ د خلکو دپاملرنې وړ ګرځیدلي وي ماته به د دی پوښتنې ځواب لږ څه ستونز من وي خو دومره ویـــلي شم چې زما ډیر اشعار د وطن د خوږ ژبو هنرمندانو له خوا کمپوز شوي چې د هغه جملو څخه زه افغان یم ، پل دې بختور شه ، همت ، دا افغانستان دې ، بنجاره ماما ، یاره ستا په اننګو کې ، میروم لغمان جان چې اکثر یې د وطن وتلي هنر مندانو هریو ښاغلو طاهر شباب، صدیق شباب، کرونګر او نورو هنر مندانو په خواږه اوازونو کې کمپوز کړي چې زمونږ د هیواد والو د پام وړګر ځیدلي دی.

همدارنګه زما ډېر اشعار د وطن د وتلو شاعر انو او ليکوالانو په علمي سيمينارونو او مشاعروکي د کلمه شوي چې د توجه وړ ګرځيدلي همدارنګه زماځو شعرونه ګراني خور زرلښت او محترم افغان زلمي او ډېر نورو په خپل با احساسه اوازونوکې د کلمه کړې چې دانترنيت په صفوکې موجود دی.

زما يو شعر يـاره ستا په اننګو کې چې د محترم طاهر« شباب» له خوا کمپوز شوي په کوزه اوبره پښتونخوا کې ځانله ډېر مينه وال لري چې بيا ورسته ماجبين، ماسترعلي حيدر، او په لسها و نورهنرمندان بې په مختلفو کمپوزونو کې يې خپلو مينه والو ته اوروي٠

شرنګ پانه : ستاسو يو کـتاب چاپ شوي دي په نوم د پردېس خيالونه څنګه مو ورته پردېس خيالونه نوم غوره کړ؟

سميع الدين «افغاني »: پدغه شعري مجموعه کې چې زما دوهمه شعرې ټولګه ده ،ټول هغه شعرونه راوستل شوي کوم چې د پرديسی نيولې دنيا کې مې ليکلي دي دلته زما مطلب هغه د پرديسي نـړي احساس او درد دي کوم چې زما په اشعارو کې منعکس شوي٠

ماته يو دوست وويل څه کيده چې« د پرديـــس خيالونـه »نوم موغوره کړای وای، مـا دا مطلب ورتـه ويل چې په هغه صورت کې به بيا مفهـوم تنها زما پردسي خيـالونه په عنوان کې ښودل شوي وای حال داچـــي زما مـطلب پدې عنوان کې تنها هغه خيالـونه دی کـوم چـــې په مـهاجرت کې چاته په سترګوکيږي.

شرنګ: که په وروستيوکې لوستونکو ته څه ويل ولرئ؟

افغاني : زه يو ځل بيا تاسو نه د زړه دکومي مننه کوم چې ماته مو دا موقـعه راکړه چې د« اوښکې » د ښکلي پاني او د هغې د محترمو لوستونکو سره مو د زړه خبرې شريکې کړې٠

شرنګ پانه : مننه چې خپل ارزښتناك وخت مو مونږ ته راکړ؟

سميع الدين« افغاني »: کور مو ودان ستاسو څخه هم مننه سرلوړي اوبريالي اوسی٠

د ښاغلي سميع الدين «افغاني » د اشعارو بيلګه :٠

## افغان يـــم

زه افغان يم خپل وطن رابانديې ګران دی
اتحـاد او ورور ګلوي ځما ارمـــان دی

چې يې مينه دوطن يـې ده پـه زړه کې
افغاني دا هموطن را بانــدې ګران دی

***

# افغان یمه زه

زه څوک دکوم ملیت دکـــوم زبان یمه زه؟
بس دومـــره درته وایم چـــې افغان یمه زه

پښتون دی که تــاجک که هزاره د دې وطن
ازبک نورستاني که پشه ئي دی یــا ترکمن

ددې خاورې بچیان دي سره یومودی مدفن

تاریخ یـــم جـــوړونکـــی د زمــــان یمه زه

بس دومـــره درتــــه وایم چــــې افغان یمه زه

دښمن مـوپـه نفاق کې یـو تر بله بیلوي

په رنګ رنګ دسیسوموپه خپل مینځ کې جنګوي

په حیله او نیرنګ مو په قومو جلا کوي

اوس پــوه زه د دښمن پـــه بد ګمان یمه زه

بس دومر درتـــه وایم چـــې افغان یمه زه

د تورې په میدان کې هردښمن پدی پوهیږي

افغان باندې په زور او زیاتي کله کلی کیږي

خصلت مودمیرانې دی پدې هرڅوک پوهیږي

پـــه عـــزم، اراده کـــې بــا ایمان یمه زه

بس دومره درته وایم چـــې افغان یمه زه

راځی ای خوږو ورونو چې وطن سره اباد کړو

په پوهه هوښیاري باندې داخپل غلیم بربادکړو

پیشرفت او ترقی ته « افغاني» عزم بنیاد کړو

بیـــا سولې ورورولـــی ته ارمغــان یمه زه

بس دومـــره درته وایم چـــې افغان یمه زه

دا شعر د هیواد د خوږ ژبي سندرغاړی ښاغلي طاهر« شباب» په خواږه اواز کې کمپوز شویدی.

# د « اوښکې » پاڼې، سره ادبي مرکه!

ښاغلی سمیع الدین « افغاني » له هېواده بهر د جرمني په هېواد کې د پردېسۍ شپې ورځې سبا کوي، او د خپل شته ادبي استعداد له مخې په ډېر کم وخت کې د شعر په رنګینه نړۍ کې ډېره ښه وځلېده، چې داخل موله همدې ژور فکره، نوښتګر، د مانا او حقیقت په لټون پسې ستړي، فلسفي او دردمند لیکوال او شاعر سره د زړه خواله کړې چې د خبرو پیل به دښاغلي په یوه بیت سره وکړو، چې وايي:

څنګه چې ښایست بې داشنا په اننګوکې دی

هسې یې غزل د ناآشنا انـځوره ووځـــي

اوښکه: زه خومو پېژنم، که له درنولوستونکو سره یې پېژندګلوي وکړې؟

افغاني: زما نوم سـمیع الدین« افغاني» دی، د اروابناد عـلامه دکتورمحمد سعید « سعیدافغاني » ځوی یم او په کال « ۱۳۳۳ لمریز » کې د لغمان ولایت د عمرزیو د خیراباد په کلي کې زیږیدلی یم.

اوښکه: که مو د خپلو زده کړو په هکله مالومات راکړې؟

افغاني: د لغمان ولایت د حیدرخانیو په دهاتي ښوونځی، د مهترالمک « ع » ابتدایه زما لمړني زدکړې. ښوونځی او دروښان د لیسې د دولسم ټولګی څخه فارغ شـوی یم او په کال«۱۳۵۹ لمریز» کې د لوړو اومسلکي زده کړو په مقصدد وطن څخه بهرواستول شوم اوپه کال «۱۳٦٤ لمریز» کې د کورنۍ چارو په وزارت کې د ډګروالی تر رتبې رسیدلی یم.

اوښکه: شعر ته مو ولې مخه کړه درد ؤ او که مینه؟

افغاني: ما له وړکتوب څخه د شعر سره علاقه لرله ځکه زه د لغمان د ولایت په کلو او باندو کې رالوي شوي یم د لغمان او په مـجموع کې د مشرقي سیمه لکه د وطن د نورو سیمو پلمریزان ښکلي، شاعرانه او شاعر پروره ده چې ډیـر وتلي لیکوالان ، شاعران یې په خپله غیږ کې روزلي دي، له بلې خوا په وطن کې د څو لسیزو جنګي حالت په نتیجه کې زموږ ډیر هیواد وال اجباري مهاجرتونو ته اړ باسـتل شوي دي.

د مهاجرت ځپیرو لکه د نورو افغانانو پلمریزان زما مخ هم راشیـن کړی دی ، نو چه کله کله د زړه خواله مې د قلم او هیوادالو سرلمریزریکه کړې وی نو د زړه تسکین مې د اشعـــارو اولیکنو سره کـړی دی اوهمدا مینه او درد ونو زه شعر او شاعری ته هڅولې یم.

اوښکه: له خپله انده د ښلمریزعر لپاره کوم معیارونه غوره کوئ؟

افغاني: زما یو شعر دی د « افغان ځوان » تر سرلیک ، چې هغه شعر په لاندې دوه فردو خلاصه کیږي.

**ځنګه چې ښایست بې داشنا په اننګوکې دی**

**هسې یې غزل دنا اشنا انـــځوره ووځــــې**

زما په اند : زړونه زړونو ته لار لري ، هرڅومره چې د زړونو درد ، احساس ، مینه، د ټولنې واقعتونه، کلتوراو پرګنیز منل شوی فکتورونه کې منعکس شي په همغه اندازه هغه ته معیاري شعر ویلي شوو او د هغه محتوا او ارزښت معیاري وي.

اوښکه: پلمریزعر او غزل کې څه توپیروینئ؟

افغاني : زما په اند شعر مختلف ډولونه لري لکه : « څلوریځې ، لنډۍ ، لوبې ، بګتۍ اونور... » چې غزل هم د شعر د ښکلي باغچو یوه په زړه پوره بیلګه ده.

اوښکه: په نننۍ او پروني شعر کې څه توپیر وینئ؟

افغاني: لکه ځنګه چې هرموسم، فصل اوزمان ځانله خپل شرایـط ، خصوصیات، هیلې اوارمانونه لري. د شعر روحیه هم د زمان په تیریدلوسره تغیرمومي.

پدې مفهوم چې پخواني اشعارو کې د جامعې د محرومیتونو پر بنیا د د میني ، محبت ، عاشقي او تصوفي اشعارو ته ډیره توجه وه ، چې زموږه ټولنه پدې برخې کې ډیرې لاسته راوړني لري . په اوسنیو خاصو شرایطو کې د څولسیزو جنګي حالاتو زموږ د خلکو ذهنیتونو، هیلو او غوښتنو ته تغیر ورکړی دی . زما په اند د وطن ناخوالو او مهاجرتونو او حالات د معاصرو شاعرانو د نورو شعرونو تر څنګ ؛ حماسي اشعار و ته خاصه پام لرنه شویده.

اوښکه: خپل شعرونوکې موکوم یو خوښ دي چې د لوستونکو هم خوښ شوي وي؟

افغاني: ما د خپل هر شعر څخه کوم چه زمـا د زړه ټکور پری شوي د هغه څخه خوند اخیستی او زه د نورو اشعارو تر څنګ د حماسي اشعارو څخه په کوم کې چې زموږ د ولسونو درد ناکه تاریخي واقعتونه منعکس شوي وي ډیر خوند اخـــلم . دا چې زما کـــوم اشعار زموږ د خلکو د توجه وړ ګرزیدلي وي ماته به د دی پوښتني ځواب لږ څه مشکل وي. خو دومره ویـلي شم چې زما ډیر اشعار د وطن د خوږ ژبو هنرمندانو له خوا کمپوز شوي چې د هغه جملو څخه:

« زه افغان یم ، پل دې بختور شه، همت، دا افغانستان دی، بنجاره ماما، یاره ستا په اننګو کې او...» چې اکثر یې د وطن وتلي هنرمند طاهر شباب او نورو هنرمندانو په خواږه اوازونو کې کمپوز شوي چـــې زموږ د هیوادوالو د توجه وړګرځیدلي دی.

همـدارنګه زما ډیر اشعار د وطن د وتـلو شاعر انو او لیکوالانو په علمي سیمینارونواو مشاعروکې د کلمه او د توجه وړ ګرځیدلي . همدارنګه زما څو شعرونه ګراني خور زرلښت او محترم افغان زلمي په خپل با احساسه اوازونو کې دکلمه کړې چې د انترنیت په صفو کې موجود دې.

زما یو شعر یاره ستا په اننګو کې چې د محترم طاهر شباب له خوا کمپوز شوي په کوزه او بره پښتونخوا کې ځانله ډیر مینه وال لري چې بیا ورسته ماجبین، ماستر علي حیدر ، او په لسهاو نور هنرمندانو په مختلفو کمپوزونو کې بې خپلو مینه والو ته اوروي.

**اوښکه:** ستاسو يو کتاب چاپ شوي دي په نوم « د پردېس خيالونه » څنګه مو ورته پردېس خيالونه نوم غوره کړ؟

**افغاني:** پدغه مجموعه کې ټول هغه مطالب راوستل شوي کوم چــې د پرديسی نيولې دنيا کې مې ليکلي دي ، دلته زما مطلب هغه د پرديسي نـړي احساس او درد دي چې زما په اشعارو کې منعکس شوي.

ماته يو دوست وويل څه کيده چي « د پرديـس خيالونه » نوم موغوره کړای وای مــا دا مطلب ورته ويل چې په هغه صورت کې به بيا مفهوم تنها زما پردسي خيـــالونه په عنوان کې ښودل شوي وای حال داچــې زما مـطلب پـدې عنوان کـې تنها هغه خيالـونـه دی کـوم چـې په مهاجرت کې چاته په سترګوکيږي.

**اوښکه:** که په وروستيوکې لوستونکو ته څه ويل ولری؟

**افغاني :** زه يو ځل بيا تاسو نه د زړه د کومي مننه کوم چې ماته مو دا موقــعه راکړه چې د اوښکې د ښکلې پانې او د هغې د محترمو لوستونکو سره مو د زړه خبرې شريکې کړې.

**اوښکه:** مننه چې خپل ارزښتناك وخت مو موږ ته راکړ؟

**افغاني:** کور مو اباد ، ستاسو څخه هم مننه سرلوړي اوبريالي اوسی.

***

**په ادبی مينه**

**د اوښکې پانه**

# د « زرلښت دویبپانۍ » سره ادبي مرکه!

**قدرمنولوستونکو!**

**زه نیازګله پښتنه د زرلښت دویبپانۍ د مرکو په برخه کې ستاسو په خدمت کې یمه .**
**دهیواد پیاوړي ، قدرمن، پــه قام او خلکو مین شـاعر، لیکوال ښاغلی سمیع الدین « افغاني » لـه نوم سره ټول اشنا یاست ، دغه د ځولسیزوشاعر چې ډیر ښکلي شعرونه او په زړه پورې ناول او لیکني لري دهیواد اکثر خلک یې د شعرونو مینه وال دي ،غواړمــه چې ادبي مرکه ورسره ولرمه چې ستاسو پاملرنه دغې په زړه پورې مرکې ته راګرځوم۰**

**پوښتنه: د ښاغلي سمیع الدین « افغاني » له نوم سره ډیر خلک اشنا دي نه غواړم و وایمه چې ځان و پیژنئ ، صرف دا وایمه چې اسلام علیکم ، ویاړمه چې تاسې سره مرکه کومه ،هیله ده زما پوښتنو ته وخت پیدا کړئ اوځواب ووایئ.**

**ځواب: سلام ته مو وعلیکم السلا م وایم ، تاسې مهربانه یاست ، ستاسو د پیرزوینې نه مننه کوم ، زه ستاسو او ستاسو په خدمت کې یم.**

**پوښتنه: کله او څنګه مو په شاعري پیل وکړکه لمړنی شعرمو په یادوي هغه هم مونږ سره شریک کړئ.**
**ځواب: ما له وړکتوب څخه د شعر سره علاقـه لرله ځکه زه د لغمان د ولایتپه کلو او باندو کې رالوی شوی یم د لغمان او په مجموع کې د مـشرقي سیمه لکه دهیواد دنوروسیمو په شان ښکلي ، شاعرانه او شاعر پروره ده چې ډیــر وتلي لیکوالان ، شاعران یې په خپله غیږ کې روزلي دي ، له بلې خوا په وطن کې د څو لسیزو جنګي حالت په نتجه کې زمونږ ډیریهیواد وال اجباري مهاجرتونو ته اړ باستل شوي دي.**

**د مهاجرت څـپیرو لـکه د نورو افغانانو په شان زما مخ هم راشین کړی دی ، نو چې کله، کله د زړه خواله مې د قلم او هیوادالو سره شریکه کړې وي نود زړه تسکین مې د اشعــارواو لیکنوسره کــړی دی، اوهمدا مینـه او دردونــو زه شعراو شاعــري ته هڅولي یم.**
**ستاسو دپوښتنې د دوهمې برخې په ځواب کې باید ووایم :**

**کله چې زما پلار مولانا دکتورمحمد سعید« سعید افغاني» دننګرهار دهډې په نجم المدارس کې مدیــر او مدرس وه مونږ په ننګرهار کې هستوګنه درلوده او زه د میا عمر په ښوونځي کې متعلم وم چې زما لمړنی شعر په هغه وختونو کې چې زه به د ۱۲ کلو وم ویل شوې دی چې ورسته د ښوونځی د اداري او کورنی له خوا ډیر تشویق شولم ولې په تاسف سره باید ووایم چې زما هغه ورسته د ډیرو نورو شعرونو یاداشتونه له ما سره نشته او په هغه وخت لمړنی شعر او تر کې بې دومره د راټولولو لیوال هم نه وم، خو بیا ورسته په تیرو څو لسیزوکې و دې پایلې ته ورسیدم چې خپل شعرونه راټول او له هیواد والو سره یې شریک کړم .**

پوښتنه: تاسو ځان ته کوم رقم شاعروایاست يو څوک که وغواړي نوی شاعري پيل کړي اول بايد څه وکړي؟

ځواب:

دا دستور دی چې له درده زګيروی خيږي
ګنې څـــه و د رحمـــان د شـــاعری

دا چې زه د کوم سبک شاعر يم د دې پوښتنې ځواب به زما لپاره ګران کار وي خودا چې کله، کله د زړه خواله د خپلوهيوادوالو سره د شعر په ژبه شريکوم د دې پوښتنې ځواب د هيواد شاعرانو او د شعر او ادب مينه والو ته ښه معلوميدلی شي۰
او همدا رنګه د دې پوښتنې د دوهمې برخې په ځواب کې بايد ووايم : هغه دوستان چې غواړي شاعري زده کړي ښه به داوي چې د هيوا د وتلو شاعـرانو شعرونه ولـولي او په همدې ډول څه چې د شعر ه په ژبه ليکي هغه دې د نورو شاعرانوسره شريک اووروسته له هغې دې ټولنې ته وړاندې کړي.
پوښتنه: غزل ، نظم ، ازاد شعر، اومخمس څه ته وايي فرق يې څه دی ؟
ځواب: د غزل لغوي معنی په حقيقت کې عاشقي يا د معشوقې ستاينه ده « پـه شپږمه پيړی کـې کله چې قصيده مخ په زاوال شوه غزل د هغه ځای ونيوه ، اوپه اومه پيړی کې يې رسماََ قصيده تر شا ووهله او غزل خپل اوج ته ورسيد »۰

د قصيدې موضوع داده چې په اخرد شعر کې د چا توصيف شوی وي اوپه حقيقت کې اصلي موضوع پـــه توصيف کيدونکې څرخيږي اما په غـزل کې اصلي موضوع معاشقه اود دهغې سره راز و نياز اوخبرې دي څيرونکې ليکي « چې کله دا معشوقه د ځمکې په سر وي خوپسته او بازارې نه وي او کله بيا هم اسماني اوعرفاني وي».
غزل د پنځو څخه تر اوه پورې بيتونه لري چې دوه لمړی مصرې يې او دوهم مصرې د نورو بيتونو سره همغږې وي.
که دغزل د کلاسيک تعريف نه تير شو، يواځې دومره ويلی شوچې غزل هغه ښه ژانريا فورم دی چې اکثراََ پکې عشقي موضوع په شعر کې ستايل کيږي که څه هم دا عشق حقيقي وي او يا مجازي۰
غزل قافيه او رديف لري او د زړو متونو په حساب پينځه يا اوه بيتونه زيات نه وي او که تر هغه زيات شی هغه ته قصيده وا يي.
د غزل او نظم دا تفاوت دي چې نظم دغزل برخلاف داسې يو فورم دی چې معين وزن او قافيه نلري بلکه يو مخصوص ريتم او اهنګ لري او په مسلسل ډول يوه خاصه موضوع يا قصه بيانوي.

ازاد يا سپين شعر په خپل ذات کې اهنګ ، وزن او ريتم لري مګر قافيه په هغه کې ثابت ځای نلري او اکثره په سپين شعر کې تصوير خاص ځاي لري ۰
له بده مرغه ځينې پخواني فورمونه لکه مخمس ، مسدس ، مثنوي ، قصيده داستانـــونه او داسې نور روشونه زمونږ په ادبياتوکې اوس دومره د پاملرنې وړ نه دي او نن سبا ډيری شاعران غزل ، نظم ، چار بيتي او ازاد شعرونه ډير ليکي.

پوښتنه : تاسو پښتو ادب ته ډير خدمتونــه کــړي دي اوپه بدل کي د شهرت اوج ته رسيدلي ياست په شاعري کې مو کله مينه ، حماسه اوکله هم دپښتو ژبی دپــاره ډيرڅه په سترګوکيږي چې په مشکل به سړی پوښي تاسي کوم رقم سبک اختيار کړيدی ، ستاسي په نظر تاسي کوم رقم شاعر ياست دکوم سبک پلوي کوئ؟.

ځواب: ستاسود دې نيک نظر نه مننه کوم ، زما په اند ژبی ، ولسونو ته خد مت کول به د هر افغان انساني ، وطني او ديني دنده وي او پدی کې به د شخصي شهرت ونده دومره د پاملرنې او توجه وړ خبره نه وي او تر کومه ځايه چې زما د شعري سبک پورې اړه لري بايد وايم چې زما شعرونه حماسي او وطني دي د خلکو او پرګنو آواز يې بولم.

خو ديار او دلدار د سرو اننګو خيال هم را سره وه او هغه مې هم ستايلي دی چې په لمړی ځل د هيواد د خوږ ژبي سندرغاړي ښاغلي طاهر « شباب» په ښکلي غږ کې کمپوز شوی دی.

ياره ستاپه اننګو کې چې د چا د مينې رنګ دی
زما د پاکې مينې حقيقت په کې ځرګند دی

خودا چې په دې برخوکې زما کوم ډول شعرونه دهيوادوالو ډير پام وړګرځيدلي، ددې خبرې سپيناوی به هيواد والو ته پريږدو ۰

پوښتنه: ستاسي ډير شعرونه د هيواد مشهور هنرمندان هريو:« طاهر« شباب» ، صديق« شباب» ، حفيظ « کرونګر» او نورو هنر مندانو په خواږه اوازونـو کې ډير اوريدل کيږي اوډيـــر مينه وال هـم لري کله چې خپله خپل شعر اوری څه احساس کوی؟۰

ځواب: دا يوه طبعي خبره ده کومه ليکنه يا شعر چې څوک ليکي هغه ته د منلو وړ ده خو چــې کله بيا دا ليکنه يا شعر دخلکو د منلو وړ وګرځـي د شاعر او ليکوال د خوښی مو جب کرځي ، زهـم لکه د هيواد د نورو شاعرانو پــــه څيرکله چې خپلې ليکنې او شعرونه پـه مطبوعاتــوکې ګورم او د خوږ ژبوهنرمندانو په خوږو اوازونو کې اورم ، په مشاعرو او دليکوالوپه علمي سيمينارونو محافلو کې يې د کلمه کوم پرې خوشاليږم .

زما شعرونه لکه: « بنجاره ماما ، پل دې بختور شه ، ياره ستا په اننګو کې ، ميروم لغمان جان ، وطن، زه افغان يم ... » او ډير نور چې د خوږ ژبي هنر مندانو هريو: « ښاغلي طاهر« شباب » ، ښاغلي صديق « شباب» او ډيرو نورو له خوا کمپوز او کليپ شوي، د هيوادوالو د پام وړ ګرځيدلي دي ۰بيلګه:

## پريږده پريږده ای مرګيه!

زه لا نورڅــه کــول غواړم
د ايمان آزمــويل غواړم
لږ مې پــريږده ای مرګيه
زه ارمان ته ورتلل غواړم

لږ د مه شه ای زړګیه
د ولس پــاڅــول غــواړم
چې منبر مــې چــا سیزلی
دهــغو پــرځــول غــواړم
زمــا ورورېــې چــې وژولــی
ترې ګریوان څیرول غواړم
بــبر سرې مــاشومــان مــې
له بــمــو بــچــول غــواړم
چې ترې والوزی کــوترې
د پنجــرو مــاتول غــواړم
لا نیمګړی مــې آرمان دی
خپــل آرمان ته ور تلل غواړم
دا چې کور په کور روان دی
دا ماتم ختمول غواړم
نــا امید داغلــي زړونــه
په لیمو ښکولول غواړم
دا کشتي پــه دوبیــدو ده
تر تــوفــان تــیریدل غواړم
ربــه داسې طــاقت راکړې
د ولس ویښول غــواړم
چې مونږ تول سره یوځای کړي
پوه رهــبر درول غــواړم
پریږده پریږده ای مرګیه
زه جانان تــه ورتلل غواړم
یو پاڅون یــوانقلاب تــه
لــراوبــر یــوکــول غواړم
یا به دا ارمــان پــوره کړم
یا کــفن څیرول غــواړم
بیا نو هــله پــه مــزار مي
ســرې جنډې رپــول غواړم
***

زما پورتنی شعر په ۲۳ /۲۰۱۱/۴/۲۳ نیټه د لندن په نړیوال کنفرانس کې چې د ډیورند د تپل شوې استعماري کرښې د غندنې په اړه د لر او بر افغانانو ، نړیوالو شخصیتو او په وطن مینو هیوا دوا لو له خوا جوړ شوی وه څو، څو ځلي ولوستل شو اود ګډون کوونکو په ولولو او چک چکو بدرقه شو، زمالپاره د خوښې ځای دې.

پوښتنه: زمونږ ټولنه کې هلکان او انجوني ته د مينې جواز شته چــې دخپل دمينې اظهار وکړي لکه غربي هيوادونو، که شته ترکومه حده پورې؟ د يوشاعر په سترګه مينې تــه پــه کومه سترګه ګورئ؟

ځواب: زمونږ په ټولنه کې هلکان او انجونو تــه لکه غربي هيوادونو جواز نشته ، زمونږ په ټولنې کې هغه ځوانان، هلکان او انجونې چې وغواړي خپل راتلونکی وټاکي د اسلام مقدس دين پـــه چوکات کې د اسلامي اصولو سره سم د شرعي نکاح په ترڅلو د حجاب او قبول وروسته د مينې جواز شته د حجاب او قبول مسله د مينې او راتلونکی ژوند د توافق معنی ورکوي٠

او همدا رنګه د دې پوښتنې د دوهمې برخې ځواب زما په لاندې شعر کې موندلی شئ :

## مينه څه ده؟

دغــــه چــــټه ښـــکلا ګـــوره
وای پــــه مينه نــــه رسيـــږم
خپـــله ميـــــنه کـــې لمبيږي
وای پــــه چل يـــــې نه پوهيږم

ميـــــنه اور مينــــه سيلاب دی
مينـــــه ژوند مينـــه کتاب دی
ميـــنه پــــوهه ده علميــت دی
مينــــه کار دی شجاعــت دی

مينه سيند دی لوی درياب دی
ميـــنه شرنګ دی يو رباب دی
ميــــنه بــــحر دی طـــوفان دی
ميــــنه دا فـــــاني جـــهان دی

مينـــــه ښـــه شانتـــي نغمه ده
يــــوه ښــــکـــــلي تـــرانه ده
دا د ژونــــــد معنــــی ده ميــنه
هـــــم د خــــوند معــنی ده مينه

څوک د خــــدای سره کړي مينه
د عقبــــا پـــــه لارې ســــر دي
څوک په دې فـــــاني جهان کې
د ريــــا پــــه لارې ســـر دي

میـــــنه کور میــــنه دلبـــر دی
میـــــنه زوردی او هـــــم زر دی

څـــــوک د کار ســـره کړي مینه
څـــــوک مین پـــــه خپل هنردی

څـــــوک روزګار سره کــړي مینه
هـــــم پیشـــــوا دی هم رهبـــر دی

د یــــــار میــــــنه زوریـــــدل دي
په ســــور اور کې سوزیدل دي

د پتنـــــګ انجـــــام د مــــــینې
پـــــه لمبو کـــــې لمبـــــیدل دی

د مـــــین پـــــه بـــــرخه ګـــوره
مـــــایوســـــي ده جـــړیدل دی

د جـــــانــــان میــــــنه د ســـــره
پـــــه ســـور اور ورته دانـــګل دي
****
سمیع الدین « افغاني »

مرکه کونکي : نیازګله پښتنه « زرلښت ویبپاڼه» ۰

یونی ۲۰۲۰ میلادي

# د زرلښت « ډاډګام » سره ادبي مرکه!

قدرمنولوستونکو!

زرلښت ډاډګام : داسې ویل کیږي چې پښتانه ډېر متعصب خلک دي، د ښځو ازادي بده ګڼي پښتنۍ ته مو تر کوم حده پورې د شاعرانې قلم د بیان ازادي ورکړیده؟

سمیع الدین « افغاني »: دا چې وایي پښتانه ډېر د تعصبه ډک خلک دي زه ستاسو د دې خبرې سره نه تنها چې همنظره نه یم بلکه پدې باوریم چې دا د هغه افغان د ښمنه کړیو تبلیغاتې دریز دي چې په شکل د اشکالو غواړي زموږ په هیواد کې د قومونو ، ورنو او ولسونو په مینځ کې د بې باوریو لړیو ته لمن ووهي٠

او که چیرې ددې پوښتنې فلسفي اړخ ته زیر شو نو دا یوه معلومه خبره ده چې هر څومره چې دیوې ټولنې اقتصادي حالت خراب وي ، خلک یې دولګې، بیکارۍ او بې وسۍ سره لاس او ګریبان وی په همغه اندازه د خلکو فرهنګ او پوهاوي د ستونزو او محدودیتونو سره یو ځای وي .

همدارنګه په کومو ټولنو کې چې د خلکو اقتصادې حالت ښه وې خلک کار، صحت اود حد اقل انساني مزایاو څخه بهره مند وي، په همغه اندازه د خلکو پوهاوی او فرهنګ هم پرمختللي وي.

زما په اند که د خپل هیواد تاریخ ته نظر واچوو د تاریخ په اوږ د کې هر سیاسي نظام چې شتون لرلې هغو صرف د خپلو مافیایي منافعو او د خپلو واکمنیو د بقا لپاره کار کړی اوکه کوم مترقې او عدالت پسنده حرکتونه یې مقابلې ته راوتلي هغه یې په ډیره بې رحمۍ سرکوب کړي او دوي په خپلو میلو او چړچوبوخت اوخپل ځان لپا ره یې ، قصرونه، ژوند، خوند او د دنیا نعمتونه برابر کړي دي.

او که سره لدې هم د ولسونو په ګټه کوم قدرتونه واکمن شوې دي بیا نو د پردو په لمسه زموږ د با دیانته خلکو د پاکو انساني ، عاتفوی او مذهبي احساساتو نه په ګټه پورته کولو سره د یو شمیر خرڅ شوو افرادوپه واسط د پردو په لمسون یا د مینځه تللي او یا هم د وطن څخه مهاجر کیدو ته اړ باستل شوی او یا هم د پردو په اشاره په دار زړول شوې دي.
په همدې او ډیرو نورو دلایلو د تار یخ په اوږدو کې د پردو او اجنبی لاس وهنو او مداخلو په نتیجه کې زموږ هیوادوال یې په تیره بیا په تیروڅو نژدې لسیزوکې د بدبختیو کندې ته ګذار کړي دي٠

پداسې یو د نا ملایم تاریخي مسیر کې نه تنها پښتانه بالکه زموږ د هیواد ټول قومونه او ملیتونه د پوهې او تعلیم څخه بې بهرې پاته کړل شوی دی٠

په یوه ټولنه کې چې صرف په سلوکې پنځه سلنه وګړي یې د تعلیم ، لیک او لوست څخه بهره مند وی د ا طبعی خبره ده چې د خلکو پو هاوی پداسی سنتې او ورسته پاتې هیوادونونو کې نه تنها کوم مشخص قوم بلکه د هیواد ټولو قومونو او ولسونه ښځینه قشر د تحصل اوتعلیم څخه بې بهرې پاته کړل شوی چې د دې خبرې ثبوت د هیواد په ګوټ ګوټ کې احساسیدلی شي.

تر هغه ځایه چې د ښځینه شاعرانو او لیکوالانو پورې تړاو لری باید ووایم چې نن سبا د ډیرو

خویندو د لیکنو او شعرونو سره اشنا یو ، زموږ ډیری ښځینه شاعرانو هم د خپلو خلکو او پرګنو د عنعناتو ، رسم او رواجونو د خپلې ټولني اخلاقیاتو په نظر کې نیولو سره او همدارنګه په ټولني کې د ناخوالو او بې عدالتیو دله مینځه وړلو او ډیرو نور برخو کې خپل تاریخي رسالت د خپلو خلکو او هیواد په مقابل کې احساس کړی چی پدې برخه کې د هغو لاسته راوړني د قدر وړ بولو ۰

دخپلوخلکو سره مینه ، دوطن سره مینه اوخپل راتلونکې ژوند ته په مینه کتل دابه د هرانسان نار ینه وی که ښځه ، مسلم حق وي.

زرلښت ډاډکام : تاسو د پښتو ادب څه ته وایئ ځنګه تعریفوئ او یوپښتون شاعر، لیکوال ته څه په کار ده چې د ادب په چوکاټ کې خپل د ژبی د پاره څه خدمت وکړي او په کومو ادبي تورو کې۰

سمیع الدین « افغاني» : د ادب په اړه څیرنیز ، اکادمیک اوهر اړخیزه بحث به پدې ادبي مرکي کې نا ممکنه وي ځکه چې د پښتو ادب او دهغه تاریخ په اړه ډیرو ادب پوهانو څیرني او تحقیقات تر سره کړي او په سلهاوو مقالي ، کتابو نه بې لیکلي اوهر اړخیزه لاسته راوړني لرلي.
ستاسې د دې پوښتني ځو اب په لاندې څو کرښو کې په لنډ ډول څرګند وم:
په لغت کې پوهې، زیرکی، اخلاقي تهذیب او فضلیت ته ویل کیږي او په اصطلاح کې ادب، : ادب هغه پوهه او ریاضت دی ،چې انسان ته فضلیت ور په برخه کوي او په خپلو کړو وړو کې یې له سهوې او ښویېدني څخه ژغوري ۰
ادب د ژوند داسې هنداره ده چې د ژوند سره تړلو انسانانو او انساني چاپېریال او په دغه چاپېریال کې موجود معاشرتي ، سیاسي ، اخلاق او مذهب او هر څه تر بحث لاندې راولي.
پښتو ادب په ټولنیزه توګه د ادب پوهانو له نظره په دوه برخو بیلیږي چې یوه برخه یې شفاهي یا ګړنی او بله برخه یې تحریري یا لیکلی ادب څخه عبارت دی.
ګړني یا شفاهي ادب یوه برخه یې د پښتو زړې سندرې دي چې شاعر یې نا معلوم دی ، او بله برخه یې اولسي سندرې دي چې شاعر ئې مالوم دی.
لنډۍ ، ټپه ، کاکړي ، غاړې ، لنډۍ ، سروکی ( سریزه ) نارې ، فالونه ، چغیان « اننکی » ، یادهوي، سندرې ، ساندۍ (ساندی ) ، نکلونه ، متلونه ، د سیندو سندرې ، د ماشو مانو ادبیات لکه اکوبکوو، چار بیته ، کیسې ، چې د ذهن ازموینه په غرض ویل کیږی همدارنګه ځیني کیسې لکه انکک بنکک او ډیرې نورې د پښتو شفاهي ادب نموني دي.
لیکلی ادب لکه قصیده ، خواب نامه ، الف نامه ، ساقي نامه ، رباعي ، مثنوي ، غزل، مناجات، حمد، نعت او هایکو ګاني دي.
د پښتو ژبې لمړۍ لاسته راغلې قصیده د اسدغوري قصیده ده چې په ۴۵۰ هجرې کې ویل شوې ده۰

ادب مانا د فرهنګ ، پوهې ،هنر ، معاشره ، په زړه پورې روشونه ، په خبرو کې رزم اوبزم او په اصطلاح کې ادب د پوهنې نوم دی چې پخوانیو دا پوهنه د لغت ، صرف ، نحوه ،معاني ، بیان ، بدیع ، عروض، قافیوی قوانین، خط ، د لوستلو قوانین چې ځینې بیا املا او انشئا هم د ادب سره تړلې بولی.

ادب د ژوند په اړه د کُل مثال لري او د ژوند نورې لارې چارې یې جُزیات دي چې دغه کُل پرې تکمیل کیږي په علمي برخه کې ادب لکه یو ګڼه ونه او دژوند لارې چارې او علوم یې څانګې دي.

د پښتو د ادبي تاريخ لومړۍ دوره له دوهمې هجري پيړۍ څخه پيل او دلسمې هجري پيړۍ تر پايه ان تر يوولسمې پيړۍ تر لومړيو کلونو پورې دوام کوي، د دې دورې ادبي آثار، زياتره متفرق آثار دي او د دې دورې منظم او بشپړ آثار ډېر وخېړونکو تر اوسه نه دي تر لاسه کړي،يا تر اوسه نه دي يې موندلي او يا هم له منځه تللي دي ۰

ستاسې د پوښتنې په دويمه بر خه کې بايد ووايم چې :

نه تنها پښتانه شاعران بلکه هر شاعر ليکوال چې کومې مورنۍ ژبې پورې تړاو لري يا هم په کومې دريمې ژبې کې د شعر ويلو يا ليکوالی توان لرې بايد د ولسونو د ادب د غنا لپاره په مختلفو اجتماعی او سياسی او نورو برخو کې داسې نوې لاسته راوړنې ابتکارات و لري چې د راتلونکو نسلونو لپاره د افتخار ره ډک او تل پاتې بريا وي وياړنې او سر لوړۍ د شاعر او ليکوال ياد ژوندی وساتی .

زرلښت ډاډکام: که يو شاعرغيرد پښتو نه په نوروژبو شاعري وکړي ايا داد شاعر د علمي سويي اوچتوالی او دهغی هنر څخه نمايندګي کوي يا د خپل پښتو ژبی سره د خيانت څخه؟

سميع الدين « افغاني »: وابې که څوک په يوه ژبه پوهيږي هغه يو کس دی او که په دوه ژبوپوهيږي دوه کسه او هر څومره چې په ډيرو ژبو حاکميت ولري د هغه د پوهې اوعلمي سويې د اوچتوالی څخه نمايندګي کوي.
زما په اند ژبه د افهام او تفهيم وسيله ده ، هر څوک حق لرې چې خپلې مورنۍ ژبې ته کار وکړي او که څوک په بلې ژبې حاکميت ولري او په هغه ژبه شاعری او ليکوالي کولای شي دا د هغه د پوهې او لياقت ښکا رندوی دی.
موږ د دنيا ډيری ليکولان او شاعران پيژنو چې په پښتو ، دري ، عربي او ډيرو نورو ژبو کې يې ليکوا لي او شاعري کړی او د ادب په برخه کې يې ډيرې لاسته راوړنې لرلي دي چې د هغو دا ادبي اوعلمي فعاليتونه په نورو ژبوکې د قدر وړ ارزښت لري.
خپلې ژبی ته د خيانت واژه به پداسی علمې او ادبی فعاليتونو کې يوه بې مفهومه خبره وي .

زرلښت ډاډ کام: د جنګ او سولې تر منيځ فرق څه ده ستاسو په اند په نړۍ کې کوم رقم خلک سوله غواړي او کوم رقم خلک جنګ ته لمنه وهي؟

سميع الدين« افغاني »: سوله ، تفاهم ، ورور ګلوۍ دا هغه د خدای لوی نعمت دی چې لوی خدای يې په خپلو هغو بندګانو پيرزوکوي کوم چې د الاهي اوامرو نه په اطاعت سره يوبل ته د همدردي ، همکاري او اخوت احساس پر بنا د بشريت د خير او فلاح لپاره په ايمانداري سره د اخلاص، همغږۍ او ورور ګلوۍ لاسونه ورکوي.
په هغه ولسونو کی چې سوله وي هلته د ترقي ، تعليم تربيت او د امنيت زمينه برابريږی اوهر وګړي د يوي مړي حلالي روزي د پيدا کولو امکانات لرلی شي او د انساني ژوند د برابريدو لپار د لارو چارو پوره امکانات مينځ ته را تلای شي .

جنګ دبشریت مادي او معنوي هستي تباه کوی او په ټولنو کې د انسان وژني ، وحشت او ببریت فضا مینځ ته راوړي د خلکو ، ولسونو او قومونو تر مینځ نفاق مرګ ، ژوبله او بدبختی راولي٠
په ډیره خواشنی سره باید ووایو چې په تیر وخو لسیزو کې د پردو او مداخله ګرو کړیوواو هیوادونو د لاس و هنو په نتیجه کې زموږ هیوادوا ل د مرګ او ژوبلی، نفاق او بدبختیو سره مخ او جبري مهاجرتونو ته اړ باستل شول.
دا یوځرګنده خبر ده چې په نړي کې انسانان د سولي ، اجتماعي عدالت ، همکاري او د هراړخیزه انساني روشونو طرفدار دي ، مګر یو شمیر واکمن قدرتونه دخپل حاکمیت او ګټو د بقا لپاره یواځنی لار جنګ بولي او د خپلو ناروا ګټو د خوندی ساتلوپه مقصد دنورو ولسونو او هیوادونو روا حقوق تر پښو لاندې کوي او په همدې ډول خپلې ګټې د جنګ په دوام کې وینی چې نن سبا دغه د جنګ سیاست والو د نیا د تباهی او نابودی سره مواجه کړې ده.
نن په نړی کې داسې جنګي ټانکونه ، طیارې ، هستوي تباه کونکي سلاح ګاني شتون لری چې کولای شي څو ځله ځمکه د نابودی سره مواجه کړي.

زرلښت ډاډکام: ځینی خلک داسې فکر کوي چې پښتانه تروریستان دي څه فکر کوئ چې پښتانه شاعران په خپلو شعرونو کې توره اوډال څخه ولې ډیر یادونه کوي دوی خلک جنګ ته هڅوي که سولې ته؟
سمیع الدین « افغاني »: زما په اند که څوک داسې فکر کوي چې په یو قوم کې تمام خلک ښه او یا بد دي داسې یو نظر صرف د با غرضه ، او افغان د ښمنه افرادو تبلیغاتي نظر دی چې پدې ډول غواړي د قومونو او ولسونو تر مینځ د بې باوریو لړیو ته لمن ووهي او پدې ډول زموږ په هیواد کې دنفاق اوشقاق زمینه برابره کړي.
په هر قوم ، ولس او ټولنه کې ښه یا بد خلک شتون لري ، موږ باید د انسانانو نیت ته وګورو نه د هغو ژبه ملیت او قوم ته ٠ دا چې د تروریزم تعریف څه دي او څوک د تروریزم حامیان دي او څوک غواړي د تروریستي اعمالو په سرته رسولو سره نړی د بې سباتي سره مخ کړې دایو لوی بحث اوسپیناوي ته اړتیا لری خوپه نړی کې نه تنها پښتانه بلکه د تماموقومونو ولسونو او هیوادونو دنده ده چې د دې انسانی د ښمنه پدیدی په مقابل کې خپلې مشترکي سر ښندنې په مخ بوځي او پرېنږدي چې د بې ګناه انسانانو ژوند ، هستی او بقا د نابودی سره مخامخ شي.

ستاسو د پوښتنې د دویمې برخې په ځواب کې باید ووایم چې : هره مشخصه تاریخي پیړي عصر او زمان ځانله خپل ځانګړي خصوصیات ،ارزښتونه او ویاړنې لري ، په نړی کې کله چې ساینس او تکنالوژي دومره پرمختیا نه درلوده جنګی او تحنیکي وسایل او وسایط دومره انکشاف نه وه کړی په هغه عصر او زمان کې د هیوادونو دفاعی طاقت د انسانانو مټ ، بازو ، شهامت ، توره او ډال تشکیلو ه چې زموږ په ګران هیواد کې پښتنوهم د نورو ورنو او قامونو سره یو ځای د خپل مټ ، توری او ډال په زور پردی تجاوزګرو هیوادونو قوتونه په شا تمبولې چې په هغه عصر او زمان کې زموږ ګر ان هیوا د افغانستان یوه لویه امپراتوري وه چې زموږ دباتورو هیوا دوالو د توری او ډال په زور او شهامت اداره کیدله چې د افغان اصیل بچیان پدغه تل پاتوکارنامو ویاړ ي او یادونه یي کوي.

زرلښت ډاډکام: ښځينه احساسات په ليکوالي او شاعري کې څه ته وايي؟

سميع الدين « افغاني »: په شعر او شاعري کې ښځينه احساساتو په اړه به د ښځينه شاعرانو او ليکوالو نظر يا احساس يو حقيقي او واقعي تصوير او ځواب وي ، ښه به داوي چې د داسي پوښتنو ريښتينی ځواب له هغه ښځينه ليکوالو او شاعرانو څخه چې نن سبا د ادب په ميدان کې ښې ځليدلي دي تر لاسه کړی ۰ تر هغه ځايه چې زما په يو شمير شعرونو کې دا احساسات منعکس شوي لکه لاندې څو بيلګې:

نورشيان يې ډيردي داپايزيب يې څومره ښکلی دی
مورې بنجاره مـــامـــا راغلی دی
مورې پيسې راکه چې پايزيب مې ډيرخوښيږي
رنګ رنګ سيخکونه په اوربـــل مې هوسيږي
عطر شام پاريـــس مې په دمـاغ ډير ښه لګيږي
نقدی پيسې نه وي ماما پور پـــه ځان منلی دی
مورې بنجاره مـــامـــا راغلی دی
اخـــلم دنداسه چـــې دنداسه مې ډير خوښيږي
سرې شونډې چې ګرځم نو اشنا مې خوشحاليږي
تورې تورې سترګـــې پـــه کجلو ښه ښکاريږي
سرو زرو چارګل ماما پـه برجب کې ساتلی دی
مورې بنجاره مـــامـــا راغلی دی

دا هغه د سترګو ليدلی حال دی چې په کليوالي ژوند کې ترسترګو شوی دی او يا:

مـــازيګر دی زيری لـــمر دی
خـــوږ اشنـــا مې مرور دی
شينکی خـــال په تنـدي ږدمه
خپـل اشنـــا خوشحـــالومه

دا په ټولنو کې د هغه ښځينه شاعرانو د شفاهي او ليکنيز ادب انګيزې او تاثيرات دي چې کله کله بې نارينه شاعران هم د شعر په قالب کې ځای ورکوي

ډيره مننه ستاسو د ادبی مرکي نه

سميع الدين « افغاني »

# شپږم فصل

## د سمیع الدین « افغاني » په آثارو باندی لیکینې:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | یاره ستا په اننگو کښې ...! | پروفیسور عبدالله « بختانی» |
| ۲ | سریزه! | څېړندوی حبیب الله « رفیع » |
| ۳ | د وطن یادونه ! | شاه محمود « حصین » |
| ۴ | شین خالی د سمیع الدین « افغاني » لیکنه ! | شهسوار « سنگروال » |
| ۵ | نالیدلی سمیع الدین « افغانی » ! | اجمل اټک « یوسفزی » |
| ۶ | د سمیع الدین « افغانی» د شاعری په اړه څولند ... | پوهندوی محمد داود « وفا » |
| ۷ | د شین خالی کیسه د انځوریزی شاعری... | نجم الدین « سعیدي» |
| ۸ | د سمیع الدین « افغاني » لیکل شوي اثار | فضل الرحمن « سیرت » |
| ۹ | یاره ستا په اننگوکی ! | څیرنپوه دوکتورعبدالظاهر «شکیب» |
| ۱۰ | مینه پال شاعر ! | استاد تمهید « سیلاني » |
| ۱۱ | سریزه ! | مصطفی « آرین » |
| ۱۲ | داغلي زړونه ! | زرلښته حفیظ « بشریار » |
| ۱۳ | زه دویم یم ! | افضل « ټکور » |
| ۱۴ | باز گشت ! | مل |
| ۱۵ | داغلی زړونهٔ ! | د حق دلاری کلتوري ټولنه |
| ۱۶ | نړیدلی جونگړه ! | د خق لاری کلتوري مرکز |
| ۱۷ | د هیواد وتلی شاعر او لیکوال سمیع الدین «افغانی » | قاضی نثار احمد « مصلح » |
| ۱۸ | خپلی خبرئ ! | سمیع الدین « افغاني » |

# یاره ستا په اننگو کښې ...!

ځنګه چه ښایست یې د اشنا په اننګو کې دی ـ هسې یې غزل د نا اشنا انځوره ووځي

د ځوانۍ په وخت به چه د چا د ښادۍ مراسمو ته تللو ، نو په تلو، تلو کې به دا پوښتنه طرحه کېدله چه څه به یې پاخه کړي وي ؟ د غوښې سره شوله که بې غوښې ؟ خوندور ځواب « پولاو » و ۰مګر زما او زما غونډې ، د ځینوسرګشته و، نه دا پوښتنې خوښېدلې او نه دا ځوابونه زموږ په زړه پورې پوښتنه داوه سندرغاړیې څوک دی ؟.

اسلم ، بادام ، فیض ګل ، حافظ ، مشکي ، بسم الله ، ایوب ، رحمت ګل ، ګلرنګ ۰۰۰یا ؟

واده ته به ورسېدو څه شی به چه تیار و هغه به د یار و ،هغه به مو په خوند خوند وخوړل ۰۰۰۰ بیا به له ماسخوتنه تر سپېده داغه پورې د سندرو په اورېدو نه مړېدو ۰ د بهاړې ، بیرمې ، بیاګ ، کستوري ،کلیان ، اسا اوجوګ په راګونو کښې به مو سندرې: مقام ،غزل ، لنډی، چهار بیتې ، لوبې ، بګټۍ ۰۰۰ او په هغو کښې به مو په ډېره مینه ، دمینې سندرې اورېدلې۰ دیار دمینې، د وطن د مینې او د خدای د مینې د استاد الفت د مینې دیو غزل دا بیت الغزل ، د هماغه زمانو یادګار دی۰

چه په حجرو کې یې د عشق سندری ــ هره شپه اورم ننګرهار ښه دی

مګر اوس ، د ماشیني نړۍ د ترقۍ او پر مختګ په زمانه ، په یویشتمه سدۍ ، یا د کمپیوټر په دوران کښې پر موږ بدبختانو ، د دې ورستیو دېرشو کلونو ، د پرله پسې تپل شویو خونړیو جګړو ، د نړۍ د راز راز پرمختللیو وسلو د ازموینو د درز او دروز پدې دوزخي زمکه او اسمان کښې ، چه د چا خپلوان ، عزیز، دوست او اشنا د ښادۍ کارت راشي ، نو کارت وګورو چه د شپې له خوا ، د یو مجلل عصري هوټل تالار ته یې بللي یو . مننه مبارک دې شي .
هلته د خوړو غم نه وي ۰ د هر مېز ګرد چارپېره دولس تنو غذا سرویس کیږي ، شوله خو درک نه لري ، څلور پنځه ډوله پولاوونه ، څلور پنځه ډوله غوښې ، سالندونه ، فیرنې ګانې ، مېوې او کوکا کولا ګانې ...
دولس واړه زمریانو مېلمنو حمله په غوښو وي ۰ وریجې هسې پاته شي ۰ هسې هم زیاتره پخ کړي شیان باسي او د پرون ، بل پرون او لرغونیو پرونونو د ودونو پاته شوني وي.

خدای دې د هغو مل شي چه وخت ناوخته یې د وینې د فشار یا د معدې د تېزاب درجه جګیږ...

راغلو د سندرو اورېدلو ته :

هلته سندرغاړو ته ډیر ښه ستېژ جوړ شوی وي ۰ په اوتو کړیو دریشیو او ښکلو نیکټا یي ګانو ، منظم او مهذب ،(( هنر مندان )) او کله نا کله (( بې هنران )) ناست وي او سندرې غږووي ۰ هغه سندرې چه موږ په ځوانۍ کښې اوریدلي هغه نه ، هغه استادان خو زیاتره وفات شوي دي خدا دی یي وبخښي ! د هغو د زامنو لمسیانو څخه ، خدای دی یي لري ، سندرې اورو سندرې خو سندرې وي (( خو ))، بیا هم (( خو ))، خو دنوي عصر د تخنیک زور هم ور سره شیي ، او د موسقۍ خوږ اواز ، د راکټونو، توپونو او بمونو د اواز غونډې اوچت شي او غوږونه کڼوي.

په يو واده کښې ، همدا چه ډوډۍ مو ونغړله ، نو يو ملګري راته په څه طنزي لهجه ويل:

استاده ! که دې خوښه وي نو رسخت به واخلو ، و به تښتو.

ما وويل : ولې ؟ هغه وويل : ته پوهيږې چه افلاتون ويلي دي :
(( موسقي د روح غذ ا ده ))٠ مګر ... زه پوه شوم ٠ پاڅېدو ٠ په ولاړه حالت کښې ما وويل :
بېشکه! که الله پاک پدې يوويشتمه پېړۍ کښې ، افلاتون را ژوندی او يا زموږ په ټولنه کښې نوی افلاتون را پيدا کړي ، نو پر موږ به د هغه ذات د بې شمېرو احسانونو تر څنګ د هغه دا احسان هم وشي ٠ چه ، دې زماني ځينې کسانو ډېر تبليغ کړی دی چه (( فلسفې افلاس کړی دی )) د دې پرو پاګنډې په اثر د نړۍ د فيلسوفانو بازار سوړ شوی ،او د هغو پر ګدۍ سفسطه بازان ناست دي.
اودې سره نړۍ د فلسفې په افلاس اخته شوې ده٠ نو نوی افلاتون به خپله هغه زړه خبره ((موسقي د روح غذا ده )) بيرته واخلي او داسې حکم به صادر کړي (( موسقي د روح عذاب دی ! ))٠

او دې سره به د فلسفې او فيلسوفانو ارزښت هم يو په دوه شي٠

چه روان شوود موسقۍ لمړنی درز پورته شو... څو چه د تالار دروازې ته ورسيدو، د سند ر غاړې غږ مو ترغوږ شو.

يارە ستا په اننګو کې
چه د چا د وينې رنګ دی ؟
زما د پاکې مينې
حقيقت پکښې څرګند دی...
او درزی درزی ، درزی درزی...

نه پوهيږم چه د دې سندرې بخت او طالع وې ، که د نورو ټولو اوسنيو په خلاف د دې سندر مارو مهارت ، چه د شعر د الفاظو د ادا کولو پر مهال يې د موسقۍ د الاتو غږونه ډېر ټيټ کړي وه.

نو ملګري مې وويل :

ها ... د حمزه با با غزل وايي.
هملته لږ څه ودرېدو او سندر ه مو تر پايوه واورېدله او يو څه خوند مو ترې واخيست ٠ يو څه پدې چه د سر تاوولوپه وخت بيا د موسقۍ په اوازنو د توپونو غرمبهار جوړېده او زمونږ غوږونه يې کڼول ... زه خو ودونو ته ډير نه ځم ٠ که د سيا لۍ شريکۍ د ډيرې بې اندازې مجبورېۍ نه ولاړ هم شم ، بيا ورته ډېر نشم کښېناستلی ٠خو دا سندره مې بيا ، بيا څو ځله د راډيو ګانو او تلويزيونونو له لارې ډيرو مختلفو سندر غاړو په اوازونو کښې ، د موسقۍ د سم ، مناسب او معتدل غږ په ملګرتيا خو اورېدلې او خوند مې ترې اخيستی دی.

خو! څرنګه چه يو د سندرې په کسر کښې د هغه د شاعر نوم يا تخلص نه اورېدل کېده او په هوټل کښې د خپل ملګري نه مې اورېدلي وو: د حمزه بابا غزل ... نو د غزل په مکرر اورېدو به مې دا تلوسه زياتېدله چه که د غزل په کسر کښې د شاعر نوم يا تخلص واورم.

حمزه بابا خو د خپلو غزلو په کسرونوکښې خپل نوم ځای کړی دی او دلته ...؟

عبدالرحیم یوه ( سي - ډي ) یا ( ډي - وي - ډي ) چالانه کړې وه ۰ ما په هغه کښې دغه سندره د (نازیه اقبال ) په اواز کښې اورېدله او کسر ته یې منتظر وم ۰ دی کښې زموږ د انګړ ور وټکید ۰ عبد الرحیم ولاړ ډیر زر بیرته راغی۰

په دوه اتیا مخونو ، د کمپوز شویو شعرونه همدغه مجموعه یې راکړه او راته یې ویل : ( افغاني صاحب ) غواړي چه پدې کتاب باندې څه ولیکې!

د مجموعې پاڼې مې واړولې ۰ ( د مینې رنګ ) غزل ( یاره ستا په اننګو کې ۰۰۰۰ ) مې سر تر پایه ولوست او ایله وپوهیدم چه دا ښکلی رنګین شعر ، د همدې مجموعې د ویناوال ښاغلي سمیع الدین « افغاني » دی.

څو نور شعرونه مې هم و لوستل ۰ زیاتره خوندور وو ۰ ستړی شوم ۰ په چرت کښې ولاړم ۰ هلته د ( ویښ زلمیانو ) په باره کښې کتاب لیکم دلته زما د ( یو دوه ګوتي کاغذ... ) د کتاب څه د پاسه د یارلس سوه مخونو ، پروف راته پروت دی ۰ زوړ یم او جوړ نه ۰ ډاکتر راته دوینو دغوړ د لېږې کولو لپاره دوا نه ده راکړې او د هرسهار یو ساعت سپورت او د مازیګر دوه ساعته د پلي ګرځېدو سپارښتنه کړې ده ۰او دې سره دا عزیزان ، دا کتابونه او دا تقریظونه ، په دې وضعه...

مازیګر وه ۰ پاڅیدم ۰ په چکر شوم ۰ زموږ د کور مخې ته سرک نوی قیر شوی دی ۰ مازیګر په همدې ځم راځم ۰روان یم ۰ یو څه وړاندې ، په کوڅه کښې څو تنه ماشومان وو ۰ لوبې یې کولې . یو څه باد هم چلېده ، د کوڅې دوړې یې هم بادولې ۰ چه ورنژدې شوم ، وپوهیدم چه ماشو مان په ګډه ، د یوکوره س په شان ، په خپل ماشومانه غږ ، دا سندره وایي:

یاره ستا په اننګو کې...

پوه شوم چه دا سندره اوس نه یوازې د مشرانو استادانو هنر مندانو د خولې سندره ده، بلکه د ځوانانو او ماشومانو د خولې سندره هم ګرځیدلې ده.

خو یره کشکې په ودونو کښې،هغه د توپونو دګړزهار په ځای همدغسې ماشومان همدغسې سندرې ووایي...

په چکر چکر کښې ، زما په ذهن کښې ، نژدې د څلو یښتو کلونو د مخه یوه کیسه راتداعي شوه. او داسې:

و ، نه و، زموږ د هېواد یو وزیر و ، له نامه سره یې د (ډاکټر) علمي لقب هم لګېدلی و ۰ ډاکټر وزیر په دې مشهور و چه پښتو او پښتنو سره ډیره مینه لري ۰ ډیرو کسانو به ویل چه په ډاکټر صاحب باندې وطن ډېر ګران دی ۰ هغه ډېر وطنپال شخصیت دی.

یوازې ښاغلي صفی الله اسد سفیر به ویل :

افغانستان پر ډاکټر... ډیر ګران دی ۰ مګر، هغه په ګران وطن کښې هغه وخت شپې تیروی ، چه دی پکښې د کابینې وزیر وي ...

په هغه زړو ورسته پاته زمانه کښې زموږ یوازې یو وطنپال دغسې و ۰ اوس پدې ورسته وروسته زمانه کښې ماشاالله زموږ ډېر وزیران د غسې دي چه وطن پرې ګران دی ۰ مګر پدې ګران وطن کښې په هغه مهال جره ا و سپړي چه دی پکښې د کا بینې وزیر وي.

د کابینې هغه محترم غړی د معارف وزیر و ۰ د پښتو ټولنې ریاست رسما د معارف وزارت پورې مربوط و. د پښتو ټولنې ریس پوهاند صدیق الله رښتین و ۰ زه هم د همدې ټولنې علمي غړی وم.
یوه ورز رئیس صاحب موږ ټولو غړو ته د استعلام په ذریعه خبر راکړ چه سبا په لسو بجو وزیر صاحب پښتو ټولنې ته تشریف راوړي او تاسو سره ملاقات لري ۰ نو تاسې به په همدغه مهال د ریاست په دفتر کښې حا ضر اوسئ!
حاضر شوو ، وزیرصاحب راغی... کښیناست ۰ د علم او معارف وطن او ملت ، پښتو او پښتنو په ارتباط یې ځو جذباتي خبرې وکړې ، د کار ټکی پکښې هیڅ نه و ۰مګر موږ یې ټول تر اغېز لاندې راغلو ، بیا یې وویل :

دا پښتو ټولنه ده. موږ او تاسې رسما مکلف یو چه دلته دې ټولنې د مرام او مقرراتو سره سم ، پښتو ملي ژبې ته علمي خدمت وکړو نو لطفا تاسې هر یو خپل نظریات ووایئ ... تقریبا موږ ټولو خبرې وکړې. بیکاره او دکار خبرې.

ډیرو به د پښتو او پښتنو په باره کښې احساسات څرګندول ، ځینو به پدې برخه کښې د وزیر صاحب د شخصیت په ستاینه کښې مبالغه کوله۰ یو نیم د پښتو ټولنې ځینې معمولي ضرورتونو ته د وزیر صاحب توجه اړول.
داسې کسان هم وو چه د افغا نستان د نورو ژبو د ویونکو د ځینو عناصرو او اشخاصو یا د ځینو بهرنیو هیوادونو له لاسه د پښتو د مخنیوئ په برخه کښې ربښتیا او دروغ شکایتونه کول ۰ ځینو به زور واهه چه د یو لړ قالبي الفاظو او علمي ترمونو اولغتونو په استعمال خپل علمیت او لیاقت ثابت کړي . د نورو ملګرو مشخصي خبرې رانه هېرې شوي دي ۰

خو زما د لنډو وړاندیز لنډیز داسې کېدای شي :
په ځینو طبعي خصلتونو کښې ، فرد او ټولنه، یو تر بله سره ورته والی لري. که یو فرد خپله روغتیا وساتي ، ورزش وکړي ۰ سم او مناسب خوراک ولري او ځان قوي او مضبوط کړي ، که له بهره څخه وجود ته یې مکروبونه هم ننوځي ، د هغه د وجود مقاومت په اثر د هغه مکروبونو اغېزه کمېږي یاله مینځه ځي نو که ټولنه ، خصوصا پښتو ټولنه او د هغه غړي سم کاروکړي، د ښې مطالعې په اساس د منطق او استدلال او علمي اسنادو او شواهدو سره ښې لیکنې او تالیفات ټولنې ته وړاندې کړي ، بیا نو ټولنه پخپله ، موږ په کار قناعت کوي ، چاته د مخالفت څه موقع په لاس نه ورځي او که ورشي هم مخالفت یې دومره تاثیر نه کوي...

وزیر صاحب خپل ساعت ته وکتل . ویل : دولس بجې شوې په کاروو کښې ستاسو بریالیتوب غواړم. تاسې خپلو کښې سره کښېنئ ، د همدغو خبرو په اساس خپل کارونه تنظیم کړئ ۰ که ماته موڅه امر کاوه و رسمي وړاندیز راته وسپارئ. زه ستاسوپه خدمت کښې یم ... د خدای په امان.
د پښتو ټولنې رئیس موږ ته وویل : تاسې نور هم فکر وکړئ ۰ د دې خبرو په اساس ، او که تاسو سره نور نظریات هم وي ، سبا به سره کښېنو او...

مازیگر زه د استاد الفت د لیدو به تکل وخوزېدم ۰د هغه کور د ((چمچه مست )) د خوړ په غاړه ، په شېر شاه مېنه ( څلورمه کارته ) کښې و ور روان وم ۰ هلته د کارتې د کوڅو په دوړو کښې پینځ شپږ تنو ماشو مانو په جګ اواز سندره ویله:

زما ښکلی جانانه. زه جار شمه له تانه. ما مه شړه له ځانه. قربان دې شم. قربان دې شم. السلام. السلام.

ښاغلي رحیم ګل غمزده خپله دغه سندره په هماغه وختونو په کابل راډیو کښې ویلې وه ۰ په محافلو کښې یې هم اوروله او د ځینو نورو سندر غاړو له خوا هم ویل کېدله ۰ او تر اوسه اورول کېږي.

زه چه دغو خړ سرو سندر بولو ماشومانو ته نژدې شوم ۰ ورته ودرېدم ۰ بیا مې ورسره لږه مرکه هم وکړه . وپوهېدم چه دا هلکان د همدې ښار اوسیدو نکي په ختة هزاره ګان دیي ۰ او ژبه یې دري ده ... سبا ته د پښتو ټولنې غونډه جوړه شوه ، نو ما دا کیسه وکړه او زیاته مې دا خبره سمه نه ده چه موږ وو ایو فارسي ژبي د پښتو مخه نیسي۰

د کابل ښار فارسي ژبي هزاره ماشومان چه په خوند خوند ، په ډېر شوق او ذوق ، پرته د چا د وینا اوتقاضا نه ، پښتو سندره وایي او خوند تري اخلي، د دوو حقیقتونو څرګندونه کوي:

لمړئ دا چه په سندره کښې هنري زور دومره زیات دی چه یوازې د پښتنو نه ، یوازد سندرغاړو نه ، یوازې د مشرانونه ، بلکه د کوڅې ماشومو هزاره ګانو په زړونو او ذهنونو یې هم دومره اغېزه کړی دی چه دغه سندره په ډېر شوق و ذوق او احساس د هغو په ژبه جاری شوې ده...

دوهمه دا چه (( دا زه پښتون یم ته هزاره یی )) او (( دا زه فارسي وایم او ته پښتو )) خبره د یو لړ نا بالغو ۰ په نامه روښانفکرانو ، د غرض او مرض خبري دي.

او نور پاته اولس ، لوی او واړه، پښتون او هزاره او ... په یو صف کښې ولاړ دملي هنر (( ښکلي جانان )) ته دمینې سلام وړاندې کوي او تر ښکلا یې ځارېږي...

د تېرو هېرو خاطرو همدې خوږو خوندونو سره کور ته ورسیدم ، د افغاني صاحب د شعرونو د مجموعې د خیالونو نور خیالولي شعرونه مې هم و لوستل ۰ دغسې (( د یار دمینې )) نورې سندرې هم ۰ یوازې دا نه ، دوطن او ملت ، د افغان او افغانستان د مینې سندرې هم ۰ او یوازې ، د محبت ، صداقت ، افغان ، دا افغانستان دی ، دا څه حال دی ؟ تر عنوان لاندې منظومې نه ، بلکه دغسې نور غزل او نظمونه هم ، د وېناوال ددغسې مینې څرګندوی دي.

ما ډېرې خبرې وکړې ، زه خپلې خبرې بسوم ، تاسې لطفاً ما وبخښئ او مجموعه ولولئ.

په درناوي

ستاسو خدمتګار
عبدالله بختانی
کابل ـ خیرخانه
د ۱۳۸۸ د زمري ۱۲ مه

# د مینې رنګ

یــــاره ستــــا پــــه اننــــګوکې
چــې د چــا دوینــې رنګ دی

زمــــا د پــاکــې مــــینــــې
حقیقت پــــکې تــــر څنګ دی

دې ویــــل تورې په رنجو دی
ماویل سترګې دې خوږې دی

ما ویل مینــــه دې سوراورډی
دې ویل یـــــار د ونې دنګ دی

مــــا ویل زمــــا سره اشنا شه
دې ویــــل زمونږ کلي ته راشه

مــــا ویــــل مینه رسوا کیږی
دې ویــــل یار زما ملنګ دی

ما ویل ښکلي دې ځواني ده
دې ویــــل مینــــه رسوایي ده

مــــا ویل زه دې لیــــونی کړم
دې ویل یارمې غنم رنګ دی

ماویل سپینه خوله دې راکړه
دې ویــــل مینــــه کړې بې باکه

ما ویــــل زړه ته مــې نژدې یې
ویل زه شمع یارمې پتنګ دی

مــــا ویــــل راشه مازیګر ته
دې ویــــل دربــــه شم ګدر ته

مــــا ویــــل لاره به دې څارم
ویل منګی مې شین په څنګ دی

***

سمیع الدین« افغاني »

# سریزه!

**دا عادت دی چې له درده زګیروي خېژي**

**ګنه څه وو د رحمان له شاعرۍ**

**« رحمان بابا »**

ښاغلی سمیع الدین « افغاني » همداسې دردېدلی او ځورېدلی افغان دی چې د ده د نوې ځوانۍ په تاند پسرلي کې د ده هیواد د پردیو د ګولیو د ږلیو ښکار شو او د ده آرام او د بشپړ امنیت په غېږه کې اوسېدلی ملت د نا آرامۍ او جګړو غېږې ته ولوېد او راز ـ راز بدبختیو او بدمرغیو دې هیواد او دې ملت ته خولې خلاصې کړې.

د همدې تودو جګړو پر وخت دی د لوړو زده کړو لپاره له هېواده بهر لاړ، په دې هیله چې مسلکي زده کړې وکړي او بیا د هیواد د آرامۍ او د خپل اولس د هوسایۍ په لاره کې خدمت وکړي خو چې بېرته راستون شو جګړې نورې هم خونړۍ شوې او د هیواد نا آرامۍ نورې هم زیاتې شوې وې.

افغاني دراک، حساس او دردمند افغان ؤ دې ټولو پېښو یې په زړه او ضمیر، په وجدان او احساس ژور اغېز کاوه او د ده دردونه یې زیاتول تردې چې ددې پېښوتوپاني سیلاب دی هم ورسره واخیست او د مهاجرت په بې سره او بې لوري کاروان کې یې المان ته ورساوه.

د هیواد او د ده د ملي ژوند دا ټول دردونه ډېر درانه شول، د ده په حساس احساس یې فشار راوړ، له زغمه یې ووتل، زګیروي شول او دا زګیروي یې د شعر په بڼه له خولې راووتل او په دې ترتیب یې د دردمن او ویرمن شعر لړۍ راپیل شوه.

ښاغلي سمیع الدین « افغاني » د خپل ژوند هرې خوا ته متوجه شو او د هیواد د دردونو او غمونو په هره برخه یې رڼا واچوله او په شعر کې یې انځور کړې. ده د خپلې طبعې ځپانده شعري چینه همداسې طبیعي وساتله او له دې چینې نه لاس ته راغلي شعري ځاځکي یې په همهغه بڼه د کاغذ مخ ته ورسول او خپل شعرونه یې بې ساخته باخته په بېلابېلو ټولګو کې تنظیم کړل او موږ ته یې راورسول.

د ده شعرونه د ده دردمنو هېوادوالو په مینه واورېدل او افغاني هنرمندانو د ساز له څپو سره مله کړل.

د افغاني صاحب په شعرونو کې له اجتماعي دردونو سره ، سره د مینې سویې نغمې هم شته او د سوي هیواد رنګین یادونه هم او له دې سره د ده په شاعرۍ کې د ادبي رنګینیو پر ځای د هدف بیانولو ته زیاته توجه شوې او د خپل زړه رازونه یې د رمزونو له پوښ نه بهر په صراحت او څرګندو لفظونو بیان کړي دي.

ښاغلی افغاني له هیواده لیرې خو د هیواد یادونو له هیواد سره نژدې ساتلی او د هغه ظالمانو په لټه دی چې زموږ پر وطن یې ماتم راوستی دی:

په وطن موجوږ ماتم دی

تورتمونو کې مو شپې دي

دا د کوم ظالم له لاسه

چې ظلمونو کې مو شپې دي

***

ګران وطن راته سور اور شو

د دوزخ لمبې ترې خېژي

بل محشر ته حاجت نشته

قیامتونو کې مو شپې دي

دا د کوم ظالم له لاسه

چې ظلمونو کې مو شپې دي

***

له دې سره زه خپلې خبرې رانغاړم، افغاني صاحب ته د ژوند کامیابۍ او کامرانۍ غواړم!

په درنښت

څېړندوی حبیب الله « رفیع »

کابل، درېیم پروان

د ثور میاشت ، د ۱۳۹۰ هجري شمسي کال

# د وطن یادونه!

د « وطن یادونه » د سمیع الدین « سعید افغاني » د شعرونو ښکلي مجموعه د پښتو او پښتنو د ځېل شوي ادب په دنیا کې د رنګارنګ ګلونو څه نوې شان ګېډۍ ده چې د شعر او ادب مینه والو ته بې و ړاندې کوي ۰

سمیع الدین « سعید افغاني » شاعر دی، د هغه په شعرکي د هغه هیلې ، دردونه ، مینه او ارمانونه ژور ټولنیز ، انساني او بشري رنګ لري ۰ د سولې، هوساینې او نیکمرغۍ تږی دی.

د خپل ځېل شوي وطن د زوریدلي انسان په دردونو اوښکې تویوي ، د کرکې ، نفرت او توپیر غوښتنې پر ځای د مینې او محبت اواز اوچتوي د ارمانونو ارمان بې خپل خلک خپله مینه اوخپل وطن دی، دخپل وطن په روان ناتار زوریږي او وایي:

په وطن مو جوړ ماتم دی
تورتمونو کې مو شپې دي
دا د کوم ظالم له لاسه
چه ظلمونوکې مو شپې دي

د هیواد د زخمي زړه، کابل په ویر ناست دی، له وطن څخه د لریوالي غم بې دزړه وینې خوري او د پردو پردي کتنې بې د شاعرانه احساس روح ته عذاب شي ، کله د پښتنوخوږ ژبی ملي شاعر ملنګ جان ته مخه کړي او کله بیا د وتلي شاعر او نامتو ادیب ګل پاچا الفت د ارزو ګانو د راژوندي کیدو هیلې پالي، په تیرو ویاړي اوپه روانوژاړي اودسولې ، ورورۍ او هوساینې په هیله دنفلونو سجدې په غاړه اخلي ، دشکونواو بې باوریو تورو لړو ته زوریږي او همدغه څه د افغان ولس د ناورین د اوږدیدو دلیل بولي ، ومو ویل چې هغه شاعر دی، د شاعر دنیا له ټولو غمونو او دردونو سره سره تنګه ، تروشه او یولې نه وي، درد لري ، سوز لري، ساز لري ، مینه هم۰

یار چې کړم بیمار د لیونو په چم
دود شوم په انګار د سپیلنو په چم

او کله چه غم پرې زور شي نو بیا رندانه د رندانو جمع ته ځي او د خپل زړه خبرې کوي:

زه د رندانو او مستانو جمع ته
چه کله ځمه بیرته نه راځمه
زه د بد مسته مې خورانو جمع ته
چه کله ځمه بیرته نه راځمه

خو زه شاعر پیژنم ، هغه د مستي، رندۍ او میخوارۍ نه وه او نه دي۰
در دونه ، رنځونه او د روراني زماني د انسان بې غوري بې پسې اخلي او د تیښتې یوه لار لټوي.
د ده په شاعرانه احساس کې د رندانو او مستانو دنیا له درغو ، ریا، تذویر او سالوسۍ څخه پاکه

د مینې او محبت دنیا ده نوځکه هغه لوري ته مخه کوي او چه هلته دردونه او پیالې سپکې وینې نو ساقي ته په ملامت کې وايي:

ساقي تاثیر دې په پیالو کې نشته
ځکه چه خوند یې په نیشو کې نشته
هسې مې بوزه د مستیو لور ته
چې د جنت په کنارو کې نشته

د شاعر کلیوالي سندرې چې د ملنګ جان د ملي نارو اثر پرې پروت دی خپل ځانګړی خوند او اشنا موسقي لري.

د بنجاره بنجاره په نارو کې د وطن تیر یادونه پالي ، دحسنونو سوداګر مخې ته درېږي ، دنارنج د ګل په یاد د ښکلي ننګرهار یادونه کوي او دهمدې محلي سندرو په لړ کې د خوږ ژبي محلي شاعر بهايي جان د شیر او شکر سندرو په سبک د خپل پردیسي ژوند سندره بولي او وايي:

څه چه ځو بهر ته سېل به وکړو د ملکو
توهم بیا برو ګلم تو هم بیا برو
نه ځمه بهر ته ځما خپل وطن یادیږي
څه کړم عبث ژوند دی په وطن کې د پردو
توهم بیا برو ګلم تو هم بیا برو

د وطن یادونه د درد او احساس سندرې دي ، ژبه یې ساده ، روانه او بې تکلفه ده ۰ په دغې ښکې رنګینه ډالۍ کې د رنګ رنګ ګلانو نښې شته او په همدې وجه ده چه د هر لوستونکي ادبي تندې ته یو څه لري۰

دا شیبه چې زموږ په ښکلي تاریخي وطن د پیریو پیریو زړه خپسه را خپره شوې او د وطن ډیره ستره انساني پانګه مو د پردیسۍ په نیولي دنیا کې د خپلو هیلو جنازو ته ناسته ده ، همدا د هیلو دردونو ، میني او آرمانونو کوچنۍ ګیډۍ هم لویه ډالۍ ده.

په ډیره مینه

شاه محمود « حصین »

۱۳۸۲ لمریز ـ ۲۰۰۲میلادي ـ کال

# شین خالی د سمیع الدین « افغاني » لیکنه!

خوشاله یم چې اوس زموږ یــو شمیر شاعرانو د شاعرۍ په څنګ کې د پښتو داستاني او هنري ادبیاتو لیکنې ، ودې او پرمختګ ته هم مخه کړې ده ۰

که د تیرې پیړۍ په لمړنیو لسیزو کې د لنډې کیسې لیکوال او مینه وال د ګوتو په شمیر وو خو اوس په لسګونو دي. ولې د ناول او رومان لیکوال لا اوس هم د ګوتو په شمیر دي.

د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ له مخې پښتو لنډه کیسه د لمړي ځل لپاره په « ۱۹۰۸ م کال» وکښل شوه چې د استاد راحت زاخیلي له قلمه څڅیدلي اوښکه ده او« شلیدلي پڼه» نومیږي ۰

همدارنګه نوموړي لیکوال بیاد « ۱۹۰۹ او ۱۹۱۰م » کالو ترمینځ د ماه رخ یا «نتیجه عشق» په نوم ناول چې د یوعیني پیښې انځور دی هم لیکلی دی.

که څه هم له دغه ناول نه دمخه د ژباړې په بڼه موږ ته د دوه نورو ناولونو څرک هم په پښتو ادب کې لګیدلی دی چې لومړی یې « معرات العروس » د میاحسیب ګل ژباړه اودویم ناول بیادتوبته النصوح په نوم یادیږي چې دغه ناول د میا محمد یوسف په زیارترجمه شویدی.

له دې نه را وروسته په پښتو ژبه کې ناول لیکل دود شول ۰ ولــې دومره نه چې د ناول د مینه والو تنده پرې ماته شي ۰

د نیکمرغۍ خبره ده چې دا دستي مې د شین خالی په نوم یو اثر تــر لاسه کړ چې ښایي د افغاني صاحب د سترګو لیدلې کیسه وي چې د نوموړي له خوا کښل شوېده.

کله چې نوموړي ماته د شین خالی په نوم لیکنه راولیږله چې څه پرې ولیکم ، نو په ډیره مینه مې دغه لیکنه سرتر پایه ولوسته ، خدای شته چې زه یې هم خپلوتیرو خاطــرو ته ستون کړم اودخپل کلي ، کور ، اوجړې او دیرې مې کېږي سترګو ته ودریدې.

د شین خالی لیکوال ښاغلي افغاني د خپل کلي ، کور، دود او دستور په خپله لیکنه کې ډیر ښه انځور کړي دي ، د تورګنیف خبره « یوازې رښتیاویل که هر څومر غښتلي وي هنر ندی » نو ځکه خو دداستاني او هنري ادبیاتو لیکوال ته پکار دي چې خپلو لیکنو ته هنري جامې په تن کړي ۰

دهر ناول هډوکي اوبدنه دناول مینځ پانګه جوړوي ،خوددې لپاره چې دناول بدن ته ښکلې اوزړه راښکونکې وریښمیني جامې په تن کړوغوره به وي چې دناول بڼه داسې راونغاړوچې لوستونکی یې له بنې او مینځپانګې نه رنګ او خوند واخلي ۰ یانې ډیالوګونه یې اغیزمن ، ژبه یې خوږه او روانه ، کرکټرونه یې باید لکه بې کلماتو ژبه په سادګۍ سره خپل ځان پیدا کړي ۰

د ناول کیسه باید بازاري نه وي ، ښه به داوي چې ژبه یې له شعارونو نه وژغورل شي په لیکنه کې اضافه کلیمې، بې ضرورته جملې بیا بیا تکرار نــه شي او ناول باید د راپور تاڅ بڼه خپله نکړي

له دې سر بيره د ليکوال ژبه او ډيالوګونه بايد د ناول له پيښو او کـــرکټرونو سره متناسب وي.

نا لوستي کليوال خپله ژبه لري او د ناول ليکوال بايد د هغه ښه استازيتوب وکـــړي . همدارنګه لوستي کرکټر بايد داسې انځورشي لکه څنګه چې دی، ځکه چې ډيالوګونه يو داستاني او هنري

اثر ته سا ورکوي . ولې کله داسې هم په ډراماتيکو اثارو کې پيښيږي چې له ډيالوګونو پرته يو

هنري اثر د لوبغاړي له هنري خوځښت او اکشن سره لکه بې کلماتو ژبه ځان ښيي ، لکه د چارلي

چاپلين ځانګړي حرکتونه چې يواځې ته روح ښيي . نوموړي د يو مرکې په ترڅ کې ويلي دي:

پوښتنه : چارلي که چيرې سينما زيږدلی نه وای تاسې به نن څوک وای؟

ځواب : د هغه دوزخ په مينځ کې چې « دانتي » په خپل ګټور داستان « کميدي الهی » کې انځور کړی دی يو نوم ورکی چارلي وای.

که چيرې موږ د ناول په ليکلو کې د بيلګې په توګه يادو شوو ټکو ته پاملرنه وکړو ، ښايي ناول داسې يو ځانګړی ريتم خپل کړي چې ځينې ډيالـــوګونه يې ځـــان د لنډې کيسې ريتم او شعر ته ورسوي .
زما په اند په هر داستاني ژانرکې غوره ده چې د يوې کيسې اويا ديوې پيښې نکل داسې انځور شي چې د سوژې پټه دبدبه يې زيانمنه نشي .

همدغه لاملونه دي چې د اوسني داستاني ادبياتو پـــلاټ د تيرو اولسي کيسو اوداستانونو په پرتله د توپير وړ دي .کنه د پښتو اولسي داستانـي ادبيات زرګـونه کاله عمر لري چې له پښتنو سره يوځای زيږيدلي دي چې اوس موږ ډيرې بيلګې لرو چې لـــه اوسني ناول سره ډير توپير نلري او همدغه اولسي کيسې په درې ښو موږ ته را پاته دي:

لمړی هغه کيسې دی چې په ديرو ، اجرو کې د نکلچيانو له خوا ويل کيدې او يا ويل کيږي لکه

د دوه ورونوکيسه. د دغوکيسو دويم ډول هغه دی چې ځينې اولسي کيسې په نظم ويل شوې دي لکه ممتاز شاهزاده او ګلوصنوبر کيسې.

دريم هغه کيسې دي چې په نظم او نثر دواړوکې کښل شويـدي يانې د کيسې مينځ مينځ کې نظم ته هم ځای ورکړ شويدي چې دغه کار ښاغلي سميع الدين افغاني هم کړی دی.

موږ په دغولرغونوکيسو کې د ادم خان اودرخانی ، سيف الملوک اوبدری جمالې اوپه لسګونو نورې کيسې يادولی شو.
په پای کې ګران سميع الدين « افغاني » ته دشين خالی دليکلو مبارکي وايم اوپه دې هيله چې درنو لوستونکوو ته په زړه پورې وي .

په درناوي
شهسوار« سنګروال »

۸ ـ ۸ ـ ۲۰۱۰ ميلادی کال ـ لندن

# ناليدلې سميع الدين « افغاني »!

دا دستور دی چې له درده زګيروی خيږي
ګڼې څه و د رحمان د شاعری

په رښتيا چې شعر او شاعري د هر چا کار ندی ، شعر د مينې ، درد ، عاطفې او د يوه سپيڅلي احساس زيږنده ده٠ په يوې ټولنې کې تر ټولو ډېرحساس او سترګور خلک شاعران او ليکوالان ګڼل کيدای شي٠
کله کله يو تن د حقيقي عشق او يا د مجازی عشق پر لمبو وريت شي او تر خولې يې اه او فرياد راووځي، خو ځينې وخت داسې هم پيښيږي چې يو انسان پخپله ټولنه کې نا انډولي او بې عدالتي ويني او په پايله کې يې د همدغې نا انډولی پر لغړن اور زړه او دماغ سوځي ، چې هر ګوره همدا سوز او سوی بيا ورو ،ورو د الفاظو جامې اغوندي او په همدې ډول بيا له زړه نه زړونو ته لارې جوړوي٠
ځينې وخت په نړۍ واله کچه يو شاعر، عالم او ليکوال داسې يوه درد منه او يا خوږلنه وينا وکړي چې په هغې کې به د ډېرو نړۍ والو درد او غم نغښتی وي٠
دا چې انسان يو ټولنيز مخلوق دی، نو پر همدې بنسټ دا وينا بيا دنړۍ پر مخ پرتو نورو هيوادونو او ولسونو ته ځان ور رسوي ، که څه هم د بل هيواد او ولس خلک به د شاعر په مورنۍ ژبه د سره هيڅ نه پوهيږي ، خو دا چې په ټوليز ډول کله کله د انسانانو دردونه يو شان وي ، نو د همدې وروستۍ اړيکي له کبله بيا هر دردمن پرې خپل درد کټ مټ د شاعر په شان تسکين او ټکوره وي٠

ښاغلی سميع الدين «افغاني» که څه هم له خپل هيواده لرې پروت يو افغان مسافر دی ، خو د خپل يتيم وراره ، سرتورې وربرې بې مور او پلاره ، کور او اور يې ژړوي او کړوي ، چې دادی نن يې درد د الفاظو او کلمو په بڼه ستاسې په وړاندې دی ٠

ما لا تر دې د مه ښاغلی سميع الدين «افغاني» مخ په مخ ندی ليدلی ، بس يوازې ا و يوازې د ښاغلي افغاني د خوږ من زړه ، احساس ، کړيکې او سريکې وې چې زه يې هم د يوه دردېدلي افغان په توګه د ښاغلي افغاني صيب د شخصيت سره اشنا کړم ، هو همدا پيوند و، ځکه چې د هغه ( شاعر) د هيواد سرتورې زموږ پت دی او دوطن يتيم بچې زموږ تن دی، د هغې بې وروره کور زما کور هم دی او زما بې اور کور د هغه هم دی، يعنې خوښي او غمونه ټول مو سره ګډ دي.
زه د فن او هنر له مخې د ښاغلي سميع الدين «افغاني» ، پاک او سپيڅلی احساس نه ټکنی کوم ، ټوله ( پرديس خيالونه ) ټولګه مو په لاس کې ده ،تاسې او خپل انصا ف او قضا وت. مګر دا چې شعر مينې ، احساس ، پيغام او انساني عاطفې ته وايي نو ما دا ټول د ښاغلي افغاني صيب په پيبلو ويناوو کې ليدلي او لوستلي دي.

پر ژوند او قلم يې برکت
اجمل اټک « يوسفزی »

د ۲۰۰۹ ميلادي کال ــ ناروې ـ اوسلو

# د سمیع الدین « افغاني » د شاعری په اړه څو لنډې خبرې!

شعر دزړه غږ هغه غږ دی چې له ژورو راپاڅېدلی وي.

شعر د تنهایی او بېوسی په دونیا کې د میني او احساساتو سرچینه ده او شعر دی چې دردمن زړونه ټکوروي او د اوښکو، اسوېلیو او اهونو د ښودانې یودردمن بغاوت په کې په څپو وي ٠

ښاغلی سمیع الدین « افغاني » هم د شعر دونیا ته پنا وړې ده او په دې لړ کې یې له وطن نه بهر د خپل ولس او چاپیریال هیلې انځور کړي دي. لکه چې وایي:

خړ سیندونه سیلابونـــــه مې یادیږي

د وطن شنه، شنـه فصلونـه مې یـادیږي

د ودونـــو او دودونـو رواجـونـو

ها دیرې ها مـجــلسونه مـې یادیږي

سندریزخوږې نغمې دحجرومینځ کې

ها ګـیسونـــــه او کـتونــه مې یادیږي

له وطن سره مینه د ښاغلي « افغاني» په ځېه کې اخښل شوې، ځکه خو د ده زیاتره شعرونه د وطن په مینه راڅرخي. ده تپیزو ته ورتـه داسې شعرونه هم ویلي چې نوي شعري فورمونه یې بللی شو.

دوطـــن غــیـــړه کې مـې کـور وای

تـــل خــوشالـي وطـــن سمسور وای

چې راشه درشه په هـــر لـــور وای

ماته پردي مالت کې خوب کله راځینه

***

د وطن خـــاورې بـــه رانـــجـه کـــړم

دا پـــردیسي ژوندون بـــه څه کړم

چـــې اشنا ستـــا دیـــدن ونــــه کړم

دا بې له تا ژوندون مې هردم ژړوینه

سمیع الدین « افغاني » ګڼ داسي شعرونه هم ویلي چې د ولسي ادب بدلو، لوبو، بګتیو او داستانونو ته ورته دي. او ځینې خو یې بیا سندرغاړو ویلي هم دي.

لکه دا لاندې نامتو بدله:۰

یـــاره ستـــا پـــه انـــګوکې

چـــې دچـــا دوینـــې رنګ دی

زمـــا د پـــاکـــې مـــینـــې

حقیقت پـــکې تـــر څنګ دی

ماویل سترګې دې خوږې دي

دې ویـــل تورې په رنجو دي

ما ویل مینـــه دې سوراوردی

دې ویل یـــار د ونې دنګ دی

افغاني صیب د غزل په فورم کې هم شاعري کړې ده. لاندې دده د یوه غزل څو بیته ګورو:۰

راشه چې سپرلی دې شم ګلزار دې شم

راشه چې د بدې ورځې یار دې شم

ستا په پاکې مینې محبت کې یار

ژوند شمه وږمه شمه بهار دې شم

ته ما ته په مینه مینه وګوره

زه به دې لمبه شمه انګار دې شم

ښاغلی سمیع الدین « افغاني» له وطن نه لیرې مساپر او مهاجر دی، نو د ده زړه به هم په وطن پسې کړیږي دا کړاوونه ده په شعر کې رانغاړلي، خدای دې همت او برکت ورکړي، چې د باذوقه اورېدونکو او لوستونکو زړونه ښاد کړي۰

درنښت

پوهندوې محمد داود « وفا »

د ننګرهار پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځی استاد

د نوامبر میاشت ، د ۲۰۱۹ میلادی کال ـ جلال آباد

# د شین خالی کیسه د انځوریزې شاعری یوه ژوندۍ بیلګه!

**افغاني حسن جوړ شنوخالو دی**
**چې بې وړی زړګی په پلمو دی**

**درنــو لوستونکو!**

**شین خالی دهیواد د معاصر شاعر اولیکوال ښاغلی سمیع الدین « افغاني » یـونوې اثر دی چې د ادب مینه والو ته یې وړاندې کوي ۰**

**هو! د ښاغلی سمیع الدین « افغاني » څیرنیز ، علمي او ادبي اثر چې د لیکوالی او شاعرۍ په تاریخ کې یوه نوې پاڼه ، روش او لاره په ګوته کړې ده چې شعر بې د شاعر د خیال د دنیا څخه د تصویر او حقیقت په شکل ژوندی ترسیم کړی دی ۰**

**د دې اثر په روان کې شین خالی د زړه راز او نیاز دخپلې مور سره په لاندی ډول شریکوي .**

**ځان چې مې سینګارکړه بیانو ځمه د ګدر په لور**
**مورې د هــــمزولـــوسره نـــن د مـــازدیګرپه لور**
**ډ یربــــه شم خوشحاله چــې د یارشم د نظر په لور**
**اچوم ټکریـــې چې افغاني کلتور مو ښکلی دی**
**مورې بنجاره مـــــامــــا راغلي دی**

**داهغه نوې تګلاره ، روش او سبک دی چې معاصرو او راتلونکو ځوانو شاعرانو ، لیکوالانو او خوږ ژبي هنرمندانو لپاره د دې عصر دسمندر د څپانده څپو څخه ساحل ته د رسیدلو لار هواروي ۰**

**ددې اثر په لوستلودهغه لاربنود د اصولو په رڼا کې چې افغاني صیب په ګوتو کړي تر اوسه پورې داسې نسخه او لاربنود لاچاپخوا اوبیا تر دې دمه نه دی وړاندی کړی. چې وروسته لدې به ځوان لیکوالان ، شاعران او خوږ ژبي هنرمندان ترې لازمه ګټه اخلي.**

**پدې اثر کې هغه حساس او په زړه پورې ټکیو ته لاس ورغزول شوی چې په هغه کې خیال او فکر ته کوم چې د شاعر په شعر کې انځور شوی ،دعمل جامه اغوستی او هـــغه انځور چـــې لوستونکو او اوریدونکو نه شو کولای په شعر او اواز کې ژوندی مجسم کړي ، ده ورته علمي نسخه لیکلی او هغه نامرئی او مجهوله غوټه بې په ډیر روښانه ډول پرانیستی ده چــې د شعراو ادب په دنیا کې یو نوې بدلون ګنلای شو۰**

**د بیلګې په توګه دشین خالی ناول چې یوانځوریزه او دشاعر ریښتینی داستان د ی، د زمان او وخت د ناخوالو اومحـدودیتونو ، رســم ، رواج او کلتوري بندیزونو پر بنسټ بل رنګ بل نوم بل زمان او بل مکان ورته ورکړ شوی د ی ۰**

د ښاغلی سمیع الدین افغانی په دی اثر کې اصلي هیرو او اتل نه شو کولي چې حقیقت په اصل رنګ بیان اومجبوریتونو دده شعراو داستان د خیال او فکر په تال کې انځور کړي اویا داچې یو سلسله محدو دیتونواوتنګ ماحول ، لرې والی او فراق، عنعنې او رواجونه شاعر خپل د زړه او فکراحساس د قلم په ژبه انځور او تصویروي. ، لکه چې وایې:

راشه چې سپرلی دې شم ګلزار دې شم
راشه چې د بدې ورځې یار دې شم
ستا د پاکې مینې محبت کې یار
ژوند شمه وړمه شمه بهار دې شم

یا وائي:

نه شته بله لار ، نه بل تدبیر چیرې
راشه چې مرهم دې شم قرار دې شم

ولې افغاني صیب دا د قفس دروازه ور خلاصه، بندونه او دیوالونه ئې ور ونړول او وی شو کولای چې ددی اثر په رڼا کې خیال او فکر ته د عمل جامه ور په ځان کړي او حقیقي انځور او تصویر لوستونکو او اوریدونکو ته ور په لاس کړي، لکه د شین خالی کوژدن زیرګل چې د هغې په وراندیز او خوښه د شین خالی د خورلندې زرځانګې د واده لپار څه ولیکي او د هغې د واده په محفل کې د ساز او اواز سره یو ځای د هغه د خوښې په شپه کې یې په خپل خواږه اوز کې مینه والو ته واوروي.

شپې دې د برات شه شه کلونه دې اختر
پل دې بختور شه ناوې پل دې بختور
پل دې بختورشه ناوې مینه کې دې کورشو
نوې اشنایي شوه نوی بل د مینې اور شو
ستا د حسن شمعه چې روښانه په هر لورشو
حسن دې ښکلا دې چیرې مه شه د نظر
پل دې بختور شه ناوې پل دې بختور

هو! که زموږ معاصره شاعران او لیکوالان د افغاني صیب د نوی تک لارې پر بنسټ خپل اشعار د قیود او بند څخه وکاږی زمان یا مکان ورته قید نکړي ، بندونه او خنډونه ونړوي او دخپل شعر انځور او داستان په خیال او فکر کې محدود نکړي بلکه یو ژوندی تصویر اوجسم ورته ورکړي چې تر څو په ډیره سادګی یې خوږ ژبي هنر مندان په خپلو خواږو اوازونو کې کمپوز، کلیپ او خپلو اوریدونکو او لیدونکو ته ډالی کړي ۰

نو کله چې شعري ملغرلي د قلم په ژبه د کاغذ په مخ کې پیل شي او هنر مند ورته په خوږ اواز، ښکلي کمپوز اوکلیپ کې ژوندی، ژوند ورکړي لکه د افغاني صیب دا لاندې شعرچې د وطن او پرګنو تکړه او خوږ ژبي سندرغاړي محترم طاهر شباب په خواږه او زړه وړونکي اواز کې کمپوز او

کلیپ شوی او لر اوبرپښتونخوا اوټولو افغانانو د خوښی محافل رنګینوی او اوریدونکي بې په شوق، ا و احسا س اوري او خوند ترې اخلي٠

د یادولو وړ ده چې دا سندره نه تنها زموږ په ګران هیوادکي بلکه په نړیواله کچه په ځانګړی توګه په هندی ، عربی او انګلیسی ژبوکې هم کمپوز شوې ده چې ډیر اوریدونکي او مینه والري ٠

ستـــا پــــه اننـــګوکې
چــې د چـــا دوینـې رنګ دی

زمـــا د پــــاکـې مـینــــې
حقیقت پـــکې څـــرګند دی

ما ویل ښکلي دې ځواني ده
دې ویـــل مینـــه رسوایي ده

مـــا ویل زه دې لیـــونی کړم
دې ویل یارمې غنم رنګ دی

مـــا ویـــل راشه مازیګر ته
دې ویـــل دربـــه شم ګدر ته

مـــا ویـــل لاره به دې څارم
ویل منګی مې شین په څنګ دی

هو! دا وه یوه لنډه یادونه چې ما د افغاني صیب د نوي اثر په لوستلو په سپیڅلي هیلي اومسؤو لیت ولیکله او تاسی درنـو لوستونکو ته یی په ډیر درناوی وړاندی کوم. ٠

زه افغاني صیب ته د لوی خدای له درباره دسلامتی او اوږده عمر هیله کوم ، ترڅو نور هم د شعر اوادب په برخه کې نوي اوپه زړه پوری مطالب چې ورسره شته ولیکي او دادب مینه والـو ته ئې وړاندې کړي ٠

همدارنګه د قلم په لاس لیـــکوالانو ، شاعرانـــو اوصاحب نظرانو څخه په درناوي هیله کوم چې ددي لیکني د لا پیاوړ تیا او غنې کیدو لپار خپلې رغنده وړاندیزونه ، نظریات او لیکنې د ادب مینه والو سر ه شریکې کړې.

ومن الله تـوفیـق

نجم الدین « سعیدي »
جر مني - بروول

مې ۲۰۱۰ میلادي ـ کال

# د سمیع الدین « افغاني » لیکل شوي اثار!

درنو لوستونکو!

د کمپیوټر په کتابتون کې مې د « پي، ډي، اف » په بڼه د شین خالی په نوم ناول مخې ته راغی، چې د پوښتۍ په لاندې برخه کې یې لیکلي و :۰ سمیع الدین « سعید افغاني»

د دې اثر سریزې مې ولوستې، را ته معلومه شوه، چې د اثر منځپانګه او سبک د نورو ناولونو په پرتله بل ډول ده،افغاني صیب یو شاعر دی اوچې کله یې د شاعرۍ سره د خپل خواږه نثر د سینګار لپاره د شعر له سینګارتون څخه کار اخیستی دی، نو بیا به وایو، چې واه !۰

داستاني ادبیات په تېره ناول اوکیسه لیکل د پښتوژبې په اوسني پیرکې ښه پرمختګ کړی یعنې د مخکې په پرتله دې ژانر کې اوس ډېر کار شوی۰

تاسو به ډېر ناولونه لوستلي وي او په دې اړه به مو خپله ښه مطالعه هم کړي وي، چې ناول څه دی؟

مونږ ډېرناولونه لرو، چې هیڅ شعرپه کې نه دی راغلی او که راغلی وي نویو بیت اویا هم نیم بیتي.

هغه هم دیوې پېښې د ښکلا او شننې په خاطر او یا هم د بیلګې په ډول به زه د پښتو ژبې ځینو ناولونو څخه یادونه وکړم، چې موضوع تاسوته لاښه څرګنده شي.

دنصیر احمد احمدي صیب ناولونه په زړه پورې ناولونه دي ، زما په اند په اوسنیو ژوندیو داستان او ناول لیکونکو کې په سر کې قرار لري، د لیوانو پلونه په نوم ناول، چې په اغلب ګمان د احمدي صیب لومړنی ناول دی، چې د یوه سپین ږیري له درده ډکه کیسه ده، چې یو زوی لري، د بوډا د زوی د مینې کیسه هم پکې ده، خو په دې ناول کې د شعر څرک نه لیدل کیږي مګر ناول په زړه پورې دی.

ورپسې د رڼا، بربوکی، خونکار، یوه خبره درته وکړم، او همداسې زرو ، اغزن سیم، بغدادي پیر، نیکه، اخ وطنه او دېټان، دا پورته یاد شوي ناولونه دومره خوندورلیکل شوي، چې لوستونکی یې هیڅ کله ترې مخ نه شي اړولی اوپه دې یادو ناولونکې ډېرې دمینې کیسې دي، چې په دې یوه ناول کې هم د شعر څرک نه لیدل کیږي، مګر ډېر خوندور دي، زه خپله د احمدي صیب د ناولونو ډېر کلک مینوال یم۰

همدارنګه دمحمد اجان یار صیب ناولونه، لکه د لیلي دښته، ویرونه بهیرونه، کلونه تالانونه، توره پیشو، دا ژوند او دا څپرې، وروستۍ خبرې، ګلاب او فرښته، هوسۍ او له بنګاله تر باګرامه . خوندور، له درده ډک دمینې او توکو څخه برخمن ناولونه دي، خو د شعر څرک په کې نه لیدل کیږي؛ بل دا چې یار صیب تکړه شاعر هم دی، مګر ده په خپلو داستانونو کې هیڅ شعر نه دی راوړی ۰

داسې ناولونه هم لرو، چې د کرکټرونو یو څو مکالمې په لنډیو، بیتونو او شعرونو باندې پیل شوي دي، یعنې د مشاعرې په ډول د مبین او مبینې تر منځ واقع شوي مکالمې دي.

بیا پاتي نور ناول کې د شعر لپاره کومه ځانګړې توجه نه لیدل کیږي. لکه دپاتي شه باران ناول، چې مصفی سالک لیکلی دی، دا ډول ناولونه ډېر دي، چې په نیم ځای کې یې لنډی ، څلوریزې او د پښتو ولسي فورمونو څخه په کې یادونه شوې ده٠

داسې ناول په پښتو ادب کې نه لرو، چې یو چا دې د شعر انځور په ناول کې را خیستی وي او یا هم د ناول انځور دې په شعر کې را اخیستی وي؟ او یا هم ټول ناول دې، د شعر له مخې انځور شوی وي؟

د ښاغلي سمیع الدین « افغاني » په شین خالی ناول کې دا هر څه شته، اول پېښه یادوي او بیا وروسته دپېښې دښکلا لپاره د شعر له انځور څخه کار اخلي،چې دا کار اخیستل یې هم په ډېرماهرانه انداز دي ، یعني؛ دا ناول کلیوالي پېښې او کرکټرونه لري او په داسې شاعرانه او کلیوالي الفاظو یې رنګ او سینګار کړی دی، چې لوستونکی یې هیڅ په خوند نه مړیږي همدا د دې ناول لویه ځانګړتیا ده٠

د ناول اصلي کرکټرونه د زېرګل او شین خالی په نوم دي، چې زېر ګل په ماشومتوب کې خپل پلار او مور له لاسه ورکوي، چې د زېر ګل تره د ده پالنه او روزنه کوي٠

په ماشومتوب کې یې پلار او مور د زېر ګل د تره لور شین خالی د ده په نوم کړي وي، چې وروسته یو پر بل باندې میینږي٠

په حقیقت کې دا ناول یو مثبت پیغام او هدف لري په ډېرو پښتني ټولنو کې داسې شوي دي، چې تره د خپل وروراره مال او میراث ته غل وي او یا هم وراره د تره میراث ته سترګې پټې کړي وي، چې یو ډول د مکر او فریب په ډول چلند کوي٠

خو دا ناول بیا د داسې نه ده، زیرګل د خپل تره په مرسته د طب له پوهنځي څخه فارغیږي او په خپل ماحول کې د لوی نوم خاوند کیږي٠

کله چې د زیر ګل تره مړ کیږي، نو د کور مسولیت یې دی پر غاړه اخلي، هم خپل درسونه وایي او هم د کور اړتیاوې پوره کوي٠

په دې ناول کې، هجران، وصال، خندا، خوښي، درد، غم، مرګ او د ژوند هر څه شته٠

زه افغاني صیب ته د دې ستر ادبي نوښت مبارکي وایم، ځکه زما په اند په یوې ژبه کې هم داسې ناول نه دی لیکل شوی، چې نثر دې په شعر کې انځور کړي او شعر دې په نثر کې!٠

په ډېره مینه او درنښت

فضل الرحمن « سیرت »

# یاره ستا په اننگو کې!

ادب پوهان وايي : شعر د شاعر د زړه غږ او د الهامونو هنداره ده . د اسلامي ګروهې او سپېڅلې عقيدې له مخې زړه د ايمان او عقيدې ځای دی. کرامت ، شجاعت ، همت ، غيرت ، صبر او استقامت دا ټول د زړه کار وي . عشق او مينه په زړه کې وي او همدازړه د احساساتو، جذباتو او عواطفو کور هم دی . خو لويديځوال بيا زړه يوازې د عواطفو او نفسي احوال ځای ګڼي .

په هر صورت تر کومه چې خبره د ادب له نظره په شعر او شاعري پورې اړه لري ، هغه څه چې د شاعر په زړه کې وي ، پر شعريي پوره اغيزه لري ، يا په بله وينا :

د شاعر د زړه او روح هيلې ، غوښتنې او پو ښتنې په يوه او بله بڼه د هغه په پنځولي شعر کې انعکاس او غبرګون مومي . ځکه نو موږ شاعر او اديب د ټولنې ولس او ملت د احساساتو او جذباتو رښتنې استازبللای شو .

که غواړو چې ديوې ټولنې د وګړو عام شعور او احساس ځانته معلوم کړو ؛ نو لومړی يې بايد د شاعر او اديب غږ ته غوږ شو چې څه وايي ، غوښتنې او پوښتنې يې څه دي ؟

معلومه ده چې شاعر له خپل ټولنيز چاپيريال څخه الهام اخلي ؛ نو ځکه د خپلې ټولنې او خلکو د ترجمان حيثيت لري . دهغه خندا او ژړا يوازې د ده نه ، بلکې د ټولو ده .

دټولنې ښه او بد ، خوالې او ناخوالې له هر چا زيات پر ده ډيره اغيزه لري؛ نو ځکه يې سيده شعر و ادب ته ورليږدوي او په هغه کې په يوه نه يوه بڼه خپل ځان را څرګندوي . خوشحال بابا وايي :

د خوشحال خټک له عشقه ګفتګو شي

چې په ديګ کې څه شی وي ، هغه ترې توی شي

تاسو به دا هرڅه چې ما يې پورته يادونه وکړه د اروابښاد سميع الدين « افغاني » په دې شعري کلياتو « ياره ستا په اننګو» کې ولولئ او دا به هم در څرګنده شي چې وېناوال « شاعر » احساس او عاطفه د خپلې ټولنيزې ګروهي « عقيدې » پو هې او شاعرانه استعداد په برکت د خپلو خلکو، ولس، ټولنې او چاپيريال له حالاتو څخه په کومه کچه يا څومره او څنګه اغيزمن شوي او هغه يې د شعر په خوږه او رنګينه ژبه په کوم اندازه کې بيان کړې دي. کله چې دا هرڅه تاسې په خپله ولولئ .

زما باور وی چې په هغو کې به د دې شعري کليات د وېناوال نغښتې پيغامونه چې د الهام اصلي سرچينه يې هماغه زموږ د ټولنې واقعيتونه او روښانه حقيقتونه دي . په مناسبه توګه درک کړای شئ ،د پو هې او ګروهې، ادب او هنر پر مختيايې يون به له بدلون سره در څرګند شي .
ځکه نو زه بې له دې کليات څخه بيلګې درته نه خوښوم او دا چارټوله ستاسې ذوق او خوښې ته پرېږدم ، چې تر لوستو وروسته يې د شعر پر ښيګڼو ځان پوه او د وېناوال د ادبی فرهنګي شخصيت د پيژنې په باب د څه ويلو هيله او مينه لري ؛ نو په لنډه به يې درته ووايم :

ترکومي چې ما د دې شعري جونګ وېناوال اروابناد سمیع الدین « افغاني » د خپل ژوند او فن په هنداره کې لیدلې دې ، نږدې ۶۷ کاله پخوا « ۱۳۳۳ ل » یې د لغمان ولایت د عمرزیو د خیراباد د کلي او سیدونکي دې او د سیمې د پیاوړي عالم او لیکوال محمد سعید « سعید افغاني » په کور کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې . لومړنی او ثانوي زده کړې یې د لغمان په یو کلیوالي ښونځي مهترالمک او روښان په لیسه کې سرته رسولې دي .

په ۱۳۵۹ لمریز کال کې د لوړو زده کړو لپاره له هیواده بهر ته اللې . هیواد ته په راستیدو وروسته په دنده ګومال شوې او په « ۱۳۶۴» لمریز کال کې د کورنیو چارو په وزارت کې د ډګروالي تر پوړې رسیدلې دي .

د شعر ، ادب او لیکوالی سره یې له پخوا مینه وه او هغه یې د زړه په وینه او مینه و پالله، د ې د ښه شاعر ، لیکوال او ادیب په حیث زموږ په ادبي او فرهنګي حلقو کې وپیژندل شو او دولسونو او پرګنو د هیلو او غوښتو د ترجمان شاعر او لیکوال په توګه له ښه نوم او شهرت نه برخمن شو .

د نظم او نثر ډېر کتابونه یې ولیکل او وپنځول او چاپ شول . په منظومو آثارو کې یې له خورو ورو خپرو شویو شعرونو سربېره څلور شعري ټولګې « دوطن یادونه ، پردیس خیالونه ، داغلي زړونه ، نړیدلي جونګړې » او په منثورو داستاني آثار و کې یې زمونږ کلي او باندې، بازګشت « لنډ داستان» شین خالي ناول او نور په کتابې بڼه چاپ شوي دي .

دا شعري کلیات « یاره ستا په اننګو کي » یې د پورته چاپ شویو څلور و شعري ټولګو او ځینو نورو خورو شعرونو غورچاڼ دی چې په یوه لویه ټولګه کې د شعري کلیات په بڼه خپرېږي .

په دي کي تاسی د شاعر د ژوند بیلا بیلو دورو او پړاوونو د شاعری ډېري غوره او په زړه پوري بیلګی لوستلای شی ، دا به درته څر ګنده شي چې نوموړی څه ډول د تیرو څلورولسیزو د رواني غمیزي د بیلا بیلو پړاوونو کړاوونه ، رنځونه او بیلابیل موضوعات په الفاظو کي څنګه ښکلي انځور کړي او د شعر په خوږه او رنګینه ژبه یې خپلو خلکو او ولس ته وړاندي کړي دي.

په پای کې زه اروابناد سمیع الدین « سعید افغاني » روح ته د ستر څښتن په دربارکي د بخښنې دعا کوم . جنت الفردوس دې ځاې شي او د دوې دا فرهنګي هڅه چې د خپلو شعرونو یو په زړه پورې غورچاڼ یې په یوه ټولګه کې ، چې په شعر او ادب کې د دوې د پیاوړي استعداد استازولي کولاۍ شي د ادب د مطالعې مینه والو ته په میراث پریښې دی ، ستایم او پر دې باوریم چې په دې به د مینه والو ادبي تنده خړوبه کړاې شي.

په درنښت

څیرنپوه دوکتور عبدالظاهر « شکیب»
د افغانستان د علومو اکادمي رئیس

د جوزا میاشت ، د ۲۰۲۱ میلادی کال ــ کابل

# مینه پال شاعر!

وایي چې مینه د ژوند هستي ده ، مینه ده چې دا نړۍ پرې ښکلې او انسانیت ترې پیدا دی. مینه کرل کیږي . مینه روزل کیږي. مینه پالل کیږي . مینه ورکول کیږي، خو پلورل یې ناشوني ده . مینه د فطرت او خلقت په زړه کې هغه اغږل شوې خوشبو ده، چې بوی یې د هر ژوي په ساه کې کښته پورته کیږي .

د تصوف او عرفان په ښکلاوو موزین پښتون شاعر رحمان بابا مینه او عشق د ټولو مخلوقاتو پلار ګڼي او وایي چې دا نړۍ د مینې له معنوي تړون څخه جوړه شوې ده.

علما مینې ته د شرعي له عینکو ګوري ؛ د فلسفې پو هان مینې ته فلسفي نظر لري ؛ خو شاعر مینې ته د ښکلا له زاویې کاته کوي ، مینه د ژوند خوند او طراوت ګڼي . مینه پالي ، مینه روزي او د مینې په سمندر کې ځان لاهو کوي.

دوی هرڅه د مینې په رنګ ځروبوي؛ ژوند او مرګ ، خوښي او خفګان، ښکلا او بدرنګي ، ښه او بد ، دوستي او د ښمني ته د مینې خوشبو لوني او تل د مینې په ژبه هبرې کوي . شاعر ځان د ژوند او چاپیریال ترجمان او معلم ګڼي ، شاعر دی چې طبیعت ته دمینې ژبه ور زده کوي.

دی د مینې په ژبه انسان او طبیعت سره اشنا کوي ، ماشوم ته د مینې په ژبه ترانې لولي ، ځوان ته په مینه هیواد او ځان ورپیژني ، لویانو ته د دوی کړنې د شعر په مینه ناکه ژبه بیانوي.

شاعر د ټولنې درد خپل درد ګڼي ؛ جلا وطني ، ویجاړي ، کرکه او ناپوهي یې لړمون خوړینوي . تل مینه پالي ، په مینه سرورکوي او مینې ته د تعبد تر کچې درناوی کوي .

افغاني هم د مینې هغه سرګردانه او لاله هانده پتنګ دي ، چې د مینې روح ته د رسیدوله پاره ځان سوزوي او ځان د ابدیت له پاره د مینې خادم ګڼي .

سمیع الدین « افغاني » شاعر دی . هغه شاعر چې د مینې په سمندر کې نایابه ګوهر لټوي. دی د هیواد او ولس مینې ناکراره کړی ، په بیلتون کې یې لپه لپه وینې تویوي او د هیواد په مینې د منصور په شان سرورکوي.

ماته یې د خپل شعري کلیاتو د چاپولو زیری راکړ او غوښتنه یې وکړه چې یو څه پرې ولیکم . ما د دې درد من شاعر شعري کلیات ولوستل ، د مینې له بلا رنګینو الفاظو ، سیمبولونو ، انځورونو او د مینې له شاعرانه ترکیبونو جوړ دی . ده د ژوند ، هیواد او اولس هر و ناخوالوته د مینې رنګ ورکړی او په درد یې د زړه له تله غږ پورته کړي.

افغاني صاحب غوښتل چې دا شعري کلیات په خپل لاس ترتیب او د ادب مینوالوته یې وړاندې کړي. خو دا چې د تقدیر اراده بدله وه او دا موقع یې ده ته ورنه کړه چې دا هیله یې پوره شي ، نو نوموړی په جلا وطنۍ کې له ولس او هیواده لرې د جرمني په یو روغتون کې په ۲۰۲۱ م کال د دسمبر میاشتې په ۲۲ نیته د چهارشنبې په ورځ ، د ماذ دیګر په « ۴ » بجو د ژوند پور پرې کړ او د ابدیت په آرامه خوب ویده شو.

افغاني صاحب د رنځ په بستر پورت و ، یو ورځ یې د تلیفون په کرښه راته وویل :
چې زه د جوړیدو نه یم ، د دې اثر مسوولیت تاته در سپارم او هیله لرم چې زما دا ګډ و مات الفاظ د پښتو ژبې او ادب مینوالوته ور ورسوې . ما هم په پوره ډاډ ورته د دې کار مسوولیت په غاړه واخیست ، دا د نن له نیکمرغه د افغاني صاحب هیله پوره شوه او د ده شعري کلیات هم چاپ شو.

دا اثر « ۵۱۹ » مخونه لري ، پر دې اثر د افغانستان د علومو اکادمۍ رئیس څیرنپوه دوکتور عبدالظاهر« شکیب » ، پو هندوی محمد داوود « وفا » ، په جرمني کې د ستراتیژیکو مطالعاتو تحقیقاتي او د حق د لارې کلتوري مرکز او پخپله د اروابناد افغاني صاحب یادابنتونه لیکل شوي وي .

اروابناد افغاني خپل فکر ، درد ، احساس او د ټولني انځور د شعر په ژبه په بیلا بیلو شعري فورمونوکې وړاندې کړي دي چې له هغې ډلې « غزل ، مثنوي ، څلوریز ، مخمس ، څلوریزه او داسې نور » د یادولو وړ دي .

نوموړي د خپل هر شعري فورم سرلیک د شعر د منځپانګې او موضوع له مخې نوموي ، نه د شعري فورم له مخې .

نوموړی د نظم په لیکلو کې هم لوړ مهارت لري . د ده په دې شعري کلیاتو کی « ۲۷ » اوږده نظمونه ځای پر ځای شوي دي . د نظم په لیکلو کې د ده یوه ځانګړنه دا ده چې ځینې ژباړل شوې کیسې چې د نورو لیکوالو له خوا پښتو شوي دي په پښتو نظم داسې خوندوري لیکلي دي چې لوستونکی پرې د پشتو ژبې او ادب د اصلي مال ګومان کوي.

افغاني په خپلو لیکنو « نظم و نثر » کې سمییزې محاورې ، سیمبولونه ، ساده ولسي ترکیبونه او وییونه ، حتا په ځینو مواردو کې سمییز ګړدودونه هم کاروي .

د ده د شعر او نظم ژبه ډیره ساده ، ولسي او خوندوره ده ، د هرې کچې او پوهې لو ستونکی پرې پوهیدلی شي ، نوموړی د شعر لیکنې او فکري سبک له مخې د معاصرو لیکوالو او شاعرانو له نړی لید ، فکري دریځ او لیکنې سبک څخه اغیزمن ښکاري؛ دی د سیاسي او طبقاتي افکارو له اړخه د اکادمیسین سلیمان« لایق » ، انقلابی شاعر اجمل « خټک » او ځینو برخو کې د فلسفي شاعر غني خان سره اړخ لګوي . د ژبنیز سبک له اړخه د ولسي شاعر ملنګ جان او ګل پاچا « الفت» له سبکونو سره ورته والی لري.

اروابناد افغاني کله نا کله دومره ساده ولسي او سمییزې محاورې کاروي چې ډیری ترکیبونه او وییونه یې د یوې خاصې سیمې مال ګڼل کیږي ، خو برعکس بیا ډیرو مواردو کې عربی او نور مستعار شوي وییونه او علمي ترکیبونه هم له پامه نه غورځوي.
مینه ، احساس او تآثر د شاعرۍ فردي ځانګړنې دي، چې ډیری شاعران او حتا د ټولنې متحرکه او با درکه اشخاص یې د خپل شخصي ژوندانه ، هیواد او نور ټولنیزو مسایلو پر وړاندې لري ، افغاني هم له هغو بادرکه ، متاثره او درد منو شاعرانو له ډلې څخه دی ، چې د هیواد د روان ناورین په هرې پیښې دردیلی دی اوهغه یې پخپلو اشعارو کې منعکس کړې دي. د دې تر څنګ یې د ډیرو شاعرانو پر مړینې او دهغو د تلین یا یاد غونډوته د تآثر لیکلي پیغامونه د شعر په ژبه لیکلي دي.

شعر یا موزون کلام په ټولنه کې د نورو و سیلو تر څنګ د متحرک او غیزمن پیغام ، خوند او خوبنۍ په توګه تل د سندرغاړو ، مجلسیانو او میرمنو له لوري ویل کیږي ، چې همدا چاره د نورو وسیلو تر څنګ شاعر او دهغه شاعري شهرت ته رسوي؛ د هیواد نامتو سندرغاړي صدیق « شباب» او ځینو نورو سندرغاړو د افغاني صاحب ډیر شعرونه د سندرو په بڼه ویلي دي ، له هغې ډلې څخه: د وطن په یاد ، بنجاره ماما ، پل دې بختور شه ، همت ، افغان یم ، دا افغانستان دی ، یاره ستا په اننګو کې ، میرم لغمان جان ، دبر کلي ګودر او ځیني نور...

د اروابناد افغاني صاحب د شاعرۍ یو بستیزه ځانګړنه او خود په دې کې دی ، چې دی د زړه له تله په هیواد او ولس مین شاعر دی او زه ځکه ورته د مینه پال شاعر نوم ورکوم چې د ده په ټولو اشعارو کې د مینې رنګ د لمر په شان ځلانده ښکارې.

د ټولو برخو سپړل یې زما له توان څخه وتلې خبره ده ، زه یوازې د افغاني صاحب هیواد پالنې ، هیوادوالو سره د ده پر لیونۍ مینې او افغانیت یو څو کرښې لیکم:
افغاني د شعر په ترنم ټول هیواد وال یوالي ته را بولي او افغانیت د دوی ملي سیمبول او غرور ګڼي ؛ میشت تیرونه افغانان یادوي او د دوی هرڅه سره یو ګڼي:

## افغان یم

زه څوک د کوم ملیت د کوم زبان یمه زه ؟
بس دومره درته وایم چې افغان یمه زه
پښتون دی که تاجک که هزاره د دې وطن
ازبک نورستاني که پشه ئي دی یا ترکمن
د دې خاورې بچیان دي سره یو مو دی مدفن
تاریخ یم جوړونکی د زمـان یمه زه
بس دومره درته وایم چې افغان یمه زه

## افغان یم

زه افغان یم خپل وطن را باندې ګران دی
اتحاد او ورور ګلوي ځما ارمان دی
چې یې مینه د وطن یې ده په زړه کې
افغاني دا هموطن را باندې ګران دی
دلته هریوسف جداد سیمې د کنعان دی
پورته تر کعبې د حبشي بلال آذان دي...

دی د وطن پر مختګ ، سوکالي او ساتنه د افغانانو په یوالي کې بولي او افغانانو ته سپارښته کوي تر څو له تدبیر او پوهې څخه کار واخلي . هر افغان ته په مینه کې د یوسف خطاب کوي او اسلام سره په مینه کې د دوی غږ تر حبشي بلال لوړ ګڼي.

بل ځای بیا د وطن پر مختګ ، جوړښت او دخپل منځي اختلافاتو له منځه وړل تعقل او پوهې پورې
تړي . هغه د نظام پایښت او ټینګښت دیو بل پر منلو ، قانون ته په درناوي او له هیواد په خواږي کې
بولي .

## وطن جوړیږي

که وي پوهه ، تعقل وطن جوړیږي
چې وي یو دبل منل وطن جوړیږي
څو به خپلو کې موښ لاس او ګریوان یو
د ورورئ لاس ورکول وطن جوړیږي. ..

افغاني په ریالستیک طبیعت او د انتقاد په ژبه د هیواد ویجاړونکو، پلورنکو او دهغو مکارو اشخاصو
کړونو ته نغوته کوي ، چې هیواد او هیوادوال یې د مذهب او دین په نامه غولولي او د بدبختیو
تورو تیارو ته یې کښینولي دي .

## ظالمو زمانه ده

چا وران کړ دا وطن چاتړې لوټ کړې خزانه ده
ظالمو زمانه ده
چې خپل یې ورانوي بیا د پردونه څه ګیله ده
که خپل که بیګانه ده
هرچا تر خپله وسه دا وطن کړلو خراب
څوک ناست دی بلډ نګو کې په ډالر کوي حساب
څوک پروت دی په خیمه کې یخني نه شو کباب
هر چا ده غړولی د خپل خوښې ترانه ده
ظالمو زمانه ده ...

دی هرکس تر خپل توان پورې د هیواد په ویجاړولو کې مسؤول ګڼي او اوسنی حالت د دوی د مکارو
کړونو پایله بولي . افغاني په شعر کې د انځور او انځوریز پیغام په جوړولو کې لوی لاس لري. هغه
د هیواد د مشهورو سیمو او دودونو یادونه او له هغوی سره خپله مینه د حسي انځور او ذهني
انځور په ښه داسې بیانوي:

## سپرلی سپرلی وطن

موسم د سرو ګلونو نوبهار مې را په زړه شي
شیبې خواږه وختونه د دلدار مې راپه زړه شي
شعلې چې یې د حسن او ښکلا هر لور خپرې وي
هغه ښکلی نګار او سپین رخسار مې راپه زړه شي
پرون چې وه پردیس نن ها خیالونه مې کوربه دي
ښایسته ښایسته باغونه ننګرهار مې را په زړه شي

شاعر وطن خپل دلدار بولي او ځان دهغه باغ و بوستان ، وړم او طراوت يي په زړه راګرځي او هغه پخواني يادونه چي وطن سوکاله او زرغون ؤ را يادوي او د بيا ليدو په تمه يې سوي اسويلي باسي. دی ځان د هغه مرغه په شان ګڼی چې له طبيعت او ښکلا پرته ژوند نشي کولای ، خو افغاني له هيواده لرې يوازې د هيواد ښکلا او سوکالي احساسوي او زړه ته پرې سکون ورکوي.

د هيواد ساتل د هر وګړي دنده او مسؤوليت ګڼي ، خو د دې تر څنګ دهغو اتلو بچو ميراني او سربښندني هم ستايي چې د وطن په ساتنه او سوکالۍ کې يې تر سره کړي.

## د وطن اتلان

ستا په لوړ و غرونو د افغان بچي

جوړې کارنامې کړي قهرمان بچي

ټنګ يې په دښمن باندې ګوذار وکړ

و مې ليد ډګر کې پهلوان بچي

نوموړی د اتلو بچو د ميرانې ، غيرت او متانت د يادونې تر څنګ د سولې ډير لوی ارمانجن دی . هغه د وطن تلپاتې آرامښت په سوله کې نغښتی بولي او د هيواد لپاره تل د سولې او امن لاسونه لپه کوي.

افغاني صاحب د نيکونو ټاټوبی خپل هرڅه ګڼي ، هغه په پرديسۍ او بيلتون کې د هيواد ډير ارمانجن دی . په اروپا کې ژوند د ډيرو ښکلاوو او هوساينو سره سره ، د مجبوريت ژوند ګڼي او هره شيبه ځانته پيغور او د پرديتوب احساس کوي ، خو پر وړاندې يې د خپلو نيکونو ټاټوبی د خپل زړه د سکون ځای ګڼي.

## د نيکو وطن

خپل وطن مو وران شو، شو محتاجه د پردو وطن

خوږ دی خلکو خوږ دی د پلارو او د نيکو وطن

دلته مجبوري ده هر قدم کې تکليفونه دي

دلته بې وسي ده هرې خواته پيغورونه دي

بل غوندې قانون دی مايوسي ده زحمتونه دي

هر قدم پردي دي راته ښکاري د ميرو وطن

خوږ دی خلکو خوږ دی د پلارو او د نيکو وطن

د سولې دښمنانو او ملي خاینینو ته تنده ژبه کاروي . دوی د خپلو ورونو او هیواد په ورانولو تورنوي او ورته د ملي خاین کلمه کاروي.

## ملي خائن ته

بل مې وژني او ته ګورې

څه عجیبه شانته وروريې ؟

د وطن په غيږ کې لوی شوي

ورته وایې سپکې سپورې

د پردو سره دې راز دی

خو حاکم زما د کوريې ...

که د افغاني صاحب پر ملي فکر ، هیواد پالنې کتابونه ولیکل شي لاهم کمه ده . خو ما په دې څو کرښو کې مشت نمونه خروار یادونه وکړه .

زه له نويو لیکوالو او زده کړیالانو څخه هیله کوم چې د افغاني صاحب په ریالستیک ، ملي او هیوادنې افکارو خپل مونوګرافونه او مقالې ولیکي ، تر څو راتلونکی کهول د ده له ملي افکارو د وطن په ابادئ کې برخه واخلي .

زه په پای کې د افغاني صاحب درنې کورنئ او پښتو ادب ټولو مینوالو ته د ده د شعري کلیاتو د چاپولو په پار مبارکي وایم او د رب له در باره څخه افغاني صاحب ته د مغفرت غوښتنه کوم .

روح يې یاد او یادونه يې تلپاتې .

درنښت !

تمهید « سیلانی »

کابل ، احمد شاه مینه

۱۴۰۰ / ۳ / ۵

# سریزه!

**کچکول‌کریم ګدائي مې شاعري شوه**

**لا شـتمند یمه په دغه ملنـګی کـې**

**آرین**

**درنو لوستونکو!**

**ترهغې چې اصلي مقصد ته ورسیږم اړین ئې بولم ترڅویو شعري راز درسره شریک کړم. شعر د انسان د شعور مولد دی. شعرد انساني شعور د حرکت مجموعه ده. ځکه خو شاعر له هرې حادثې نه شاعرانه تصویر پورته کوي او ورته خاص رنګ او رؤنق هم ورکوي ٠**

**شعر د انسانانو تر مینځه د اړیکو ریښتینئ تناب بلل کیږي. شعر ژبه لري خبرې کوي او همدغه وجه ده چې له یو زړه نه راوځي او بل زړه ته لار کوي ٠**

**خو که د شاعر دزړه احساس په مشخصو معیارونو سنبال وي نو بیا خو به شعر ئې د خلکو په زړونو کې مانۍ جوړې کړي.**

**د شعر سوژه شاعر ته نا تراشلي مجسمه ده خو د شاعر خپل دفکر د معمارۍ فن به دا وي چې دغه مجسمه څنګه تراشلې شي او څرنګه نازک خیاله حقیقي رسم ترې کښلئ شي.**

**له نیکه مرغه ډیری شاعران ګورو چې په ډیر تهذیب د خپلې ژبې درناوئ کوي او په انځوریځو الفاظو او ښکلو تشبیحاتو سر ه همدغه نا تراشلي مجسمه پخپل شعري قوت د شعر په ژبه ترسیموي.**

**الله تعلی ژبه د انسانانو د افهام او تفهیم وسیله ګرځولې ده خو ژوي او مرغان هم د انساني ماحول په دائیره کې دانسانانو د غږ سره بلدتیا لري او هم پخپلو منځونو کې معنا داره آوازونه پورته کوي. او لادا چې که د شاعر کلام د سندر غاړو له خولې نه راووځي بې له شکه چې نیازبین مرغان د سندرو سره هم خپل شوق ښئي.**

**له بده مرغه ځیني، ځیني شاعران بیا د پیغمبرۍ دعوې کوي او وائي، شعر الهي الهام دی ، خو زه دا خبره نه منم ، زما په اندالله تعالی د ځینو انسانانو په فطرت کې دغه استعداد ور ګنډلی دی او شعر د ډیرو مطالعاتو او تحقیقاتو محصول هم نه دی که داسې وائي نو ډیرۍ.**

**پروفیسوران به شاعران وائی :**

**د ژوند تاریخي پړاؤونه وښودل چې اکثر شاعران حتی لیک او لوست ئې هم نه ؤ زده خو شاعري**

ئې ړې حيران کړی ده. د شعر مجازي اړيکه د انسان سره بيل اړخ لري نوآن تر دې چې شاعران کولائ شي د ټولني ځينو کشالو ته دپاڼ ټکې کيږدي او ډير پيچلي فلسفي مسائيلو باندې برلاسه وي.

يا په دې کې تواضع، خاکساري او ملنګي شاعر د درويشانو په صف کې دروي. او همدغه صفات دي چې شاعر تل د خپل د شخصيت پر محورڅرخي ۰

همدلته ټولې خبرې راټولوم او ښاغلي سميع الدين « افغاني » صيب ته راګرځم.

د ښاغلي سميع الدين « افغاني» د شاعری سره دهيواد دننه او بهرزموږ هيواد وال آشنائي لرې او نور هم پسې د معرفت سيمه ئې پراخه شويده.

د ښاغلي افغاني د شعرونو په هنداره کې د هيواد انځوريزې حماسي خبرې کوي چې له يوې خوانه دردونه را پاروي او له بله پلوه حقيقتونه بيانوي. له يوې خوانه د مسئوليتونو احساس ورسره دی او له بلې خوانه نور خلک هم د وطنپالنې لارې ته هڅوي، ډير داسې تشبيحات لري چې شعر ئې په ربښتيا ژبه لري او خبري کوي .

همدا وجه ده چې ځينې سندرغاړي هم د ښاغلي افغاني صيب شعرونه سندريز کړي دي او کمپوز ته ئې سپارلي دي . خو دلته بحث دافغاني صيب د نړيدلي جونګړې ترسر ليک د څلورمې شعري ټولګي د خپريدو په باره کې ده . ما ئې شعرونه ولوستل په ربښتيا ئې د شعر په ژبه د زړه خواله کړيده.

تاسي وګورئ ، چې دې په څومره ملغرينو الفاظو خپل شعرته څنګه رنګيني ور کړې ده ۰ لکه څنګه چې د افغانستان مظلوم ولس د تيل شوي پرله پسې جنګونو په اور کې فريادونه کوي خو شاعرهم خپل وطنوال په ماتم او وير کې يوازې نه دي پريښې چې د خپل دولس سره ځان داسې شريکوي:

د ظلمت تيارې خپرې دي په جهان

هلته ، دلته هرې خواته مري انسان

کورپه کور ،کلي په کلي جوړ ناتار دی

فريادونه دي ، نارې دي استغفار دی

ـ ښاغلي افغاني کله د وخت د ناخوالو سره داسې لاس او ګريوان شي چې خيال ئې ګيله مند غږ داسې پورته کوي:

چې موهم وژنې هم ارمان ته مو په سپکه ګورې

د عزمتونو لوی جهان ته مو په سپکه ګورې

زموږ په مالت اغياره ستا د تريو تندي اثردی

چې هست او بود عصر،زمان ته مو په سپکه ګورې

کله هم راتلونکي ته داسي هیله مند ښکاري چې وایي:

د تروږمیو به سحر مالوم شي

لږ انتظار شته چې ګدر مالوم شي

شیخه امید په تار مې مه تړه نور

پرې چې د هڅو مې هنر مالوم شي

* **

ښاغلی افغاني د حماسي غزلو او نظمونو په خوا کې چې د شعر ژبه یې د مینې اظهار هم کوي، د بیلګې په توګه دې لاندې بیتونو ته داسي رنګیني ورکړې ده:

چې یې دمینې په بازار خوښ یم

په سپین رخساردزرنګارخوښ یم

چیرته چې مینه سوداګر نلري

په ترک او تلودهغه ښارخوښ یم

*** ***

هوکې!

د یادښت وړ ده چې ښاغلي افغاني د غزلو او څلوریځو په حاشیه کې محلي داستانونو ته ئې هم د جلا وطنو مهاجرو ، دیني روایتونو کورني اندیښنو ، او تاؤتریخوالي، د اینګوراو خوابښي دشخړو اوداسي نور په کینائي او طنز کې یې شعري د یکلمه هم کړیده، د یو غمزپلي مهاجرافغان ځوان د مینې داستان ( غمیزې) تر سرلیک او همدا راز نور ډیر ښکلي لیکلي نظمونه یې د پام وړ دي.

زه خپلې لیکنې د ښاغلي افغاني صیب دکړاؤنو او زحمتونو لپاره کافي نه ګنم خوما د لوستونکو لپاره یو څه د نوموړي شاعر په اړه لیکلي او د همدې لیکنې سره مې خپله ادبي تنده هم ماته کړې ده.

په پای کې د محترم افغاني صیب د لا بریاوو په هیله هغه ته د( نړیدلي جونګړې) تر سرلیک د ده د څلورمې شعري ټولګې د چاپ مبارکی وایم ۰

په درناوې او تهذیب

مصطفی « آریـن »

حسن زائي ـ لغمان ـ افغانستان

۲۸ ـ ۳ ـ ۲۰۱۵ میلادي کال

# داغلي زړونه!

**درنو او محترمو لوستونکو!**

**ښاغلی سمیع الدین« افغاني » په وطن مین دسولې ، صمیمیت ، پرګنو اودحالاتوترجمان دهیوادهغه پیژندل شوی شاعر اولیکوال دی چې شعرونه یې دهیواد دخوږ ژبوهنرمندانوله ژبې څخه نیولی بیا دښارنو، کلیو باندواوسیدنکو، ځوانــانواوماشومانوله ژبونه هم دسندرو په بڼه اوریدل کیږي.**

**ښاغلی سمیع الدین « افغاني » دهیوادنه لـری دپردیسی شپې سباکوي هغه نه یواځې یو ولسي شاعر دی بلکې ښه نثر لیکونکی هم دی.**

**داغلي زړونه د افغاني صیب هغه نوې شعري ټولګه ده چې د درد یدلو زړونوهیلی اوخبري په کې انځوراوراټولي شوي ، دغه شعري ټولګه که له یوې خواخلک دهیوادپالنې روحي ته رابولي دبلې خوا دهغه دترخـو حقایقوڅخه پـرده پـورتـه کوي چې دجنګ پــه دریوو لسیزوکي هیوادوال څنګه او ولې د دې غمیزو ښکارګرزیدلي دي.**

**دا لیکنه اومجموعه د جنګ دتـرخـوحقایقوتـرڅنګ دیـوې خوږې کلیوالي مینې هنداره هم ده چې د شاعر دزړه اواز، رازونه ،سوزونه ، حقایق، دټولنې اوخلکو فلکوریک ژوندد حکایتونوبیلګې په کې په سترګو کوي.**

**په دغه شعري ټولګه کې شاعر یوخواته د جنګ په غمیزواوبل خواته دیوې خوږې مینې خاطرې څخه پـرده پورته کـوي چې د شاعر دژوند د مختلفوحالاتو ترتاثیرلاندی د مینې دولولو نه ډک اشعار اوغزلونه یې دهرمین زړه د مینې احساس راپاروي.**

**د شاعرپه شعرونوکې د کلیوالي ماحول اثراو د افغان ګډوالود پردیسی ژوندانځورونه او دخپل هیواد سره ژوره مینه ، دهیواد جګړه ایزماحول اوروانوحالاتو باندی کله په پسته اوکله هم په ځیږه ژبه لیکنی دشاعر هنر بیانوي.**

**د افغاني صیب په شعرونـوکې هم سوز شته او هم ساز کله چې دهغه حماسي اواجتماعی شعرونــه ولولونوشاعرپــه هیوادکــې دجنګ په غمیزوباندې ډیرغمجن ښکاري،لکه دسنګر یوزړه ورسپاهي د ناخوالو په مقابل کې دریږي اود هیوادوالــودروا حقوقــو څخه په میرانه دفاع کوي په دی توګه په ډیره زړورتیا د نـړی بشرپالو اوخیرخواه انسانانو ته دنیوکې ګوته نیسي اووایي:**

**دنـــــیا تـــوله راته خاندي**
**موږ په چیغو چـــــیغو ژاړو**
**څه سپین سترګې دنیاګۍ ده**
**سیاستونو کې مو شپې دي**
**دا د کـــوم ظالم لــــه لاسه**
**چې ظلمونو کې مو شپې دي**

بل ځای کې شاعر بیا د خپل دژوند د خاطراتو څخه د یوې خوږې مینې لحظی لکه هنداره ترسترګو تیروي لکه دا خیالي نظم:

یــو ګلابـــي رنـــګین څپه
یـــوه شیبــه یـــوه لـــمحه

د ژوندیـوښکلې خـاطره
د خـــوږې مینـــي تـــرانـــه

هـــغه د یـــار خواږه کتـــل
په ګلابـــي شـــونډو خندل

ســـره اننګي چـــپه کـاکل
هـــغه سئتونـــه یــــارانـــه

د شاعر په تخیل کې دهنر د ګلبڼ نه ډیرښایسته ګلان ترسترګو کیږي ، شاعـر سره د هنر ښاپیرۍ تـــر ډیره حـــده بریالې سفر لري، دښاغلی افغاني په شاعري کې دهنردښکلاګانوډیرۍ بیلګی لیدل کیږي چې دپردیسي ژوندتیرۍ خاطرۍ اویادونه ورته یو په یو په سترګه کوي، جلا وطن شاعر د زرهاوپردیسو افغانانو دخولې نه داسی لیکي:

مونږ ته مـــــو خپـل دکلي لار یادیږي
ز مونږ سپرلي مـــــونږ ته بهار یادیږي

زه خپله لیکنه د افغاني صیب په دا څلوریځه ختمومه چې وایي:

زړونـــوتـــه لارلـــري د زړه خـــبرې
عـــزت ، وقـــار لـــرې د زړه خـــبرې

چـې په ریښتا سره ژونـــدن تیروي
لـــوړ اعتـــبار لـــري د زړه خـــبرې

زه پدې باورم یمه چې دا شعرونه به ډیرو زړونو ته لار پیدا کړي په همدې هیله تاسي را بولمه د دغې ښکلې شعـري ټولګي لوستلوته، د افغاني صیب د لابریاووپه هیله۰

د خوږولې په مینه

زرلښته حفیظ « بشریار» ـ کانادا

د فبروری میاشت ، د ۲۰۱۱ میلادی ـ کال

# زه دویم یم!

پر کتابونو سریزی مقدمي او تبصرې یو وخت زیات مود وو هر شاعر او لیکوال به کوشش کوه چې پر خپلو اثا رو د لویو لیکوالو او پو هانو نظرونه ولري ، کله کله به داسی هم کیدل چی لیکوال د دغو مقدمو او سریزو له کبله خپلو اثارو ته پر خورا مهمه ستر گه کتل معمولا مقدمه به داسې وه چی پر هغې کې به دیوه ادبي اثر لنډیز وړاندی کیده او لوستونکي ژر د اثر پر منځ پانګه پو هیدلو.

کله چی پر کابل کی د شپږمې لسیزې اثار ګورونو پر هر یوه ادبي اثر د ډیرو لیکوالو او پوهانو سریزی خپرې شوي دی دا یو ډول مود وو هر لیکوال کوشش کولو چی پر خپلو اثارو د ډیر پوهانو سریزی ولري کله چی د دغو اثارو سریزې لولو نو له ورایه راته دغه څو نیمګړ تیاوی پر ذهن کی تداعی کیږی ۰

۱ـ اکثر تبصری تکراری او بی خونده دی ۰

۲ ـ دکره کتنی ځرک په کی نه لیدل کیږی ۰

۳ ـ له بی ځایه توصیف نه ډکی دی ۰

۴ ـ تکراری موضوع ګانی په کی ډیری تکرار شوي دې.

که داسی د دغو سریزو جاج واخلو بی له شکه ډیر اضافی او بی ګټی یی بللی شو پلاني ډیر ښه شاعر دی دا او هغه شعری جونګ له انځورونو او ابتکارونو نه ډک دی زه یی خپریدل ګټور بولم او داسی ډیرتکراري مفاهم او بی ضرورته توصیفونه په کی بیان شوي دې ۰

بل ټکی دا دی چی اوس سریزې دومره مود نه دی ولی جواب روښانه دی ځکه چی د اوس وخت لوستونکي د دی وخت نه لرې چی له کتاب د مخه دی هغه څو مخیزه مقدمه و لولي . او هغه هم د لیکوال صفتونه او یا هم ربښتیا نه ویل. زه به هم دخپلو استادانو پر زاړه دود اقتفا وکړم او توکل پر خدای چی څه کیږی ۰

داغلی زړونه د ښه شاعر او لیکوال ښاغلی سمیع الدین « افغاني » شعری جونګ دی او له مانه یی پر دغه اثر د سریزی غوښتنه کړی ده دا چی زه ورته چا پر ګوته کړی یم غاړه د هغو بنده خو زه به کوشش وکړم چی د لیکوال غوښتنی ته یو نیم ګړی ځواب ووایم۰

ما خپله سریزه پر دی پیل کړی ده چی زه دوهم یم د دی مطلب دادی چی له ما نه مخکی د افغاني صا حب پر دغه اثر خوږی خور او خوږ ژبی شاعری زرلښت حفیظ یواوږده او تفصیلی سریزه کښلی ده ما چی کله د هغی لیکنه ولوستله نو را په زړه شول چی وایئ:

ما چی څه ویلی هغه تاوویل

نور دویلو هیڅ حاجت نه شته

د زړلښت حفیظ له مقدمی وروسته به زما خبری دومره پر زړه پوری نه وي خو زه به خپل کوشش وکړم چی پر ډیر لنډیز سره د دی کتاب په هکله لږ یا ډیر څه ووایم۰

افغاني صاحب وایی:

دانا دوست به تل ښیګڼی درته ښایی

نادان دوست به دی اخته کړي په جنجال

افغاني د دوست په نقد کی خفه نه دی

خو څوریږی تل د زړونو په ملال

زما په اند افغاني صیب د یو ښه شاعر نه پرته خورا ښه طرز یا تصنیف جوړونکی دی او دا دده د شاعري یو لوی کمال دی څنی طرزونه او سندری خو یی ډیر ژر داوریدونکو زړونو ته لار پیداکړی د هر چا پر ژبه دی او دی د ده شهرت هم زیات کړي دی که د کمیت او کیفیت له پلوه یا د پوهاند صاحب زیار پر وینا جوله ( شکل ) منځ پانګه ( محتوا) له پلوه د افغاني صاحب دغه شعری جونګ ګورو نو هغه د بنجاره کڅوړی ته ورته ده چی هر څه په کی موندلی شو. څلریزی ، نظمونه، لنډی، متلونه ، غزلی ، رباعی ، بګتی او د شعر هر قالب په کی موندلی شو.

زما پر اند افغاني صاحب یو ډیر ښه اولسی شاعر او پر دی برخه کی یی د خپل وخت له ډیرو همزولو مخکی اوږده مزلونه وهلی دي که د ده دغه هڅی همداسی جاری وي نو لری نه ده چی هغه له دی نه هم ډیر ښه او زړه وړنکی اثار خپلی خواری او ملنګی ژبی ته وړاندی کړی، زه ده ته اوږد عمراو د ادب پر میدان کی له دی نه هم دښو اثارو دلیکلو دعا کوم۰ اوس همد ومره۰

پر شاعرانه مینه

افضل « ټکور»

د دوه زره یولسم کال ، د می پنځمه ــ لندن

# بازگشت!

**خواننده گان گرامی!**

**حوادثی که دراین چند دهه اخیر درکشورعزیزما افغانستان به وجود امده ، تاریخ، ادبیات وخاطره نویسی به دلایل مختلف خاموش بود ه است، اما درجبهه ها، زندان ها، تبعیدگاه ها و درمهاجرت ها همچنان در داخل کشور درهرکوچه و شهر، ولایات ، قریه و قصبات حوادث مانند آیینه متجلی بوده که خوشبختانه دست اندرکاران هنر و ادبیات دست زیر الاشه نه نشسته کلچر، رسوم ، عنعنات و عادات مردم خویش را در نبشته های شان به شکل قصه، داستانهای کوتا وناول انعکاس داده و راه نوسینده گی را برای اینده گان هموار نموده اند، سپاس فراوان به هنر دوستان کشور.**

**برادر محترم سمیع الدین « افغاني » فرزند سعیدافغانی داستان کوتاهی را به نشر سپرده که اکثر جملاتش عاطفی بوده هیچگاه به کدام حادثه یی دردناک نپرداخته اما عمق عنعنوی جامعه اش را نمایان گر بوده است.**

**شرایطی را که یک جوان به نام نسیم جهت تفریح از شهر کابل به شهرجلال اباد رفته و درانجا دوست قدیمی اش جاوید را ملاقات میکند وسر انجام در نتیجه کمک به اشخاص که در تصادم موتر زخمی شده اند به اساس حس مردم دوستی و نوع پروری به عشق اش یا که به ارزویش میرسد وبلاخره این معامله به ازدواج منجر میشود که طوفان این حادثه به ارزورسیدن دو جوان می باشد.**

**به امید موفقیت های بیشترایشان**

**مل**

**مارچ ۲۰۱۰ میلادي**

# داغلي زړونه!
# « درېيمه شعري ټولګه »

داغلي زړونه  دهيواد دتکړه شاعراو ليکوال ښاغلي سميع الدين« افغاني»  دريمه شعري ټولګه  ده چې د شعر او ادب مينه والو ته يې ډالی کوي.

پدغې  شعري ټولګې  دهيواد نامتو علمي  شخصيت  ښاغلي ځيرندوی حبيب الله« رفيع » صيب  يوه ښکلې سريزه ليکلې ده او همدارنګه د وطن پيژندل شوې ليکوالې اوشاعرې،اغلې زرلښت «حفيظ » چې زمونږ د هيواد د ښځودنهضت يوه با تور ه او په هيواد مينه شاعر ه اوليکواله ده هم يوه سريزه ليکلې ده.

همدارنګه پدغې شعري ټولګې  ښاغلي افضل« ټکور» صيب هــم د ( زه دوهم يم ) تر سرليک ليکنه کړې اوپه اوسني عصر کې په کتابو نو د د سريزو د ليکلو اود افغاني صيب د شاعر ی په اړه يې خپل نظر څرګند کړی دی.

دغه شعرې ټولګه په ښکلي  د يزاين او ثقافت د اسد دانش دکتاب چاپولو د موسسې له خوا په ښکلي بڼه دچاپه راووتلی دی.

مونږ« افغاني » صيب ته د هغه د ياد اثر دچاپ مبارکي وايو اوهغه ته د لوی خدای له درباره څخه  د ليا برياوو او اوږد عمر  هيله کوو.

په درنښت

د حق دلارې کلتوري ټولنه

او د افغان ستراتيژيکوځيرنو مشرتابه

# نړيدلې جونګړه!

د « نړيدلې جونګړې» تر سرليک زمونږ د هيواد تکړه شاعر اوليکوال ښاغلي سميع الدين « افغاني» ځلورمه شعري ټولګه  د چاپه راووتله٠

په دغه شعري ټولګه کې شاعر د « خپلې خبرې » تر سرليک يوه ښکلې  سريزه را ښکلې ده  چې د هيواد د حالاتو او د خپلې نوې شعري ټولکې  په اړه يې  لوستونکو  سره  د زړه خواله او  د حالاتو ريښتينې انځور شريک کړی دی.

همدارنګه په دغه شعري ټولګه کې د هيواد ښه شاعر ښاغلي  مصطفى « ارين » هم  د افغاني صيب د شعر او شاعرۍ په اړه خپل ليدلوری او نظر څرګند کړی دی.

دغه شعري ټولګه چې « ۲۸۸ »  مخونه لري په ښکلي  ثقافت او ډيزان  په کابل کې  د  دانش کتاب جوړولو موسسې  په مټ او زيار د چاپه راووتله.

ښاغلي سميع الدين « افغاني » ته د « نړيدلې جونګړې»  تر سرليک د ځلورمې شعري ټولګې د چاپ مبارکي وايو او هغه  ته  د شعر او ادب په برخه کې  د نورو لاسته راوړنو تر څنګ روغتيا ،  سوکاله ژوند او د لا برياوو هيله کوو.

و من الله التوفيق

د حق د لارې کلتوري مرکز ـ  جرمني

د ۲۰۱۶ م ٠ کال ـ  د جون مياشت

# د هیواد د وتلي شاعر او لیکوال سمیع الدین « افغاني »!




**بسم الله الرحمن الرحیم**

**شعر او شاعري په افغاني ټولنه کې ډېره پخوانۍ مخینه لري، او زمونږ د تاریخ یوه مهمه برخه هم ګڼل کیږي.**

**داچې د یو ښه شاعر او لیکوال یوه ښه ځانګړنه دا ده، چې تل خپلو اشعارو او لیکنو کې د هیواد او ټولنې د خلکو ارزښتونو ته په پام سربېره، دهغوی غوښتنو، مبارزو او د احساساتو ته د شعر په ژبه انعکاس ورکول دی.**

**د بل اړخه دا هم ده که هره لیکنه کوم شاعر او لیکوال یې کوي مهمه پکې تر ټولو درې نکتې ضروري دي چې په پام کې ونیول شي، هغه دا چې څه لیکم، څنګه یې لیکم، او چاته ته یې لیکم؛ دا هغه څه دي چې د دې ټکو په پام سره کولای شو خپل پیغام تر خپلو لوستونکو په ښه توګه بیا وړاندې کړو.**

شاعر او لیکوال ښاغلی سمیع الدین « افغاني » یو له همدې لیکوالانو او شاعرانو څخه دی چې تل یې خپلو اشعارو، مقالو او لیکنو کې همدې پورته ټکو ته په پوره توګه اهتمام کړي.

دغه علمي، ادبي او فرهنګي مجموعه کوم چې ستاسو په لاس کې قرار لري، په ټوله کې د افغاني صاحب تر دې محاله پر هغه څلورو چاپ شوي اثارو او کتابونو : « د وطن یادونه، پردیس خیالونه، داغلی زړونه، او نړیدلی جونګړی » تر سرلیکونو دي او د هیواد د سترو مشهور و شاعرانو او لیکوالانو تبصرې او لیکنې پرې کړي د هغه ټولو را جمع کول وه چې الحمدلله یاده مجموعه په « ۱۳۹۹ هجری شمسي » کال کې اماده او په ښه صحافت په « ۸۸ صفحو » کې چاپه شوه.

دا مجموعه د یو فهرست په درلودلو سربېره د شاعر او لیکوال پېژندنه او خبرې یې، بیا په پرلپسې توګه مشهورو استادانو شاعرانو او لیکوالو پر لیکنو مشتملې دي، او همدارنګه د کتاب په پای کې د هغه ناچاپه اثارو یادونه هم شوې ده کوم چې ورته په راتلوونکي کې د چاپ پلان نیول شوې چې ان شاءالله د شعر او ادب مینوالو ته به ډالۍ او ورسیږي.

په پای کې د ټولو هغه دوستانو څخه هم ډېره مننه کوم چې د دې کتاب په مختلفو برخو کې خپله مرسته کړې ده، همداسی محترم استاد افغاني صاحب ته د دغې مجموعې د اماده کېدو او چاپ په هکله مبارکي وایم، او الله سبحانه او تعالی دې ورته په چارو او آدبي فعالیتونو کی نور هم کامیابي پر نصیب کړي او پر ژوند او قلم یې برکت وي.

په درنښت

قاضي نثاراحمد « مصلح »

د ثور میاشت ، د ۲۰۲۰ میلادی کال ــ کابل

# خپلې خبرې!

درنو د شعراوادب مينه والو !

د « غوره اشعار او نظمونه » ترسر ليک زما دا نوی اثر د هغه اشعار و او نظمونو را ټولونه ده کوم چې ما د وطن څخه لرې د پرديسی او جلا وطنی په کلونو کې ليکلي او په څلورو شعري ټولګو کې د چاپه راوتلي دي.

د چاپ شوو څلورو شعري ټولګو به اړه لنډ معلومات د درنو لوستنکو سره په لاندې ډول شريکوم:

## ـ لمړۍ ټولګه « د وطن يادونه»:

د « وطن يادونه» زما لمړي شعري ټولګه ده چې په« ۲۰۰۳ م ۰ کال» کې د چاپه راوتلې، په دغه شعري ټولګې ښاغلي شا محمود « حصين » يوه ښکلې سريز راښکلې ده او زما د شعرونو په اړه يې خپل نظر څرګند کړی دی ۰

همدارنګه په دغه شعري ټولګه کې زما د « خپلې خبرې» تر سر ليک يوه لنډه ليکنه کړې او د هيواد د حالاتو په نظر کې نيولو سره مې د خپلو شعرونو په اړه لوستونکو سره معلومات شريک کړي دي.

## ـ دويمه ټولګه « پرديس خيالونه » :

د « پرديس خيالونه» زما دويمه شعري ټولګه ده چې د شعر او ادب مينه والو ته مې ډالۍ کړې ده . دغه شعري ټولګه په کال « ۲۰۰۹ م۰ کال » د دانش کتاب چاپولو موسسې له خوا د چاپه راوتلې ده۰

پدغې شعري ټولګې ښاغلي سرمحقق عبدالله بختاني « خدمتګار» صيب يوه سريزه را ښکلې چې بې له تصرفه نشر ته سپارل شوې او همدا رنګه په دغه شعري ټولګې د هيواد ځوان او ټکره ليکوال اوشاعر ښاغلي اجمل اټک « يوسفزي» صيب هم يوه سريزه ليکلې او زما د اشعارو په اړه يې خپل نظر څرګند کړی دی ۰ همدا رنګه د يادې ټولګې په اړه ما هم خپلې خبرې د لوستونکو سره شريکې کړي دي ۰

## ـ دريمه ټولګه « داغلي زړونه »:

محترمو لوستونکو!
که د نړۍ تاريخ ته ځير شو ، يو شمير شتمنو هيوادونو د دې پر ځای چې دبشر او انسا نيت د خير او فلاح لپاره کوشش اوهاند کړای وای اوانساني ټولنه يې د فقر ، بدبختي ، وحشت او بې عدالتي څخه ژغورلی وای برعکس دې هيوادونو د خپلو مادي او معنوي ګټو د خـــوندي کولو په مقصد د

میلنونو انسانانو ژوند د مرګ ژوبلې او بدبختي سره مخامخ کړ ی او پدې توګه یې په مستقیم یا سیاسي ډول نورهیوادونه ترخپل ولکې لاندې راوستلي اودهغو ملکونو دارایي یې غصب او وګړي یې خپل غلامان ګرځولي دي.

زمونږګران هیواد افغانستان چې هم دتاریخ په اوږدوکې د داسې شومو اهدافو قرباني ګرځیدلی دی، د کلونو کلونو راهیسې یې زمونږ خلک د نابودی کندې ته غورزولي او زمونږ هیوادوالو د خپل دنجات او انساني ژوند او تاریخ د بقا پـه مقصد د پردیـو زوروکانـو سره لاس او ګریبان او د خپلې خاورې څخه په میړا نې دفاع اوساتنه کړې ده.

نن سبا کومه جګړه چې زمونږ په خلکو تحمیل شوې ده زمونږ ډیری بې ګناه هیواد وال یې د مرګ، ژوبلې او بدبختیو سره مخ کړي او که د هیواد هر وګـړي د ژوند تاریخ وسپړل شي ، درد، غم او مشکلاتو څخه بغیر هیڅکله هم د یـو ارام او متمئن ژوند څخه ندي بهرمند شوي او زړونـه یي د داسې ناکرد و څخه تل دردولي او داغلي د.

داغلي زړونه زما دغه شعري ټولګه هم زمونږ د هیوادوالو د داغلي زړونو، هیلو او ارمانونو یوه وړه شانتې بیلګه ده چې د ادب مینه والواو درنو لوستونکوته یې په درنښت ډالی کوم هیله مند یم چې ددوستانو دپا ملرنې وړوګرځي٠

باید یادونه وکړم چې پدغې شعري ټولګې دهیواد نامتو علمي شخصیت ښاغلي څېرندوی حبیب الله « رفیع » صیب پیرزوینه کړې او یوه ښکلې سریزه یې پرې لیکلې ده چې د رفیع صیب څخه د زړه د کومې مننه کوم چې د ډیرو بوختیاووتر څنګ یې ددې ټولګې په اړه خپل نظر څرګند کړی دی.

ښاغلی څېرندوی حبیب الله« رفیع » صیب ته د اوږد عمراو روغتیا دلوی خدای له دربارهیله مند یم٠

همدارنګه پدغې شعري ټولګې پیژندل شوې لیکوالي او شاعرې ، اغلې زرلښت « حفیظ » چې زمونږ دهیواد د ښځود نهضت یوه با توره او په هیواد مینه شاعره اولیکواله ده یوه سریزه لیکلې چې دمننې ترڅنګ هغې ته زمونږد هیواد دښځو دنهضت دیوې فعالې مبارزې، لیکوالې او شاعرې په تو ګه د لابریاوو هیله کوم٠

## څلورمه ټولګه « نړیدلې جونګړه »:

د« نړیدلې جونګړه» تر سرلیک زما څلورمه شعري ټولګه ده چې د شعر او ادب مینه والو ته یې ډالي کوم .

په دغه شعري ټولګه د هیواد نازکخیال او د مینې شاعر ښاغلي مصطفی« ارین» صیب هم یوه ښکلې سریزه راښکلې ده او زما د شعرونو په اړه یې خپل نظر څرګند کړی دی چې د ګران ارین صیب د څرګندونو نه یوه نړې مننه کوم ، هغه ته د هوسا او بسیا ژوند تر څنګ د لا بریاوو هیله کوم .

په ډیره مینه

سمیع الدین « افغاني »

# خپلې خبرې!

پــــه وطــن موجوړماتم دی ـ تــورتمونو کې مو شپې دي
دا د کـــــوم ظـــالم له لاسه ـ چې ظلونو کې مو شپې دي

محترمو لوستونکو!
که دنړۍ تاریخ ته ځیر شو ، یو شمیر شتمنو هیوادونوددې پر ځای چې د بشر او انسا نیت د خیر او فلاح لپاره کوشش اوهاند کړای وای اوانساني ټولنه یې د فقر ، بدبختۍ ، وحشت ، اوبې عدالتي څخه ژغورلې وای برعکس دې هیوادونو دخپلو مادي او معنوي ګټو د خوندي کولو په مقصد د میلنونو انسانانو ژوند د مرګ ژوبلې او بدبختی سره مخامخ کړ ی او پدې ترتیب بې په مستقیم یا سیاسي ډول نور هیوادونه تر خپل ولکې لاندې راوستلي او دهغو ملکونو دارایي یې غصب او وګړي یې خپل غلامان ګرزولي دی.
زمونږ ګران هیواد افغانستان چې هم د تاریخ په اوږدو کې د داسې شومو اهدافو قرباني ګرځیدلی دی، د کلونو کلونو راهیسې بې زمونږ خلک د نابودۍ کندې ته غورزولي او زمونږ هیوادوالو د خپل د نجات او انساني ژوند او تاریخ دبقا پــــه هیله د پردیــو زورواکانــوسره لاس او ګریبان او د خپلې خاورې څخه په میړا نې دفاع اوساتنه کړې ده.
نن سبا کومه جګړه چې زمونږ په خلکو تحمیل شوې ده زمونږ ډیر بې ګناه هیواد وال یې د مرګ او بدبختیو سره مخ کړي او که د هیواد هر وګــړي د ژوند تاریخ وسپړل شي ،درد ، غم او مشکلاتو څخه بغیر هیڅکله هم د یـــو ارام او متمئن ژوند څخه نـــدي بهرمند شوي او زړونـه یي د داسې ناکردو څخه همیش دردولي اوداغلي دي.
داغلي زړونه زما دغه شعرې ټولګه هم زمونږ د هیوادوالو د داغلي زړونو، هیلو او ارمانونو یوه وړه شاني بیلګه ده چې د ادب مینه والواو درنو لوستونکوته یې په درنښت ډالۍ کوم هیله مند یم چې د هیوادوالو دپا ملرنې وړ وګرځي.
باید یادونه وکړم چې پدغې شعري ټولګې دهیواد نامتو علمي شخصیت ښاغلي څیړندوی حبیب الله رفیع صیب پیژوینه کړې او یوه ښکلې سریزه یې پرې لیکلې ده چې د رفیع صیب څخه د زړه د کومې مننه کوم چې د ډیرو بوختیاوو تر څنګ یې ددې ټولګې په اړه خپل نظر څرګند کړی دی.
ښاغلی څیړندوی حبیب الله « رفیع» صیب ته د اوږد ژوند او د ښه صحت هیله دلوی خدای د دربار څخه کوم.
همدارنګه پدغې شعري ټولګې پیژندل شوې لیکوالې او شاعرې ، اغلې زرلښت « حفیظ » چې زمونږ د هیواد د ښځود نهضت یوه با تور ه او پـــه هیواد مینه شاعره اولیکواله ده یوه ښکلې سریزه لیکلې چې د مننې تر څنګ هغې ته زمونږ د هیواد د ښځو د نهضت د پوې فعالې مبارزې، لیکوالې او شاعرې په تو ګه د لابریاوو هیله کوم.
زه دوهم یم؛ ترسرلیک لیکنه کړی ، د ټکور صیب څخه مننه کوم چې د ډیرو بو ختیاو ترڅنګ یې خپل وخت د دغه شعري ټولګې د سریزې لپاره او په اوسني عصر کې په کتابونو د د سریزو د لیکو په اړه خپل نظر څرکند کړې دی. په پای کې لازمه ګڼم د هغه دوستانو څخه چې د دغې شعري ټولګې په راټولولو ، ډیزاین او چاپ کې له ما سره مرسته کړې هم مننه او یادونه وکړم. په ډیره مینه

سمیع الدین « افغاني »
د ثور میاشت ، د ۲۰۱۱ میلادی کال

# شين خالي او انځوريزه شاعري!

**محترمو لوستونکو!**

**دا يوه څرګند حقيقت دی چې په بشری نړۍ کې علم اوتخنيک ورځ په ورځ د پرمخ تګ په حال کې دی او نړۍ وال په مختلفو برخوکې د نوی اکتشافاتو شاهدان دي چې بشردعلم ، فرهنګ او ادب په برخه کې هم لازمي لاسته راوړني درلودلې دي.**

**پدې بحث کې په مشخصه توګه هغه ادبي فعالتونو ته اشاره کيږي، کوم چې د هرې جامعې د کلتور او ادب پورې تړاو لري او په هغه کې د ليکوالانو او شاعرانو ونډه او فعالتونو تر څنګ هغه لاسته راوړنې چې د ژبو او ادب د غنې کيدوپه اړه ترسره کيږي يادونه کوم .**

**هره بشرې ټولنه ځانــله يوه او مدبره علمي شخصيتونه ، ليکوالان ، شاعران او هنرې استعـدادونه لــري چې هر يوېې په خپله برخه کې د جامعې اوخلکو لپاره پـه خپل وخت کـې مشخص خدمتونه د خپلې پوهې او قلم له لارې سرته رسولې چې دهغوی هلې ځلې تلپاته او نـه هيريدو نـکې دي.**

**مونږ په هيوادونو او نړۍ کـې مشهوره ليکوالان پيژنـو چې دهغو لاسته راوړنې د قدر وړ او بشريت تــه د خپل قلم له لارې د خدمت جوګه ګرځيدلې دې.**

**همدارنګه د سيمې او نړۍ په کچه وتـلې ليکوالان اوشاعران تير شوي چې هريو په خپل دور او زمان کې اشعار، مجموعې او ديوانونه خپل راتلونکې نسلونو ته په ميراث پاته کړي دي.**

**زما مطلب پدې ليکنه کـې په مشخصه تـوګه د هنر او هنرمند پـه اړه کوم چــې د شــاعرانو شعرونه کمپوزوې اوبيايې خپلو اوريدونکو ته څه په ژوندی بڼه او څه هم د ميديا له لار وړاندې کوي.**

**پخواکه يو شعر په يوښکلې اواز او کـمپوزکې د خلکو زړونو ته لارموندله خونن سبا د دغه ښکلې شعر، اواز اوکمپوزترڅنګ د يو ښکلې کليپ جوړولو تــه هــم اړتيا شته چې هنرمندان خپل فعاليتونه د بصرې ميديا له لارې خپلو ليدونکو او اوريدونکو ته وړاندې کوي.**

**مونږ نن سبا د ډيرو هنرمندانو د سنـدرو او کليپونـــو سره د تلويزون له لارې اشنا يوچې ځينې يـې ښکلې او هغه انځورونه په نظرکې نيولې کوم چې دشاعر د شعر انځور پکې ليدل کيږي مګر يو شمير هنرمندان بيا دا کليپونه داسې جوړوې چې نه د شعر سره تړاو لري او نـه د شاعر د شعر د انځور کومه نښه يا علامه پکې په سترګو کيږي.**

**د پورتني اصل په نظر کې نيولو سره په اوسنيو خاصــو پرمخ تللو شرايطو کې بشري ټولنه پـــه مشخصه توګه انځورګره شاعرانوته ضروروړت احساسوي چې د داسې رشتې شاعرې يو نوي فن او قدم دی د هنر او ادبياتو پــه برخه کې چې پدې برخه کې د ادب د مينه والو پام ورته اړوم.**

**انځوريزه شاعران هغه شاعران دې چــې هــم ليکوال دي هم شاعر، هغوی خپل د شعر انځور په نثر ليکي او دخپل دشعرد ا نځور مختلف حالتونـه په نثر اوپه مناسب ځايونو کــې دشعر په بڼه ترسيموې او په همدې ډول د خپل د شعر انځور په نثرې بڼه هم ليکي.**

په همدې هیلې د دې مطلب په نظرکې نیولوسره دادې دشین خالی تر سر لیک ناول چې پخوا د لنډو کیسو په ډول او اوس دهمدې ناول په بڼه د ادب مینه والو ته ډالۍ کوم.

په همدې هیله په دې لیکنې کې د شین خالی تــرسر لیک چې یو ژوندی تاریخي کیسه او زمونږ د ګران هیواد دکلیوالې ژوند هغه ریښتنې داستــان دی چې د دې دوو پاکزړ و ځوانانانو شین خالی او زیر ګل د ژوند د هیلو او ارمـــانو د پوره کیدوسربیره د کــلو او بانډو رسمونه، رواجونه او د خلکو د بوختیاوو انعکاس د شین خالي په ناول کې څرګند شوی دی.

په ډیره مینه

سمیع الدین « افغاني »

# اووم فصل

## د سميع « افغاني » وفات او رسيدلي پيغامونه!

| | |
|---|---|
| ۱ | وفات ! |
| ۲ | د افغانستان د علومو اکاډمۍ د تسليت پيغام: څېړنپوه دکتورعبدالظاهر « شکيب ». |
| ۳ | د خواشينۍ او ډاډگيرنې پيغام : استاد تمهيد « سپلاني ». |
| ۴ | ليکوال او شاعر سميع الدين « افغاني » وفات شو: نن ټکی اسيا. |
| ۵ | تکړه شاعر افغاني صيب وفات شو: تاريخي افغانستان. |
| ۶ | د خواشينۍ او ډاډ گيرنې پيغام: قاضي نثاراحمد « مصلح ». |
| ۷ | فاتحه، دعايه او د قران عظيم الشآن ختم په لغمان کې! |
| ۸ | لټوم : د نجم الدين « سعيدي » شعر |

# د سمیع الدین « افغاني » وفات!

## 05.06.1954 – 22.12.2020

سمیع الدین « افغاني » په ۱۳۹۹ هجري شمسي کال د مرغومی پر ۲ نیته « ۲۲ دیسمبر ۲۰۲۰ میلادي ـ کال » په روغتون کی په حق ورسید. إنا لله وإنا إليه راجعون

د مرحوم سمیع الدین « افغاني » جنازه په سبایی « ۲۳ دیسمبر ۲۰۲۰ میلادي ـ کال » د جرمني هیواد ، د مونشن ګلاد باخ ښار اسلامي حضیره کې خاورو ته وسپارل شو. جنازې او دعایه کې یې ګن شمیر لیکوالانو، شاعرانو او دوستانو ګډون کړاې وه.

**د جرمنی هیواد، د مونشن ګلاد باغ ښار اسلامي حضیره پته:**

**Peter –Nonnenmühlen - Allee**
**41063 Mönchengladbach**
**Germany**






آی الله سبحانه او تعالی !

ته الرحمن او الرحیم یي ! په خپل لطف او مرحمت؛ ارواښاد سمیع الدین « افغاني » وبخښه ، روح یی ښاد او جنتونه یي په نصب کړه. امین یا رب العالمین

# د افغانستان د علومو اکاډمۍ د تسلیت پیغام!

په خورا خواشینی خبر شو چې د هیواد تکړه لیکوال او شاعر سمیع الدین « افغاني » په پردیسۍ کې وفات شوی دی.

انا لله و اناالیه راجعون

د ارواښاد د وفات له امله خپل د تعزیت او خواخوږۍ مراتب د ارواښاد کورنۍ ، خپلوانو او دوستانو ته وړاندی کوم ، ستر څښتن تعالی دې ارواښاد افغاني وبخښي ، جنت الفردوس دې ځای شي.

موږ د سعید افغاني له کورنۍ سره په دې ستر غم کې خپل ځان شریک بولو. خدای مو دې له نورو غمونو او دردونو وساتي.

څېړنپوه دکتور عبدالظاهر « شکیب »

د افغانستان د علومو اکاډمۍ رئیس

۲۳ د سمبر ۲۰۲۰ ـ کابل

# د خواشینی او ډاډګیرنې پیغام!

اناالله و انا الیه راجعون

پهٔ ډېرې خواشینی سره مې نن سهار د خوږ دوست او ملګري د مړینې خبر تر لاسه کړ، سمیع الدین « افغاني » پهٔ جلا وطنی کې ژوند کو، دی د پښتو ژبې خوږ ژبی ریالست شاعر، لیکوال او روڼ آنده شخصیت و ...

تل یې د ولس درد، غم او غوښتني پهٔ خپلو اشعارو او لیکنو کې منعکس کړي دي. اروآښاد افغاني د نورو ډېرو اثارو ترڅنګ د پښتو ژبې دیوان لرونکی شاعر هم دی. دیوان یې ځو موده وړاندې پهٔ خپل ژوندوني ترتیب او د چاپ لهٔ پاره یې کابل ته را واستو، چې ډېر ژر به د چاپ پهٔ ګاڼه سمبال شي...

افغاني صاحب سره د ملګرتیا او دوستی ډېرې ګډې خاطرې لرم، د دهٔ پهٔ لیکنو او اثارو مې څو مقالې لیکلي دي، هڅه کوم چې پاتې اثار یې هم چاپ کړو.

د افغاني صاحب مړینه د پښتو ژبې او ادب پهٔ برخه کې لویه ضایع بولم او پهٔ دې ستر غم کې ځان د افغاني صاحب لهٔ درنې کورنی سره شریکه ګڼم.

روح یې ښاد او یادونه یې تلپاتې

درنښت!

استاد تمهید « سپلاني »

۲۳ دسمبر ۲۰۲۳ کال ــ کابل

نن ټکی اسیا
( چهارشنبه، ۳ مرغومی، ۱۳۹۹ل ـ ۲۳ دسمبر ۲۰۲۰)

# لیکوال او شاعر سمیع الدین « افغاني » وفات شو!

د هیواد نومیالی لیکوال او شاعر سمیع الدین « افغاني » د وروپېښې ناروغۍ له امله په المان کې وفات شو.

سمیع الدین « افغاني » چې د المان په مونش ګلادباخ کې میشت و، له څه مودې راهیسې ناروغ و تېره ورځ (۲۲ دسمبر) وفات شو او جنازه یې نن(د دسمبر ۲۳مه) په یاد ښار کې خاورو ته وسپارل شوه.

لیکوال او شاعر سمیع الدین « افغاني » له کلونو راهیسې لیکوالي او شاعري کوله او په بېلا بیلو موضوعاتو یې مقالې او شعرونه لیکل چې نن ټکی اسیا یې هم ګڼ شمیر شعرونه او لیکنې خپرې کړې دي.

په ۱۳۹۰ کال کې یې د « داغلي زړونه » په نامه یوه شعري ټولګه هم چاپ شوې ده.

د نوموړي ورور ډاکتر صلاح الدین « سعیدي» په خپله فیسبوک پاڼه له ټولو هغو خلکو مننه کړې چې د سمیع الدین « افغاني » په جنازه او فاتحه کې ګډون کړی و.

نن ټکی اسیا د خپل دې فرهنګي همکار په مړینه خواشیني ښیي او له کورنۍ سره یې په دې غم کې ځانونه شریک ګڼي .

نن ټکی اسیا

( چهارشنبه، ۳ مرغومی، ۱۳۹۹ل ـ ۲۳ دسمبر ۲۰۲۰)

تاریخي افغانستان
« ۲۲ دسمبر ۲۰۲۰ میلادي »

# تکړه شاعر افغاني صیب وفات شو!

په خواشینۍ سره خبر شوم چې د پښتو او دري ژبو تکړه شاعر ښاغلی ډګروال سمیع الدین« افغاني» صیب وفات شو.

انا لله و انا الیه راجعون.

د ارواښاد سمیع الدین « افغاني » صیب مړینه د افغانانو لپاره د غم نه ډکه پېښه ده. سمیع الدین « افغاني » صیب خپل ټول عمر د افغانستان د آبادۍ، پښتو او دري ژبو اشعارو ته وقف کړی وو .

د سمیع الدین « افغاني » صیب قدرمنې او غمجنې کورنۍ ته د تسلیت مراتب وړاندې کوم.

الله « ج » دې سمیع الدین « افغاني » صیب ته جنتونه نصیب کړي.

آمین

تاریخي افغانستان
۲۳ دسمبر ۲۰۲۰ میلادی

# د خواشینۍ او داد ګیرنې پیغام!

بسم الله الرحمن الرحیم

كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُوالْجَلَٰلِ وَالْإِكْرَامْ. صدق الله العظیم.

په ډېرې خواشینۍ سره مې خبر ترلاسه کړ چې خواخوږی، مهربانه، نیک انسان، ستر شخصیت او زمونږ د کورنۍ معزز مشر، نوموتی شاعر او لیکوال الحاج ښاغلی سمیع الدین «أفغاني» د ورپیښې ناروغۍ له امله له هیواد څخه بهر د پردیسۍ په ژوند که په حق ورسید.

انا لله وانا الیه راجعون. الحکم لله!

رحمه الله تعالی و أسکنه فسیح جناته و أللهم أهله و ذویه الصبر و السلوان.

أرواښاد افغاني صیب د ګران هیواد او بیا په ځانګړې توګه د لغمان شعر او ادب په برخه که یو له ځلانده ستورو او علمي کادرونو څخه شمیرل کیږي چې د ځواني له پیل څخه د عمر تر وروستۍ شیبې پورې خپل هیواد او ولسونو ته په مختلفو برخو کې خدمتونه کړي.

اګر چې دی بهر له خپلې درنې کورنۍ سره ژوند یې کاوه، مګر خپل د هیواد خلک او خپلوان یې تل په یاد او فکر به یې دلته وه، او د دوی سره به یې نیکې اړیکې درلودل او حال احوال به یې کاوه، دا چې ما سره یې هم ځانګړې اړیکې وه او درلودې او د خپلو أدبي فعالیتونو، ګټورو اثارو ترتیب، ډیزاین، چاپ او په نورو برخو که را سره مشوره کولې او هدایات به یې را کول په مړینه یې ډیر خفه شوم مګر دغه حقه لاره زمونږ د ټولو ده د نوموړې وفات یوه لویه او نه جبرانیدونکی ضایعه بولم!

اروانباد افغاني صیب ته د رب لایزال کریم او رحیم له عظیم دربار څخه جنت الفردوس غواړم او هم زه او د خپلې کورنۍ په استازیتوب د ده پټمنې کورنۍ، اولادونو، ټولو اقاربو، دوستانو، ملګرو ته یې او د شعر او ادب ټولو مینوالو ته د زړه جمیل صبر دعا کوم او پدې ستر غم که ځان شریک ګنوو.

قاضي نثاراحمد «مصلح»

۲۳ دسمبر ۲۰۲۰ کال ـ لغمان

# فاتحه، دعایه او د قران عظیم الشآن ختم  په لغمان کې!

أرواښاد سمیع الدین « أفغاني »  د مرحوم مولانا دکتور محمد سعید « سعید أفغاني »  زوی وه چې جنازه یې په «  ۲۳ دسمبر ۲۰۲۰ میلادي » جرمني  هیواد که ادا او هملته  خاورو ته  د مونشنګلد باغ  په اسلامي  هدیره کې سپارل شوی وه.

سمیع الدین « أفغاني » د لغمان  د مشهورې روحاني  کورنی غړی وه چه « د چهادرهي  ملا صفت کلي »  نه خپل تعلیم او تربیه  شروع کړ او  ورسته بیا  د هیواد  په ځانګړې  توګه  ټکره  لیکوال او خوږ ژبه شاعر شوو.

په دې اساس د لغمان ولایت د چهادرهي  ملا صفت کلي اوسیدنکي ؛ د افغاني صیب  فاتحه او د قران عظیم الشأن ختم  د جمعي  مبارکه  ورځ  «  ۲۶  دسمبر  ۲۰۲۰  »  ترسره کړ  ،  چه  الله جل جلاله  د خپل عظیم  دربار که قبول  کړي او ټولو راغلو دوستانو او ملګرو  ته اجر عظیم  په نصیب  کړي.





الهی !

په  خپل  لطف  او  مرحمت  زمونږ  ټولو د عاوې ، صدقات  او  ختم  قران عظیم الشأن  په خپل عظیم دربار  که  قبولې وګرځوی.  د ارواښاد سمیع الدین « افغاني »  روح  ښاد  او  جنت الفردوس یې   په نصیب  کړي.

امین یارب العالمین

# لټوم دی!

دنــیــاء ده لــویه لــټــوم دی پکی
اغلب گمان دی چی موندی دی نشم
ستــاء د لــیــدو او رسیــدو لــپــاره
دنیا زنــدان دی تــری وتلې نشم
ډیرې خوښي او خوشحالي به راشي
تــه پکې نــه ئې زه کتلې نشم
په لــوی طوفان او سمندر لا هو یم
د نجات لــیــاره زه لــیــدلی نشم
تا ته دې در کړي خداې جنت فردوس
همدا می دعــا نــور څه کولې نشم

***

نجم الدین « سعیدي »

یادداشت:

د گران ورور خدای ببنلی سمیع الدین « افغاني » پــه یا دی ؛ پروردگار دی غریق رحمت او جنت فردوس دې ور نصیب کړي. امین

# اتم فصل

## د سميع الدين « افغاني » اشعار او افکار

## « څېړنيز اوعلمي مونوګراف »

ترتيب کونکې:  فاطمه « نيازۍ »

لارښود استاد: پوهاند يارمحمد « يزال »

# د سمیع الدین « افغاني »
# اشعار او افکار

## The Sameuddin “Afghani” Poems and Thoughts.




**ترتیب کونکې:  فاطمه « نیازی »**

**لارښود استاد: پوهاند یارمحمد « یزال »**

## د مونوګراف پېژندنه:

- نوم : ( د سمیع الدین « افغاني » اشعار او افکار) څېړنیز اوعلمي مونوګراف
- لیکوونکی : فاطمه « نیازۍ » د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځۍ محصله
- لاربنود استاد : استاد پوهاند یارمحمد « یزال »
- ښوونیز کال: ۱۳۹۴- لمریز کال
- د چاپ ځای : د دانش خپرندویه ټولنې؛ کابل - افغانستان

# د سمیع الدین « افغاني »

# د اشعارو او افکارو تر سرلیک مونوگراف

د « سمیع الدین اشعارو او افکارو » تر سرلیک د اغلې فاطمه « نیازی » د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځی محصلې څیړنیز مونوگراف دی چې د محترم استاد پوهاند یارمحمد « یزال » ترلارښوونې او مرسته لیکل شوی، د دانش خپرندویه ټولنې په مرسته یې د چاپ چارې تر سره شوي دي ۰

د ستراتیژیکومطالعاتو تحقیقاتي او د حق دلارې کلتوري مرکز د یاد مونوگراف په اړه لیکي:

اغلې فاطمه « نیازی» د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځی زده کړیالې د خپل فراغت په سیمینار کې د هیواد د وتلي شاعر او لیکوال ښاغلي سمیع الدین « افغاني» په اړه « د سمیع الدین افغاني اشعار او افکار » تر سرلیک یو څیړنیز او علمي مونوگراف لیکلی چې د محترمې خور فاطمه « نیازی » او د هغې معززو استادانو په ځانگړې توگه د محترم استاد پوهاند یارمحمد « یزال » د لارښوونو او زیار څخه په مننې سره چې زحمت یې ویستلی او په معیاری کچه یې کره مطالب د ادب مینه والو ته ډالی کړی دی ۰

دلته په اروپا کې د ستراتیژیکو مطالعاتو تحقیقاتي او د حق دلارې کلتوري مرکز د اغلې خور فاطمه « نیازی» څخه د دې څیړنیزو فعالیتونو اوهلو ځلو څخه په مننې سره د هیواد ولسي شاعر او لیکوال ښاغلي سمیع الدین « افغاني » دلا بریاوو او ښه ژوند په هیله دا دی د یاد مونوگراف د چاپ چارې بشپړې او د شعر او ادب مینه والو ته یې په مینه ډالی کوو۰

همدا رنگه اغلې خور فاطمه « نیازي» ته د یاد څیړنیز اثر د چاپ مبارکي وایو او هغې ته د لا بریاوو هیله کوو.

و من الله التوفیق

ډاکتر صلاح الدین « سعیدی »

د افغان ستراتیژیکو مطالعاتو تحقیقاتي

او د حق دلارې کلتوري مرکز په استازي توب

# د پیل خبرې

لکه ځرنګه، چې دهرپوهنتون له خوا د پروګرام مطابق د شپاړلسم ټولګیو فارغانو ته د سیمینار د ترتیبولو دنده ورسپارل کیږي، چې په همدې اساس ما هم د ( سمیع الدین افغاني اشعار او افکار) تر عنوان لاندې موضوع د محترم استاد پوهنوال یار محمد « یزال » تر لارښوونې لاندې و نیوله په نوموړې موضوع کې مې د مختلفو او معتبرو اخذ لیکونو او خپله د ښاغلي سمیع الدین « افغاني » له کتابونو ځخه ګټه اخیستې.

ښاغلی سمیع الدین « افغاني » هغه شاعر او لیکوال دی، چې له خپل هېواد لری پروت یو افغان مسافر دی، خو ده خپل هېواد او هېوادوالو هیڅکله هم نه دي هېر کړي او تل یې په خپل قلم باندې په خپل نظم او نثري اثارو کې ساتلي دي.

ما هم دلته د ده په ژوند، شاعري او لیکوالي باندې لږ و زیاتې خبرې کړې دي خو بیا هم داسې ډېر نور معلومات او خبرې شته، چې په دغه ملي او ولسي شاعر او لیکوال باندې وشي او اثاري یې وڅېړل شي، ما هم د خپل توان په اندازه دده په اړه معلومات را غونډ کړي، زموږ د ګران هېواد داسې ډېر لوی شخصیتونه لکه ښاغلي سمیع الدین « افغاني » غوندې، چې ځیني یې بهر او ځیني یې داخل په هېواد کې دي خو تر اوسه ورباندې هیڅ کار نه دی شوي، هیله ده ، چې یوه ورځ داسې شخصیتونو اثار را ټول او خپله دوي وویاړل شي.

او زیار مې ویستلی چې ګرانو لوستونکو ته په زړه پورې معلومات وړاندې کړم، هیله ده، چې زما دا لیکنه ګټوره او د استفادې وړ وګرځي.

په پای کې د کابل پوهنتون ، د ادبیات د پوهنځي د پښتو څانګې د ټولو عزتمندو استادانو اد په ځان ګړی توګه د خپل لارښود استاد پوهنوال یار محمد « یزال » ځخه هم زیاته مننه کوم، چې ماسره یې د زړه له کومې مرسته او لارښوونه کړې ده، الله ( ج ) دې ورته دوی ته ستر اجرونه ورکړي.

په درنښت

فاطمه « نیازی »

# سریــزه

څرنګه، چې ټولو ته معلومه ده، د یوې ټولنې پرمختګ علم او پوهې پورې تړلی ده، په کومه ټولنه کې، چې ښوونه او روزنه وجود ونه لري، هغه ټولنه کولای نه شي، چې پرمختګ وکړي او ښوونه او روزنه بې له وسایلو منځ ته راتلای نه شي، چې د هغو وسایلو له جملې څخه یو هم علمي آثار، کتابونه او درسي مواد دي، که دغه مواد مسلکي متخصصینو او علمي کدرونو په واسطه تهیه او ټولنې ته وړاندې شي، نو ټولنه کولای شي په سالمه توګه پرمختګ وکړي، چې دلته زه هم غواړم په همداسې علمي شخصیت باندې و غږیږم هغه هم سمیع الدین « افغاني » دی.

ښاغلی سمیع الدین « افغاني » د هېواد نه لرې د پردیسی شپې سبا کوي نوموړی نه یوائې یو ولسي شاعر دی بلکې ډېر ښه نثر لیکونکی هم دی.

سمیع الدین « افغاني » هغه شاعر دی، چې په شعر کې د هغه هیلې، دردونه ، مینه او ارمانونه ژور ټولنیز،انساني او بشري رنګ لري. د سولې، هوساینې او نیکمرغی تږی دی. د خپل ځپل شوي هېواد د زوریدلي انسان په دردونو اوښکې تویوي، د کرکې، نفرت او توپیر غوښتنې پر ځای د مینې او محبت اواز اوچتوي د ارمانونو ارمان یې خپل خلک خپله مینه او خپل هېواد دی.

له هېواد څخه د لریوالي غم یې د زړه وینې خوري او د پردو پردي کتنې یې د شاعرانه روح ته عذاب شي. په تیرو ویاړي او په روانو ژاړي او د سولې، ورورۍ او هوساینې په هیله د نفلونو سجدې په غاړه اخلې، د شکونو او بې باوریو تورو لړو ته زوریږي او همدغه څه د افغان ولس د ناورین د اوږدیدو یو ستر دلیل بولي.

د سمیع الدین « افغاني » شاعري د هېواد یادونه، درد او احساس سندرې دي، ژبه یې ساده، روانه او بې تکلفه ده. نوموړي هڅه کړې، چې په روانه ساده، او رنګینه ژبه د هېواد حالات په خپلو شعرونو کې خوندي کړي. په مختلفو فورمونو کې یې شاعري کړې ، او ډېر ښه مضامین یې پکې بیان کړي دي، چې زیاتره یې د وطن په اړه دي.

په دې لیکنه کې د شاعر او لیکوال ښاغلی سمیع الدین «افغاني» په ژوند، نثر او د شعرونو په ځینو اړخونو رڼا اچوال شوې ده. د پورته خبرو تر څنګ په دې لیکنه کې دا کوښښ هم شوی، چې د شاعر د غزلو، مثنوي او مختلفو فورمونو بیلګې هم وړاندې شي.

## د موضوع موخه او هدف:

لکه څنګه، چې ټولو ته څرګنده ده، چې زموږ ګران هېواد افغانستان کې د کلونو کلونو راهیسې تپل شوې جګړه روانه ده، چې دې جګړې زموږ ډېر شمېر هېوادوال د فقر، بدبختي، مرګ ژوبله او مایوسی سره مخامخ کړي دي.

او همدا رنګه زموږ ډېر هېوادوال یې شهیدان، معیوب او په هېواد کې د آرام او انساني ژوند کولو څخه محروم او په پردیو ملکو کې یې د پردیسی ژوند تېرولو ته اړیستلي دي.

په دوي کې لوی علمي شخصیتونه ، لیکوالان او شاعران هم شته چې مونږ یې په اړه لږ معلومات لرو، چې له هغې جملې څخه یو هم ښاغلی سمیع الدین « افغاني » دی.

زما هم له دې موضوع څخه موخه او هدف همدا دی، چې داسې لیکوالان او شاعران باید خلکو ته و پیژندل شي او زیار مې ویستلی ، چې ګرانو لوستونکو ته په زړه پورې معلومات وړاندې کړم، هیله ده، چې زما دا لیکنه د نورو لپاره ګټوره او د دغه ځوارخیزه شخصیت حق اداء شي.

## څېړنیز مېتود:

ما په دې مونوګراف کې له کتابتوني مېتود څخه کار اخیستی دی . او ډېر په ساده کلماتو څخه استفاده کړې ده او هم مې د ده له خپلو کتابونو څخه او هم له ځېنو نورو د اړتیا وړ څېړنیزو کتابونونه استفاده کړې ده. او هم مې د ده یاني د ښاغلي سمیع الدین « افغاني » ځیني شعرونه نه مې له ویب پاڼو څخه هم اخیستي دي. یاني زما د مېتود طریقه او روش مې څېړنیزه بڼه لري.

## د موضوع شالید:

زما خپله موضوع، چې غواړم ورباندې وغږېږم د ښاغلي سمیع الدین « افغاني » اشعاراو افکار ترعنوان لاندې د محترم استاد پوهنوال یار محمد « یزال» تر لارښووني لاندې نیولې ده، لکه څنګه، چې یې له عنوان څخه هم معلومېږي د ښاغلي سمیع الدین « افغاني » په ژوند لیک، آثارو او تر ټولو مهم د نوموړي په شاعري د فورم او محتوا له مخې باید غږېدلې وای.

ما هم ددې لپاره ، چې موضوع ښه روښانه کړي اوسي او د نورو لپاره د استفادې وړ شي په نوموړې موضوع کی مې د مختلفو او معتبرو اخذ لیکونو ، کتابونو او خپله د ښاغلي سمیع الدین « افغاني » له آثارو او مقالو څخه مې استفاده کړې.

او د خپل لارښود استاد په لارښوونه مې خپله موضوع چمتو کړې ده. هیله ده، چې د ګرانو لوستونکو ته په زړه پورې او د استفادې وړ یې وګرځي.

# د سميع الدين « افغاني » لنډه پيژندنه:

لکه څنګه، چې ټولو ته ځرګنده ده، چې زموږ په ګران هېواد افغانستان کې د کلونو کلونو راهيسې تېل شوي جګړه روانه ده، چې دې جګړې زموږ ډېر شمېر هېواد وال د فقر، بدبختي، مرګ، ژوبله او مايوسۍ سره مخامخ کړي دي، او همدا رنګه زموږ ډېر هېواد وال يې شهيدان، معيوب او په هېواد کې د آرام او انساني ژوند کولو څخه محروم او په پرديو ملکو کې يې د پرديسۍ ژوند تېرولو ته اړويستلي دي.

ښاغلي سميع الدين « افغاني » همداسې دردېدلی او ځورېدلی افغان دی، چې د ده د نوې ځوانۍ په تاند پسرلي کې دده هېواد د پرديو د ګوليو د ړليو ښکار شو او دده آرام او د بشپړه امنيت په غېږه کې او سپرلی ملت د ناآرامۍ او جګړو غېږې ته ولوېد او راز راز بدبختيو او بد مرغيو دې هېواد او دې ملت ته خولې خلاصې کړې.

همدوغو بدبختيو او بدمرغيو سميع الدين « افغاني » له خپل ګران هېواد څخه لرې که، چې اوس ښاغلی سميع الدين « افغاني » د هېواد نه لرې د پرديسۍ شپې سبا کوي. که څه هم له خپل هېواده لري پروت يو افغان مسافر دی، خو د خپل يتيم وراره سرتورې ورېرې بې مور او پلاره، کور او اور يې ژړوي او کړوي، چې دا درد په الفاظو او کلمو په ښه بيانوي.

ښاغلي سميع الدين « افغاني » نه يواځې يو ولسي شاعر دی بلکې ډېر ښه نثر ليکونکی هم دی او شاعري يې په مختلفو فورمونو کې د خپل ولس درد يې بيان کړې دی، چې شعرونه يې د وطن په مجلو او جرايدو کې خپاره شوي دي.

او همدا رنګه ډېر شعرونه يې د هېواد د وتلو شاعرانو او ليکوالانو په علمي سيمينارونو او مشاعرو کې د کلمه او يو شمېر نور يې د هېواد د خوږ ژبو سندرغاړو په خوږو آوازونو کې کمپوز شوي دي لکه : « بنجاره ماما، پل دې بختور شه، همت، افغان يم، د افغانستان دی، ياره ستا په اننګو کې او ډېر نور... » چې زموږ د هېواد والو د توجه وړ ګرځيدلي دي. ښاغلي سميع الدين « افغاني » متاهل او د پنځو اولادو څښتن دی.

## کورنی شجره:

ښاغلي سميع الدين « افغاني » زوی علامه دوکتور محمد سعيد « سعيد افغاني » زوی غازي مولانا عبدالمجيد « رحمة الله عليه » زوی ملا سيد امير زوی صالح زوی مولوی اقامحمد زوی ملا شير محمد زوی لنګرخان زوی پاينده محمد زوی مولوی خيرالدين زوی ملا محمد عمربابا « ساپی » ته رسيږي.

د مولوی خيرالدين اولاده مشهور په « خرين زالی » د مولوی خيرالدين دوه ورونه نور وه يعنی د ملا محمد عمر بابا « ساپی » دوه نور زامن، چې يو يې مولوی عبدالمحمد، چې د مولوی عبدالمحمد اولاده مشهور په « ادوخيل » دي او بل زوی يې برهان الدين دی، چې د برهان الدين اولاده مشهور په « برهان خيل » دي.

## زوکړه:

ښاغلي سميع الدين « افغانی » د ارواښاد علامه مولوی دوکتورمحمد سعيد « سعيد افغانی » زمونږ د هېواد مشهورعالم ، ليکوال ، مولف، استاد او اجتماعي شخصيت و چه تل يی د سولي ، ترقي ، وروری ، برابري او تفاهم لپاره مبارزه کوله، د دی نوميالی پوه دروند نوم هم په وطن کښی او هم د نړی په نورو هېوادونو کښی خپور او مشهور دی ، ځوی او د خدای ښنلی مجاهد مولوی عبدالمجيد لمسی دی چه په کال « ۱۳۳۳ هجری شمسی » کی د لغمان ولايت د عمرزيو د خير اباد په کلی کی زيږيدلی دی.

## زده کړې:

سميع الدين « افغاني » لمړنی زده کړې يې د لغمان ولايت د حيدرخانيوپه دهاتي ښوونځی، د مهترالمک ابتدايه ښوونځی اود روښان په عالی ليسه کې سرته رسولي او په کال ( ۱۳۵۹) کی د لوړو او مسلکي زده کړو د لاسته راوړلو په مقصد بهرته واستول شو. او په کال (۱۳۶۴) کې د کورنيو چارو په وزارت کې د « ډگروالی » تر رتبې رسيدلی دی.

خپله ښاغلي سميع الدين « افغاني » هم وايي، چې ما دنړی ډيرو هېوادونو ته سفرونه لرلي دي، چې اصلي موخه مې دتحصلي بورسونو څخه په استفادې دلوړو زدکړ په مقصد اوهمدارنگه ځينو هېوادنو ته د سياحت په موخه هم تللی يم لکه اروپائي هېوادونه « هالند ، فرانسه ، دنمارک سويدن ، ناروې » او په اسيائي هېواد ونوکي « ايران ،کويت ، پاکستان » او همدارنگه دپخواني شوروي اتحاد او د هغه ډيری جمهوريتونو ته کوم، چې نن سبايې خپله ازادي تر لاسه کړې ده .

مايو وخت فکر کاوه، چې سير اوسياحت به ښه وخت تيرونه وي خود خپلو لمړنيو سفرو څخه راته جوته شوه، چې هغه علم او پوهه، چې د سفر او سياحت په ډول ترلاسته کيدای شي د کتابونو په لوستو نه شي ترلاسه کيدای، داويل غواړم، چې سيراو سياحت د مفهوم په ريښتيني مانا علم دی ۰

ښاغلي سميع الدين « افغاني » خپله د مکتب د شاميليدو کيسه په خپل کتاب د« د خاپوړو کلی » کې داسې بيانوي.

## مکتب ته د شاميليدو دوره:

څرنگه چه ځما پلار د لغمان د عمرزايو د منطقی څخه او مورنی نيکه مو د همدی ولايت د چاردهی د سيمی څخه وه ، نو کله کله چه به پلار د کار يا وظيفوی مصريفتونو پر بنا چيرته کی لری مسافر شو ، نو موږ نوهمدا وجه وه چه اکثرا کليوالی ژوند به په خپل اصلی د زيږيدو ځای عمر زيو او يا په چهاردی کی دخپل مورنی نيکه سره ميشته کيدو او عمر مود لغمان په همدی دواړو سيمو کې تير شوی دی.

زموږ دسن او سال هلکان شپږ اوه ميله لری ښونځی ته تلل، زموږ کليوالي مکتب چه تر دريم صنف پوری شاگردان درلودل دحيدرخانيو د کلی په مسجد کی موقعيت درلود او استاد شير احمد د دې کليوالي مکتب معلم وه.

## د حیدر خانیو د کلی جامع جومات:

زموږ مکتب د حیدر خانیو په یو جامع جومات کې موقعت درلوده چه زموږ د سن او سال هلکان شپږ اوه میله لری ښونځی ته تلل او هلکان هره ورځ دغه مسافه پیاده طی کوله او ترانسپورټی امکانات موجود نه وه .

زموږ کلیوالي مکتب تر دریم صنف پوری شاگردان درلودل زموږ معلم شیر احمد خان چې زما د مور تره هم وه د دې کلیوالي مکتب داستادی مقدسه وظیفه په غاړی درلوده ۰

استاد شیر احمد دلوړ قد او قامت خاوند او ډیر مهربانه ، مدبر او با حوصیلی انسان وه هغه به کله کله موږ تر مکتبه پوری رهنمایی کوله او د نصیحت ډکی خاطری به یی له موږ سره شریکولی.

د حیدرخانیو کلی زموږ د کلی یعنی قلعه صفت څخه تقریبا شپږ میله مسافه لرله دغه کلی په هغه وخت کی دلاسی صنعت له نقطه نظره ډیر مخکې وه هلته کې خلکو ښکلی چاقو گان ، چړی جوړولی چه خورا ښایسته لاستی ورته جوړول او همدا رنگه د خمتا په جوړولو کی یی خاص شهرت درلوده چه دا خمتا نه تنها په لغمان کې بلکه د افغانستان په نور ولایاتو کې هم خاص ارزښت درلود.

مرحوم معلم صاحب شیر احمد ډیر با استعداده ، دکار وړ ، پوه او مدبر استاد وه ، هغه په کلی کې د مالداری او زمینداری تر څنگ د ښوونکی دنده هم په غاړه لرله چه پدی برخه کې ددرسی میتودونو او روشونو سره پوره اشنا وه۰

زموږ په مکتب کې د سلو څخه زیاد شاگردان وه چه په دری صنفونو کې په درس مصروفه وه یعنی په لمړی،دوهم او دریم صنفونو کی۰ په زړه پوری خبره خودا وه چه د ټولو صنفونو او ښونځی لپاره صرف یو معلم وه او بس، خوسره له دی معلم حاحب شیر احمد خان کولی شول چه ټولو ته رسیدگی وکړي.

د درسی کتابونو کمبود احساس کیده، ټولو ته نه رسیده ۰ کله به یو کتاب په دوو اویادریو شاگردانو شریک ویشل کیده ۰

معلم صاحب د ښی تجربی خاوند وه، هغه به د دریم ټولگی با استعداده هلکان د خپل تدریسی پروگرام ترڅنگ په لمړی او دوهم صنفونو کی وگمارل چه افتخاری درس ورکړي چه دی کار خورا ښه نتیجه درلودله۰

موږ چه د قلم ،کاغذ او نورو قرطاسیوی موادو نشتوالی احساسوه نو د کاغذ په ځای مو دوړی توری تختی څخه چه دخپلو کتابونو سره مو دځانه سره کور ته وړه او راوړه استفاده کوله هغه داسې چه هر شاگرد به دا وړه تخته ، دکړکو قلم او مشوانی چه دغنمو سیاهی به پکی وه له ځانه سره لرله، شاگردانو به د درس دشروع کیدو څخه څو شیبی د مخه دا تخته د اوبو سره دمسجد یا ښونځی په بیالی کی پاکه پریمینځله او وروسته به یی تخته گل یا د تختی مخصوصه خټه پری وهله اودلاس په بازو به یی ښه سیقل کړه،کله چه دا خټه په تخته کی اوبلنه اوپه مساوی ډول هموراه شوه بیا به یی لمرته کیښوده چه وچه شی چه هغه به پس د څو شیبو وچه او لیک ته به برابره شوه۰

په ښونځی کی د دنیات، قرانکریم او حساب تر څنګ حسن خط ته خاصه توجه وه چه په همدی تخته کی به مو مشق او تمرین کوه ، الفبا به مو په مشقی توګه په کی لیکله بیا به مو معلم صاحب ته د اصلاح لپاره ښودله چه په همدی طرز د کار کی شاګردانو خپل مینځی رقابتونه هم درلودل، هغه یو به ویل چه زه یی ښه لیکم او هغه بل به بیا ویل چه زه یی تر تا ښه لیکم چه په همدی ډول د حرفونو، جملو او مقالو د لیکلو مسابقي او سیالي روانی وي.

یو تعداد نورو به په دغه تخته کی خپلو خپلوانو ته لکه پلار ، ورنو، کاکا ، ماما او انډیوالانو ته خطونه لیکل او ادبی جملی او اصطلاحات یی پکی په کارول چه همدا رقابتونو د مکتب د تدریس سطحه لوړه کړي وه او دې مکتب په منطقه کې خورا ښه شهرت درلود او ډیر مرزایان تری فارغ شول۰

استاد شیر احمد خان تل هڅه کوله چه دشاګردانو درسی مشکلات او پرابلمونه حل کړی او د شاګردانو رسول او تدریس ته یی خاصه پاملرنه درلوده، هغه به شاګردانو ته تل ویل چه د تعلیم سره تربیه ضرور ده او موږ باید دی خبری ته ډیره پاملرنه وکړو، که څوک تعلیم ولري او تربیه ونه لري مکمل انسان نه دی چه په جامعه کی ځای نلري همدا رنګه بی تعلیمه انسان نه شي کولی په ټولنه کې د ترقی او پیشرفت لپاره او همدا رنګه په ورځیني ژوند او چارو کې بریاوی تر لاسه کړي ۰

موږ به هره ورځ تر دولس بجو پوری په درس کې مصروف وو نو څنګه چه به د مکتب د رخصتی زنګ ووهل شو هلکانو به زر زر خپل کتابونه را ټول او په یوه تکه یی کځوړه کی چه جزدان په نوم یادیده ځای په ځای او په څادرکې به یی تاو او بیا څاد ر به یی په او ږه کړ او دکور پلو به په منډو شول.

څرنګه چه د خلکو د ژوند سطحه ښه نه وه یو تعداد هلکان بربنډ پښي مکتب ته راتلل چه دا حالت دژمی په موسم کې هم تر سترګو کیده۰

د لغمان دخلکو ژوند غریبانه او د زحمت ژوند وه ، هلکان به پس له درس څخه په بل کار او غریبی پسی وتل لکه مالداری ، لو او لور یا کومه بلی غریبی ته لاس اچوه تر څو کورنی ته ازوقه برابره کړی ، ډیرو کمو خلکو د حد اقل ژوند امکان درلود۰

## د ښاغلي سميع الدين « افغاني » دندې:

ښاغلي سميع الدين « افغاني » په کال (۱۳۶۴) کې د کورنيو چارو په وزارت کې د ډګروالی تر رتبې رسيدلی دی. او همالته يې دنده لرله تر څو، چې په هېواد کې ګډوډي رامنځته شوه. دی هم لکه نورو هېوادوالو غوندې کډوالي ته اړ شو په (۱۳۷۰) یا (۱۳۷۱) کال کې له کابل نه مسکو ته لاړه بيا له مسکو نه جرمنی ته لاړه، چې اوس هم په جرمنی کې ژوند کوي.

ښاغلي سميع الدين « افغاني » د ليکوالي او شاعري ترڅنګ، چې خپلو هېواد والو او د شعر او ادب مينه والو ته خپل آثار ډالی کوي.

# د ښاغلي سميع الدين « افغاني » ادبي هڅې:

ښاغلي سميع الدين« افغاني » په جرمنی کې ژوند کوي. خو هيڅکله يې خپل هېواد وال نه دي هير کړي هغه له هرې لاري خپل هېواد والو سره ځان شريک ښودلی دی او په همدي خاطر يې يوه ويب پاڼه د خپل پلار په نوم ( د سعيد افغاني سولې او تفاهم، نشراتي ارګان ) په نوم جوړه کړي او هم له نورو ويب پاڼو او مجلو سره همکاري لري، لکه: زرلښت ويب پاڼه او هم مجله يې، نارنج ګل ويب پاڼه، نن ټکی اسيا ويب پاڼه، ۲۴ ساعت ويب پاڼه، بينوا او همدا رنګه يو شمېر نورو خپرونو سره قلمي همکاري لري.

او همدا رنګه د ښاغلي سميع الدين « افغاني » شعرونه د وطن په مجلو او جرايدو کې خپاره شوي دي او همدا رنګه ډېر شعرونه يې د هېواد د وتلو شاعرانو او ليکوالانو په علمي سيمينارونو او مشاعرو کې د کلمه او يو شمېر نور يې د هېواد د خوږ ژبو سندرغاړو په خوږو آوازونو کې کمپوز شوي دي.

خپله ښاغلي سميع الدين « افغاني » هم په مختلفو علمي سيمينارونو، مشهورو شاعرانو د تلين لمانځغونډو او مشاعرو کې ونډه اخيستي او خپل شعرونه يې د کلمه کړي او هم يې د هغو په ياد شعرونه ويلي دي.لکه:

ـ ارواښاد ګل پاچا الفت ته

ـ ارواښاد ملنګ جان ته

ـ ارواښاد اجمل بابا ته

ـ ارواښاد اسحاق ننګيال ته

ـ ارواښاد سعيد افغاني ( پلار) ته يې

او همداسې يې يو شمېر نورو شاعرانو د مړيني په مناسبت شاعري کړې ده. غواړم دلته د بېلګې په ډول هغه نظم ښېلګه يې وړاندې کړم، چې ښاغلي سميع الدين« افغاني » د اجمل بابا د مړينې په مناسبت ويلی دی:

### اجمل بابا د مړينې په مناسبت:

ژوند تيـريږي تمئی نشتـــــه د هيچا

افتخار شي چـې رښتينی شي پيشوا

پښتنو کې شاعران هم ليکوالان شته

خو بيا څوک پکې رهبر شي هم پيشوا

نن په سوګ کې د اجمل بابا ماتم د

پرې خــفه دي ريښتين زړونه ددنيا

پښتنو په لر او بر مرګی مرګي دي

نن اجمل خټک پــريږدي فاني دنيا

چې بې عمرټول تيرېږي په خدمت کې

دوعا ګوی شي هـــــم د زوړ هم د برنا

رب دې ستا د خدمتونو اجر درکړي

جنتي شه داسې ځــــوی د پښتونخوا

کورنی ته بې تســـل دخـــدايه غــواړو

خـــدمتګار وه افتخار دي هـــم بابا

# د ښاغلي سميع الدين « افغاني » شاعري او آثار:

ښاغلي سميع الدين « افغاني » نه يواځې يو ولسي شاعر دی بلکې ډېر ښه نثر ليکونکی هم دی او شاعري يې په مختلفو فورمونو کې د خپل ولس درد يې بيان کړې دی، چې شعرونه يې د وطن په مجلو او جرايدو کې خپاره شوي دي او همدا رنګه ډېر شعرونه يې د هېواد د وتلو شاعرانو او ليکوالانو په علمي سيمينارونو او مشاعرو کې د کلمه او يو شمېر نور يې د هېواد د خوږ ژبو سندرغاړو په خوږو آوازونو کې کمپوز شوي دي لکه: « بنجاره ماما، پل دې بختور شه، همت، افغان يم، د افغانستان دی، ياره ستا په اننګو کې او ډېر نور...» چې زموږ د هيواد والو د توجه وړ ګرځيدلي دي.

ښاغلي سميع الدين « افغاني » د خپلې شاعري په اړه وايي:

« ما له وړکتوب څخه د شعر سره علاقــه لرله ځکه زه دلغمان د ولايت په کلو او باندو کې رالــوی شوی يــم د لغمان او په مجموع کې د مـشرقي سيمه لکه دهېواد د نورو سيمو په شان ښــکلی ، شاعرانه او شاعر پروره ده، چې ډيــر وتلي ليکوالان ، شاعران يې په خپله غېږ کې روزلي دي ، له بلې خوا په وطن کې د څو لسيزو جنــګي حالت پــه نتجه کې زمـــوږ ډير هېواد وال اجباري مهاجرتونو ته اړ باســتل شوي دي ، د مهاجرت څپيرو لـکه د نورو افغـــانانو په شان زما مخ هم راشيــن کړی دی ، نو، چې کله کله د زړه خواله مې دقلم او هېوادالو سره شريـکه کړې وي نود زړه تسکين مې د اشعـاروا‌وليکنوسره کړی دی اوهمدامينـه او دردونـوزه شعراو شاعـري ته هڅولې يم.

کله چې زما پلار مولانا دکتورمحمد سعيد « سعيد افغاني » دننګرهار د هډې په نجم المدارس کې مديــر او مدرس وه ، موږ په ننګرهارکې هستوګنه درلوده او زه د ميا عمر په ښوونځي کې متعلم وم، چې زما لمړنی شعر په هغه وختونوکې چې زه به د ۱۲ کلو وم ويل شوې دی، چې ورسته د ښوونځی د ادارې اوکورنی له خوا ډيرتشويق شولم .

ولې په تاسف سره بايد ووايم چې زما لمړنی شعر او تر هغه ورسته د ډيــرو نورو شعرونو ياداشتونه له ما سره نشته او په هغه وخت کې بې دومره دراتولولو ليوال هم نه وم ، خوبياورسته په تيرودوه لسيزوکې ودې پايلې ته ورسيدم چې خپل شعرونـه ر اټول او له هېوا دوالو سره يې شريک کړم...)) (زرلښت ډاډکام ).

## چاپ شوي آثار:

ښاغلي سميع الدين « افغاني » په مختلفو برخو کې په نثر او نظم کې شاعري او ليکولي کړي ده ، چې په دواړو برخو کې يعنې په نظم او نثر کې يې آثار چاپ شوي دي.

### ـ د وطن يادونه:

دا د ښاغلي سميع الدين « افغاني» لومړنی شعري مجموعه ده، چې په (۱۳۸۴ل) کال کې چاپ شوي ده. د« وطن يادونه » دسميع الدين « افغاني » د شعرونو ښکلي مجموعه د پښتو او پښتنو د ځپل شوي ادب په دنيا کې د رنګارنګ ګلونو څه نوې شان ګيډۍ ده، چې د شعر او ادب مينه والو ته يې وړاندې کوي.

سميع الدين « افغاني » شاعر دی، د هغه په شعر کې د هغه هيلې، دردونه، مينه او ارمانونه ژور ټولنيز، انساني او بشري رنګ لري. د سولې، هوساينې او نيکمرغی تږی دی. د خپل ځپل شوي وطن د زوريدلي انسان په دردونو اوښکې تويوي، د کرکې، نفرت او توپير غوښتنې پر ځای د مينې او محبت آواز اوچتوي د ارمانونو ارمان يې خپل خلک خپله مينه او خپل وطن دی، د خپل وطن په روان ناتار زوريږي او وايي:

### د وطن په ياد

په وطن موجوړماتم دی
تورتمونو کی مو شپی دی
دا د کوم ظالم له لاسه
چه ظلونو کی مو شپی دی
ګران وطن راته سوراورشو
د دوزخ لمبی تری خيژی
بل محشر ته حاجت نه شته
قيامتونو کی مو شپی دی
دا د کوم ظالم له لاسه
چه ظلمونو کی مو شپی دی
د کابل هره کوڅه مو
ښکلی ښکلی خاطری دی
اوس يی وران اوويجاړګورم
ګړنګونو کی مو شپی دی

دا د کوم ظالم له لاسه
چه ظلمونو کی مو شپی دی
زوړ او ځوان مو شهيدان شول
څوک بی پلاره څوک بی موره

د چا کور جوړ قبرستان شو
زیارتونو کی مو شپی دی

دا د کوم ظالم له لاسه
چه ظلمونو کی مو شپی دی

افغانان ټول تار او مار شول
څوک په کوزاوڅوک په بردی

په وطن کی چه اوسیږی
ماتمونو کی یی شپی دی

دا د کوم ظالم له لاسه
چه ظلمونو کی مو شپی دی

د اسلام په تمه تمه
د کافرو کانی وشوی

هیڅ تمیز کولای نه شو
په چرتونو کی مو شپی دی

دا د کوم ظالم له لاسه
چه ظلمونو کی مو شبی دی

دنیا ټوله راته خاندی
موږ په چیغو چیغو ژاړو

څه سپین سترګی دنیاګی ده
سیاستونو کی مو شپی دی

دا د کوم ظالم له لاسه
چه ظلمونو کی مو شپی دی

افغانی وطن به جوړ شی
که د خدای مهربانی وه

د پردو لاس به لنډیږی
امیدونو کی مو شپی دی

دا د کوم ظالم له لاسه
چه ظلمونو کی مو شپی دی

## ـ پردیس خیالونه:

دا هم د ښاغلي سمیع الدین « افغاني» دویمه شعري مجموعه ده، چې په (۲۰۰۹م) کې چاپ شوي ده، چې له نوم څخه یې هم معلومیږي « پردیس خیالونه » هغه شعري مجموعه ده، چې ښاغلي سمیع الدین « افغاني» د خپل هیواد لکه څنکه چې تولو ته څرګنده ده، چې زموږ ګران هیواد افغانستان کې د کلونو کلونو راهیسې تیل شوې جګړه روانه ده، چې دې جګړې زموږ ډیر شمیر هیوادوال د فقر، بدبختي، مرګ ، ژوبله او مایوسی سره مخامخ کړي دي.

او همدا رنګه زموږ ډیر هیوادوال یې شهیدان، معیوب او په هیواد کې د آرام او انساني ژوند کولو څخه محروم او په پردیو ملکو کې یې د پردیسی ژوند تیرولو ته اړیستلي دي. د خپل زړه درد یې پکې بیان کړې دی. خپله سعید افغاني هم وایې:

### افغان یم

زه څوک د کوم ملیت دکوم زبان یمه زه؟
بس دومره درته وایم چه افغان یمه زه
پښتون دی که تاجک که هزاره د دی وطن
ازبک نورستانی که پشه ای دی یا ترکمن
د دی خاوری بچیان دی سره یو مو دی مدفن
تاریخ یم جوړونکی د زمان یمه زه
بس دومره درته وایم چه افغان یمه زه
د ښمن مو په نفاق کی یو تر بله بیلوی
په رنګ رنګ دسیسوموپه خپل مینځ کی جنګوی
په حیله او نیرنګ مو په قومو جلا کوی
اوس پوه زه د دشمن په بد ګمان یمه زه
بس دومر درته وایم چه افغان یمه زه
د توری په میدان کی هردښمن پدی پوهیږی
افغان باندی په زور او زیاتی کله کلی کیږی
خصلت مود میرانی دی په دی هرڅوک پوهیږی
په عزم، اراده کی با ایمان یمه زه
بس دومره درته وایم چه افغان یمه زه
راځی ای خوږو ورونو چه وطن سره اباد کړو
په پوهه هوښیاری باندی دا خپل غلیم برباد کړو
پیشرفت او ترقی ته افغانی عزم بنیاد کړو
بیا سولی وروروِلی ته ارمغان یمه زه
بس دومره درته وایم چه افغان یمه زه

## ۳ ـ داغلي زړونه:

دا هم د ښاغلي سميع الدين « افغاني » درېيمه شعري مجموعه ده، چې په (۱۳۵۹ه ش) کال کې چاپ شوي ده. په « داغلي زړونه » کې ښاغلي سميع الدين « افغاني » هم لکه د نورو شعري مجموعو غونډې د خپلو هېواد والو د بد بختی ژوند انځور کړې دی.

ښاغلي سميع الدين « افغاني» په خپلو هېواد والو وياړي او وايي، چې هېواد يې له دومره بد بختيو او ناخوالو سره سره بيا هم هيواد والو يې د خپل نجات او انساني ژوند او تاريخ د بقا په هيله د پرديو زورواکانو سره لاس او ګريبان او د خپلې خاورې څخه په ميرانې دفاع او ساتنه کړې ده.

په يو شعر کې ښاغلي سعيد افغاني داسې وايي:

### سپېڅلي ارمانونه

ګوره پــــه مينه پــــو هيدلې اشنا
په زړه کې پوهه په خولې غلې اشنا

خوځه چې وائې په رښتيا بې واپې
ای په خلوت کـې نازولـــې اشنا

دا ستا دميني پــت ا لهام ته سلام
دميني ډک خواږه پيغام تــــه سلام

ستا دمعصوم زړګي اسرونه لوګی
ستاد اخلاص ښکلي انجام ته سلام

موږ د وحشي صياد په لومه کې بند
دځــــوانو هيلو ارمــــانونو کې بند

مينــــه د زړه اظــــهارولــــې نشو
يودتعصب وړنـــدو چمونو کې بند

راشه چې مينه شو ايمان شو سره
يو ښکلې راز شواوپيمان شوسره

ای پـــتې مينې د حـــيا نـــه ډکې
راشه د خوږ زړنـــو درمان شو سره

دغـــه طلسم مـــاتول دي پـــکار
په جهد مطلب ته رسيدل دي پکار

چې دايم عـــزم شوهمت شو سره
دغه تياری سبـــا کـــول دی پکار

## ـ زموږ کلي او بانډې:

دا د ښاغلي سميع الدين « افغاني » نثري مجموعه ده چې ده، چې په (١٣٩٠ل) کال کې چاپ شوي دی. په دې کتاب کې د لغمان په اړه د هېواد د معاصر څېرونکو او ليکوالانو د معتبره تاريخي ليکنو کره مطالب راټول شوي دي.

دا کتاب هم د ښاغلي سميع الدين « افغاني » په څوارلسو برخو کې د هېواد په بيلابيلو خپرونو او هم د انټرنيټ په پاڼو کې خپور شوی دی، چې هره برخه يې ځانته جلا ډول موضوع او راخلي او هغه تشريح کوي، خو په مجموعه کې يې د لغمان په اړه هر اړخيز معلومات وړاندې کړي دي لکه د لغمان دودونه رواجونه، زراعت، مشهوري او تاريخي سيمي او داسي نور معلومات يې پکې وړاندې کړي دي.

## ـ د خاپوړو کلي اوبانډې:

دا هم د ښاغلي سميع الدين « افغاني » نثري کتاب دی، چې په (٢٠٠٩م ) کال کې چاپ شوی دی. او مختلفې موضوع ګاني پکې راغلي دي له مخذونو څخه يې هم استفاده کړي ده.

ـ مکتب ته د شامليدو دوره

ـ قلعه صفت

ـ د حيدرخانيو د کلی جومات

ـ د حيدرخانيو کلی

ـ زموږ تفريحی مصريوفتونه

ـ د روژی مبارکه مياشت

ـ په کليو کی د ودونو رواجونه

ـ پل دی بختور شه

ـ لغمانی اوږره يا دلغمان د خلکو خاص خواړه

ـ خوږ ژبی سندر غاړی مرحوم مسجدی

ـ په کلو کی د اختر رواجونه

ـ کوم اختر ؟

ـ د نوی کال يا د نوروز ميله

ـ شفيع ما ما يا د کلی نايی

ـ عشر يا مشترک کارونه

- تیر یادونه

- په لغمان کی اوسیدونکی قامونه او پرگنی

- د لغمان لرغونی تاریخ او جغرافیوی موقعت

- دازادی دلاری مبارز مولوی عبدالمجید

## - شین خالۍ:

دا د ښاغلي سميع الدين« افغاني» ناول دی، چې په (۱۳۸۸ه ش) کال کې چاپ شوي دی. د شين خالۍ ناول چې په څوارلسو برخو کې د لنډو کيسوپه ډول د هېوادپه بيلابيلو خپرونوکې په ځانگړې توگه دانټرنيټ په پاڼوکي خپور شوی دي ، زموږ دگران هېواد دکلواو بانډو او کليوالي ژوند يوه نوې شان بيلگه ده چې زموږ د وروسته پاتې ژوندهغه ناخوالې په گوته کوي کوم چې زموږ هېواد وال په تيره بيا ځموږ ځوان کول يا نسل په څومره ستونزو او کړاونوخپلو هيلو او ارمانونوته د رسيد لو لپاره هلې ځلې کوي ترڅو خپلو سپيڅلو اهدافو ته ځان ورسوي.

ښاغلي سميع الدين « افغاني » هم د شين خالۍ ناول په اړه وايي، چې: دغه ناول کيسه د هېواد د کلو او بانډو يو ژوندی نځور دی، چې د شين خالۍ او ډاکتر زيرگل په دغه ناول کې منعکس شوي دی او د ادب مينه والو ته يې په ډېره مينه ډالۍ کړې دی.

په همدې اساس په دې ليکنې کې دشين خالۍ ترسر ليک چې يوژوندی تاريخي کيسه او زموږ د گران هېواد د کليوالې ژوند هغه ريښتنې داستان دی، چې د دې دووپاکزړونو ځوانانو شين خالۍ او زير گل د ژوند د هيلو او ارمانو د پوره کيدو سربيره د کلو اوبانډو رسمونه، رواجونه او د خلکود مصرفيتونو انعکاس دی چې دشين خالۍ په لنډو کيسو کې څرگند شوی دی۰دا ناول په نظم او نثر دواړو کې کښل شوي دي يانې د کيسې مينځ مينځ کې نظم ته هم ځای ورکړل شوي دی.

## - پس از بازگشت:

دا هم د ښاغلي سميع الدين « افغاني » نثري کتاب دی او په دري ژبه ليکل شوي دی، چې په (۱۳۵۱ه ش) کال کې چاپ شوي. داسې داستان دی، چې په اته برخو کې د هېواد په مختلفو خپرونو او ويب پاڼو کې نشر شوي دی.

په دی داستان کې يو ځوان د نسيم په نوم د تفريح لپاره کابل نه جلال آباد ته ځي او هلته خپل پخوانی ملگر جاويد سره ويني بيا په لاره کې د موټرو د ټکر له امله زخمي خلکو سره مرسته کوي، چې هلته بيا له يوې نجلۍ سره مخامخ کيږي او دا ليدل بيا تر واده پورې د دې دواړو ځوانانو کيږي.
ښاغلي سميع الدين « افغاني » دا داستان ډېر ښکلی انځور او په ښکلو جملو باندې ليکلی دی او ډېر ښه پيغام هم لري او زموږ هېواد کلتور يې پکې ښودلی دی.

## ـ نړېدلې جونګړې:

د ښاغلي سميع الدين « افغاني » د نړېدلې جونګړې تر سرليک څلورمه شعري ټولګه يې چاپ ته اماده ده، چې په نژدې راتلونکې کې به چاپ او هېواد والو او د شعر او ادب مينه والو ته ډالۍ شي.

# د ښاغلي سميع الدين « افغاني » ناچاپ آثار:

ښاغلی سميع الدين « افغاني » اوس هم سره له ټولو مصروفيتونو خپل د ادب مينوالو ته يې له مختلفو خپرونو له لارې خپله مينه په نظم او نثر کې آثار او وړاندې کوي.

## ناچاپه اثار:

ـ پنځمه شعري ټولګه

ـ د شين خالی ناول دويمه برخه

ـ د سميع الدين افغاني چاپ شوي اثار همدا ليکنه

ـ د دري ژبې اشعارو ټولګه

ـ کمپوز شوي اشعارو ټولګه

ـ زمونږ کلي او باندې دويمه برخه

ـ غوره اشعار او نظمونه د منتخبو اشعارو لمړی ديوان

## د ښاغلي سميع الدين « افغاني » متفرق آثار:

ښاغلي سميع الدين « افغاني » په مختلفو برخو او مضامينو کې مقالې ليکلي دي او د هېواد له مختلفو خپرونو او ويب پاڼو له لارې يې خپلو هېواد والو ته يې وړاندې کړي دي. ياني د ښاغلي سميع الدين « افغاني » هغه متفرق آثار، چې د مقالو په بڼه يې په هره برخه کې يې ليکلي دي او خپرونو له لارې هم نشر شوي دي، لکه:

- د غم څپې
- بن بست
- په کوز او بر کې
- انځوريزه شاعري
- ربه ستا دربار دی لوی
- زرگري جنگ که ريښتنی اختلاف؟
- ټولټا کنی او د هغه ارزښت
- ديموکراسي، ازادبازار، دبيان ازادي او د هغو تاثيرات
- د لغمان مهترلام صاحب واقعاً پيغمبر وو؟
- چگونه انتخابات به دور دوم رياست جمهوری؟

او هم د ښاغلي سميع الدين« افغاني » هغه متفرق آثار، چې د لغمان په اړه د خپل پلار يادښتونه او داسې نورو معلوماتو سره جمع او هغه يې د مقالو په بڼه په مختلفو خپرونو او د انټرنټ له لارې خپلو گرانو هېواد والو او لوستونکو ته يې وړاندې کړي دي لکه:

- په لغمان کې د حيدخانيو کلی او جامع جومات
- کليوالي ژوند او د خلکو بوختياوې
- په کليو کې ودونه او دودنه
- د نوي کال يا د نوروز ميله
- د روښان ليسه
- حشر يا مشترک کارونه
- لغمانی اوگره او د هغې دولونه
- په لغمان کې اوسيدونکي قامونه او پرگنې
- د لغمان په کلو او باندو کې د اخترونو رواجونه
- د لغمان د ترګړو د جامع جومات خطيب او د ازادئ د لیارې مبارز مولوي عبدالمجيد
- د لغمان لرغونی تاريخ او جغرافيوي موقعيت

# د سميع الدين « افغاني » د شعرونو فورم:

ښاغلي سميع الدين « افغاني » په مختلفو فورمونو او يا شکلونو کې شاعري کړي ده. خو زياته برخه يې ولسی شاعري ده او خپله يې هم ويلي، چې ولسي شاعر دی په ولسي شعرونو کې يې داسي شعرونه هم شته چې د فورم له مخې يې پيژندل ګران کار دی يانې ډېر او مختلفو شکلونو کې يې ويلي دي.

خپله فورم يا د يو شعر شکل عبارت دی د يو ادبی اثر وړاندی کول په ځانګړ ي فورم يا قالب کې د هماغه اثر يا شعر شکل ګڼل کيږی لکه: غزل، بګتی او داستان.

## غـزل:

ښاغلي سميع الدين« افغاني» په غزل کې هم ډېره ښه او استادانه شاعري کړي ده، چې مخکې له غزل بېلګو څخه غواړم د غزل په اړه يو څه ووايم چې غزل څه قسم فورم دی:
غزل د پښتو شاعری تر ټولو توانا او ورځ په ورځ ځوانيدونکی صنف دی او ډير ليکل کيږي. ډير خلک ورباندی شاعری زده کوی. اسانه هم دی او ښه غزل ليکل تر ټولو ګران کار هم.

غزل د غزلَ يغزلُ نه ماخوذ دی چی د ځوانو جينکو، هلکانو اويا ښځو سره خبروته ويل کيږی.
د ښکار کيدو په وخت د هوسۍ د حسرتونو انتها ته هم ويل کيږي.

غزل د شعر هغه صنف دی چی وزن او قافيه لری. رديف ورسره کله وی او کله نه. خو که وی نو د سر نه تر آخره به يو رديف تکراريږی بدليږی به نه. که قافيه پکی نه وی نو غزل نه دی او که وزن پکی نه وی شعر نه دی. په پښتو، عربی، اردو او فارسی شاعری کی وجود لری.

د غزل لومړی بيت ته مطلع ويل کيږی چی د راختو ځای ته ويل کيږی.
غزل هم همدلته پيل کيږی او راخيژی ځکه ورته مطلع وايی. ښه مطلع ايښودل د ښه شاعر خصلت وی. ورپسی بيت ته اول بيت ويل کيږی. وروستی بيت ته مقطع يا د ختميدو ځای وايی.

دلته شاعر خپل نوم يا تخلص ذکر کوی. د غزل د هربيت مفهوم ( تخيل ) جدا وی. د بيتونو کمه اندازه يی پنځه او زياته يی پنځلس ده خو دا حتمی نه ده. که کوم غزل مطلع ونلری نو نيمګړی غزل ورته وايی او که مقطع ونلری او پنځه بيتونه پوره وی نو غزل بلل کيږی.

يعنی د شاعر نوم يا تخلص ذکر کول ضروری خبره نه ده. له قصيدی سره يی توپير دادی چی په قصيده کی د سر نه تر آخره يوه موضوع وی خو د غزل په هر بيت کی جدا خيال بيان شوی وی.
په غزل تنقيد داسی کيږی چی يو يو بيت وړاندی کيږی او ملګری پری تنقيد کوی او د هغه فنی او فکری قوت ارزوی. که ټول غزل په يو وار تنقيد ته وړاندی شی او هر ملګری پری د خطبی غوندی خپله رايی وړاندی کوی نو ښه نه کوی او د غزل مختلف اړخونه نه شی را برسيره کولای.

## رديف لرونکی غزل بېلګه:

**د غزل د فورم هغه بڼه ده، چې د قافيې تر څنګ رديف هم ولري. رديف هغه يوه يا څو کلمې دي چې تر قافيې څخه وروسته په يوه شکل او تر ډېره زياته حده په يوه مانا تکرار راځي، دا وګورئ:**

## بېلګه:

### تيريادونه

**خړ سيندونه سيلابونه مې ياديږی**

**د وطن شنه شنه فصلونه مې ياديږی**

**د ودونو او دودونو رواجونو**

**ها ديری ها مجلسونه مې ياديږی**

**سندريز خوږی نغمی دحجرومينځ کی**

**ها ګيسونه او کټونه مې ياديږی**

**د مرغيو ګڼه ګونه او سيلونه**

**د چق مق توپک غږونه مې ياديږی**

**په جوزا کی د توتانو په موسم کی**

**د فصلونو درمندونه مې ياديږی**

**مصلی اود درمند شاخی په لاس کی**

**تورچنګړ لوی لوی چجونه مې ياديږی**

**د دهقان په لاس چه تيګه دميزان شی**

**لپکی او خجورونه مې ياديږی**

**د چينی نه د اوبو منګی په سر کی**

**ها د پيغلو کتارونه مې ياديږی**

**مړ او بل د اوربلکو الوتنی**

**د بامو د سر خوبونه مې ياديږی**

په اختر کی د ځوانانو ډلی ډلی

ها میلی او اتڼونه می یادیوی

د پی مخو ښکلو پیغلو بیر او بار کی

هغه لوی لوی زیارتونه می یادیږی

رنګ په رنګ ښکلی جامی د طاعتونو

په مسجد کی ښه وعظره نه می یادیږی

څومره ښکلی څه ښایسته کلی باندی دی

جم او جوش د بازارونو می یادیږی

یادول یی زیاتوی د زړه دردونه

افغانی ها تیر وختونه می یادیږی

## بې ردیفه غزل:

**هغه غزل دی، چې ردیف ونه لري او پر قافیه پای ته رسېدلی وي. او دغه شکل د شعر ته د قطعه فورم هم وایي.**

### لویه لوبه

ځـــــه ویرجنـــې سلسلې دي
ځه غمجــن مهلک وختونه
ځـرمې اوښکـې دي رواني
پرې لامــده شول ګریبانونه

زه د مـــور پـــه حال جړېږم
چې تیر شوي پرې وختونه
هـــر ګـــړۍ هـــره شیبه یې
یـــادوي خـــپل مـــالتونه

نـــا امیده لـــه هـــر خواده
ځان ځانـــي ده تکلیفونه
اوس یې خپل ترې پردي شوي
پردیسي پـــردي ملـــکونه

ربـــه داســـې تـــوان را کړې
چې یې وکـــړو خـــدمتونه
د مور قـــدر او خدمت کې
خدای نصیب کړي جنتونه

ځه حالات ښکلې شیبې وې
دځـــوانی ها تیر وختونه
عمر سیند په دود بهیرېږي
مـــري سیندونـــه دریابونه

مورې خدای دې نګهبان شه
کړو پاک رب ته دا سوالونه
دا غمجن زړګی یې ښاد کړې
کـــړه نصیب یـــې راحـــتونـــه

ته مو دا ارمـــان پـــوره کړې
تـــرینه لـــرې کـــړې دردونـــه

## مثنوي:

ښاغلي سميع الدين « افغاني » په دوه يزه (مثنوي) کې هم شاعري کړې وه، چې مختلف مضامين يې پکې بيان کړي دي. مخکې له بيلګې غواړم د مثنوي اړه ووايم ، چې:

( دويزه ) يا ( مثنوي ) هغه ډول شعري فورم دی، چې هر بيت يې په خپل مينځ کې ګډه قافيه لري (مقفی وي)، د بيتونو شمير يې ثابت نه دی. په ټولو قافيه والو شعري چوکاټونو کې مثنوي تر ټولو خلاص او لوی شعري فورم دی. شاعر کولای شي په دې شعري فورم کې خپل مقصد تر وروستي بريده بيان کړي، ځکه نو اکثره شاعران د لويو موضوعګانو د بيان په غرض دا فورم انتخابوي، لکه ابوالقاسم فردوسي چې د شاهنامې د ليکلو لپاره دا فورم وټاکه.

په مثنوي کې که شاعر په يوه قافيه کې له ستونزې سره مخ شي، نو بلې ته تللای شي. په مثنوي کې هر بيت ځانته قافيه لري، کېدی شي ځينې بيتونه يې رديفونه ولري او ځينې يې ونه لري، خو د ټولو بيتونو وزن مشترک وي او د څپو شمېر يې سره مساوي وي. مانا دا چې مثنوي مقفی مشترک الوزنه او د مساوي څپولرونکی فورم دی.

لکه د مخه چې مو يادونه وکړه په مثنوي کې کېدی شي ځينې بيتونه رديف لرونکي وي او ځينې په قافيه ختم شوي وي، خو ټول يې يو ګډ وزن تعقيبوي او د څپو د شمېر له مخې سره مساوي دي، خو په مثنوي کې کله کله داسې پېښېدای شي، چې د ټولو بيتونو دڅپو شمېر کې يې يوه څپه زياته يا کمه شي خو د هر بيت مسرې يې د څپود شمېر له مخې حتمي سره مساوي وي.

### يوه عجيبه خاطره

يو عجيبه خــــاطــــره د تير وخـــتونـــو

پـــه ښوونځی کې د لسم ټولګي کلونو

هره ورځ درس اوتعليم ،کتاب درسونه

امتحان وه هم کامياب ،ناکام وختونه

يــــوه ورځ ټولګي کـــــې وويـــل استاد

نوې زيري درکـــوم چې شی پـــرې ښاد

ويل سبابه درس ټولګي کې نه تيرېږي

پروګرام به بيا په بل ځای کې جوړېږي

سبا تاسې شاګردان ځــې سرګرمی ته

هــم تفريح او يــــو نوې سير علمی ته

چې سبا مــوږ دخپل کوره راروان شو
د استاد په پلان پــــوه هغه زمـــان شو
ویل چې ځو د زو بڼ ښکلو ننداروته
تاسې بولم دژوندون رنګین صحنوته
هر ژوندي ته چې ورځۍ وکړی پرې فکر
ټول یاداشت کړی بیاټولګي کې کووذکر
چـــې ور ورسیدو دغـــه د زو بـــڼ ته
تلوسه مـــو شوه د هر ژوندي دیدن ته
وه پـــه بڼ کې ټـــول وحشي ځناوران
څوک حیوان څوک یې ښایسته پرنده ګان
چا بیا ولیکه یاداشت پـــه بیزو ګانو
د هـــوسیو پـــه واړه واړه بچیانـــو
چا شروع کړه دزمرو د ژوند صحنونه
د هغو د ژوند او ځـــای د اوسیدو نه
زه او دوست مې یو خبر تـــه شو حیران
هغه دم یـــوه صحنه شـــوه را عیان
ما ویل ګورئ دی حالت نه لږ خبر شئ
سیمساره او داچـــرګوړو تـــه نظر شئ
سیمسارې اوبو د ډنډ نـــه سر اوچت وه
د دوه درې ورځو چـــرګړوبـــدحالت وه
څوک په سر د سیمسارې باندې روان وه
څوک ترې لرې په ګوشه ترې په ترسان وه
در ي څلور چوچه مـــرغان ترې شاوخوا
ګرځیدل څـــوک ازرده څـــوک بې پـــروا

ما پوښتنه خــــدمتګاره ځيني وکړه

ما ویل د اچوچه مرغان نودلته څه کا؟

ورته جـــوړ کړی مناسبه شانته ځای

پري چې اوسي آسوده د ژوند تر پای

ویل چې نه! دسیمساریو دا خوراک دی

ورځ کې څوداني چرګوړي استحقاق دی

موږ ژوندي يې هره ورځ ورته راوړو

دا خــــدمت دي سیمساریو ته يې کوو

ما چې ولیدل عـــاجز، عاجز چرګوړي

چې نه کور ځانله لري نه کوم ځاي سوړي

بس چې کله سیمساری پرې ورګذار شي

د چرګوړو ځيني ورکـــه خپله لار شي

زه او دوست شلوو غمګین پـــدغه راز

و لوي رب ته مــو په زړه شو راز او نياز

ربه دا د ژونـــد قانــــون عجیبه شان دی

چې دايوژوندی خوراک دبل حیوان دی

پدې دير کې کاشکې دا نـــه پیښیدلی

چـــې يوه، د بل چـــا ژوند نه ختمولی

کاشکې هر ژوندون ارامه کړی ژوند وای

دا چرګوړې به اخستی ژوندنه خوندوای

يو انسان ولې ژوندی د بل خوراک کړي

داګناه ده دغه کار به کوم بې باک کړي

لا تر اوسه دی حساب تـــه يـــم حيران

څه قانــــون دې د مخلوق ددې زمان

په بحرو کې هـــم همدا شاني پيښيږي

په وړو ماهيانـــو غټ نهنګ مـــړيږي

يا غرڅه چې د ليوه کله پـــه ښکار شي

وينې وزبيښي په غوښويې نشخوارشی

وای ليوه څومــره ظالمه او خونخوار دي

حقيقت کې انسان دې نـه بد رفتار دی

د غوايې غـــاړه کـــې تيز چـــاړه کړي تير

وينې تويې کړی په غوښه کړې ځان سير

د دنيا داسې قـــانون تـــه يم حـــيران

دا سيستم دی د ژوندن په دی جهان

## ځلوريزه ( رباعي ):

ښاغلي سميع الدين « افغاني » په ځلوريزه فورم کې هم شاعري کړې ده. مخکې له دينه چې د ښاغلي سميع الدين « افغاني » د ځلوريزې بيلګه وړاندې کړم غواړم د ځلوريزې په اړه يو څه وليکم ،چې ځلوريزه څه ډول فورم ده.

رباغي هم هغه شعري فورم دی، چې له عربي څخه پښتو ته راغلی دی. دا فورم ځلور مسرې لري، له ځينو استثنايي حالاتو پرته چې په هغه کې کېدی شي د دريېمې مسرې يوه څپه د قافيه والو مسرو تر څپو کمه يا زياته شي، په ټوليز ډول د ټولو ځلور واړو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي.

د رباعي لومړی بيت مقفی وي، دريېمه مسره يې قافيه نه لري او د ځلورمې مسرې قافيه يې د مطلعې قافيه تعقيبوي. د غزل په شان په ځلوريزه کې هم رديف اختياري وي، خو کله چې د رباعي په مطلع کې رديف راوړل شو ځلورمه مسره کې به ضرور بيا هماغه رديف تکرارېږي.

په پښتو کې د بېلابېلو څپو په شمېر رباعي ويل شوي، خو لس څپيزې ځلوريزې په کې زياتې دي. دا رباعي اکثره په تول تللې دي. هغه رباعي چې لس څپيزې دي، هره مسره يې داهنګ له مخې تقريباً پر دوو برخو وېشل کېږي. پنځه څپې يې يوه خوا او پنځه يې بله خوا په تول تللې وي.

د لوی خان (خوشال بابا) هغه رباعيات چې د يو ځانګړي کتاب په بڼه د (خوشال رباعيات) په نوم د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوي او شمېر يې تقريباً (۱۵۰۰) رباعياتو ته رسېږي، تقريباً په سلو کې ۸۵ ځلوريزې يې لس څپيزې دي.

پر اوسني وخت د ځلوريزو بل بشپړ کتاب چې زموږ په لاس کې دی، هغه د ( پسته اور) په نوم د هېواد د نوميالي شاعر محمد صديق پسرلي د ځلوريزو مجموعه ده. په دې اثر کې څه کم ( يوزر) ځلوريزې راغلي، چې ټولې لس څپيزې دي. د استاد قيام الدين خادم اکثره ځلوريزې هم لس څپيزې دي.

يوه بله خبره چې د رباعي يا ځلوريزو په باب د ياد وړ ده، هغه داده، چې عام ولس او په ځانګړي ډول ځينې سندرغاړي رباعي هغه ډول شعر يا نظم ته وايي چې معمولاً د پند، نصيحت او اخلاقي مسايلو په باب ويل شوي وي او په موسيقۍ کې يې سندرغاړي تر غزل او يا کومې بلې سندرې دمخه وايي او په همدې موقع کې د اورېدونکو د ذهن پاملرنه ځانته راجلبوي.

دلته يوه تېروتنه رامنځته کېږي؛ هغه دا چې اکثره سندرغاړي تر اصل غزل او سندرې دمخه کم شعر لولي هغه اکثره د مانا د انتخاب له مخې وي، نه د فورم له مخې. ځرنګه چې په رباعي کې هم ډېر زيات اخلاقي، ديني، او نور مسايل راځي، نو دوی اکثره هغو شعرو ته چې دا موضوعات په کې بيان شوي وي، هغو ته رباعي وايي، سره له دې چې که د فورم له مخې هغه غزل هم وي.

دلته د دې يادونه په کار ده، چې دا رباعي يا ځلوريزه هغه رباعي نه ده، چې عام ولس يا سندرغاړي يې په کومه مانا او بڼه استعمالوي.

ببېلګې:

## څلوريزه

زړونــوتـــه لارلـــري د زړه خـــبرې
عــزت ، وقــار لـــرې د زړه خـــبرې
چې په ريښتا سره ژونـــدون تيروي
لــوړ اعتـــبار لـــري د زړه خـــبرې

## څلوريزه

زه افغان يم خپل وطن راباندی ګران دی
اتحاد او ورور ولی ځما ارمان دی
چه يی مينه دوطن يی ده په زړه کی
افغانی داهموطن را باندی ګران دی

## بوللـه ( قصيده ):

قصيدې ته په پښتو کې ( بوللـه) وايي. خپله قصيده عربي کلمه ده. په لغت کې ( قصد کړای شوي) ته وايي. په عربي اصطلاح کې هغه شعر و چې د بيتونو شمېر به يې تر ١٦ يا ١٧ کم نه و او دا نوم د قصد له مصدره جوړ شو، چې معنا يې استقامت او اتصال، سموالی، برابري او سوچه توب وو.

دا هغه شعري فورم دی، چې د غزل په شان د سر لومړی بيت يې مقفی وي. د نورو بيتونو د هر بيت دويمه مسره يې قافيه ولري او د مطلعې قافيه تعقيب کړي. قصيده په شکل او جوړښت کې له غزل سره چندان توپير نه لري، توپير يې دادی، چې د غزل د بيتونو شمېر له ٥ څخه تر ١٥ پورې وي او د قصيدې بيا له ١٦ څخه تر دوو سوو يا تر دې هم زياتو بيتونو پورې دی. پخوانی قصيدې له مانيز پلوه هره يوه اکثره پر درېو برخو وېشل شوې دي:

د قصيدې لومړۍ برخې ته تغزل يا تشبيب وايي چې په هغې کې شاعر تر اصلي موضوع د مخه د طبيعت ستاينه کوي. د قصيدې دويمه برخه د هغې اصلي موضوع ده. دا برخه له تغزل يا تشبيب نه وروسته پيلېږي او په دې کې شاعر د خپل ممدوح ستاينه کوي.

د قصيدې درېيمه برخه دعائيه بولي چې په هغې کې شاعر د خپل ممدوح لپاره د خدای(ج) له دربار نه د ښښنې او هوساينې غوښتنه کوي.

په اوسنيو قصيدو کې پورتني نورمونه چندان په پام کې نه نيول کېږي. د غزل او ځينو نورو شعري فورمونو په شان، په قصيده کې هم رديف اختياري دی، خو که مطلع کې راوړل شو، نو په نورو

دويمو مسرو کې يې راوړل حتمي کېږي. قصيدې دوه شکلونه لري، يو هغه ډول دی، چې رديف نه لري او بل هغه ډول دی، چې رديف ولري. د پښتو لومړۍ معلومه لاسته راغلې قصيده په هغه شکل کې راځي چې رديف نه لري.

### بېلګه:

### جنتي خوب

ماويل جنـــت مو د پښــتو ډک شو
په خـوږو ژبـــو پښتنـــو ډک شو

ځای د پښود ايښــودوکــم دی
په احـــمــد زو او درانو ډک شو

هلته ځاځي او هم ساپي وينمه
د پوپل زو او نورزيو ډک شو

دلته مسود او ابــدالي قــامونه
په ميرنـــيو يوســف زو ډک شو
ګورئ چې ټول کړي په پښتوخبرې
د پښتونــخوا پـــه پښتنو ډک شو
دا دی سيــد عبدالخالــق وګورئ
پـــه ماشومانـــو او زړو ډک شـــو
کوچني ماشوم مې غوږکې وروووېل
زموږ د کلي پـــه ځلمـــو ډک شو
ويل چې کرجې بابا دلې واستول
زموږ په خواخوږو او پلرو ډک شو
ماشوم کرجي  کرجي  نارې وهلې
ويل د کرجي بابا د کـــړو ډک شو
ها د شين ډنډ جنتيان هم دلې دي
ويل دحـــاکم په  فــرمانو ډک شو
ماشوم لـــوی  ورته   اشاره وکړله
ويل انتظار د لوی صفو ډک شو
شاوليکوټ پښتانه هم رادرومي
هـــغو بـې وسو په بچو  ډک شو
دا د فــراه او د شينډنډ ځامن دي
دا دهـــغو کلـــو بانـــډو ډک شـــو
ماته شهـــيدې پښتــنې وويلې
دزور واکانو په ظلمو ډک شول
ما ويل چـې زه هم جنتي شوم ربه
څه د ځـــان مـــرګو په حملو ډک شو

ډیربیا چارو اکو په عــزت لیـړلي

څــه یې پـــه مکر  او پلـــمو ډک ش

پیغلي شــهیدې راته داسې ویل

زما د واده پـــه میـــلمنو ډک شو

دا رنګینه جامـــې مې نـه ګورې ته

زما دخاوند په وینو سرو ډک شو

ناڅـــاپه غږ اوغړمبهار  شو پورته

کـــور دهنـــدارو او ګـــردو ډک شو

ګورم چې لرې دخپل ځایه پروت وم

زړه نـــا امیـده له سلـــګو ډک شـــو

ما مې د کور خلکو ته غږ پورته کړ

غـږ مـــې دزړه په لـــرزیدو ډک شو

زموږ ه لـــوی اوسنـــدریـــز ه کلـی
اوس پـــه نارو اوپـــه سوروډک شو

زماحواس ټول پریشان ښکاریده
چې ټـــول بـــدن مې دخولوډک شو

اوس هم هغه  وحشي غږونه اورم
کـــلی موټول له تور  لـــوګو ډک شو

ربـــه پـه موږ څـــه حالتونه دي نن
زمـــوږ وطـن پـــه ادیـــرو ډک شو

## څلوریز( مربع ):

مربع هغه ډول شعري فورم دی، چې هر بند یې څلور مسرې لري. د لومړي بند څلور واړه مسرې یې په خپل منځ کې همقافیه وي، یانې یو شان قافیه تعقیبوي. ردیف په کې اختیاري دی که د سر په مسره کې ردیف راوړل شو، نو د لومړي بند په څلور واړو مسرو کې یې راوړل حتمي دي. د نورو بندونو درې مسرې سره په خپل منځ کې همقافیه وي، خو د څلورمې مسرې قافیه یې د لومړي بند د مسرو قافیه تعقیبوي او که لومړی بند ردیف ولري، نو د نورو بندونو د څلورمو مسرو قافیه او ردیف باید همغه د لومړي بند قافیه او ردیف تعقیب کړي.

که شاعر هر څومره د بندونو زیاتول غواړي، نو پورتنی قاعده باید مراعات کړي. بله خبره داده، چې که چېرې د لومړي بند مسرې ردیف ولري، نو دا ضروري نه ده، چې د ټولو بندونو لومړۍ درې واړه مسرې دې هم ردیفونه ولري، بلکې د ټولو بندونو څلورمه مسره د لومړي بند د شکلي جوړښت یانې د قافیې او ردیف تعقیبولو ته اړه ده. بل ټکی دادی، چې اکثره د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي، خو په ځینو خاصو حالاتو کې کېدی شي د کوم بند د څپو شمېر د یوې څپې په اندازه زیات یا کم شي. بېلګه:

### ژوندون نلري بقا

دا بحــرونـــه دا فضا
دغـــه ځمـــکه دا هوا

داهستي نـــن او سبـا
ده فـــاني دغـــه دنيـا

که بادشاه وي دملکونو
هم صاحـب د کـــروړنو

د بنـــګلو او بلـــډنګنو
خو ترې تللي وي فردا

دبـــدبـــې او عـــزتونه
د قدرت مغروروختونه

ها قصرونـه او برجونه
چاتـــه نلـــري بـــقـا

ای مـــغروره د هستيو
د قدرت او د چـــوکيو

د عيشونو او خوښيو
د ژوند نـــده دا مـانا

لـــړ دمـــه شه د غـروره
ای د بـــل په زور باتوره

شـــرم ښـــه دی د تربوره
کړه حاصل د خدای رضا

لړ انصاف درته پکار دی
ولس ټول درته په قهردی

سباواک د بل واکدار دی
مـــکړه ځـــان سره جفا

عمر ټول پـــه تیریدو دی
داکاروان پـــه رسیدو دی

غفلت کار د لیـــونو دی
ښه عـــزت لري تـــقـــوا

ځان دې پـــیژنه انسان یې
بې خـــبره د خپل ځان یې

چې په غیر لارو روان یې
نور د خـدای غواړه پناه

سباخـدای ته دې رفتن دی
ژوند ختمیږي ځانکندن دی

بس یـــو ځـــو متره کفن دی
ځـــه ځـــواب کـــړې د الله؟

## چاربیته:

چاربیته د پښتو ملي شعري فورمونو هغه ډول دی، چې هر بند يې تر څلور مسرو څخه کم نه وي. زياتره چاربيتې په ملي موسيقی کې ځانته په زړه پورې اهنگونه او خوږې نغمې لري او د دې لپاره چاربيتې بلل کيږي، چې بندونه يې يا له څلور بيتو او يا تر څلورو مسرو څخه ببخي کم نه دي. په چاربيته کې همېشه يوه اوږده موضوع چې اکثراً عشقي او حماسي وي (لکه د قصيدې او مثنوي په شان) افاده کيږي.

## بېلگه:

### دنیکو وطن

خپل وطن مو وران شو شومحتاجه دپردو وطن
خوږ دی خلکو خوږ دی د پلرو او د نیکو وطن

د لته مجبوری ده هر قدم کی تکلیفونه دی
دلته بی وسی ده هری خوا ته پیغورونه دی

بل غوندی قانون دی مایوسی ده زحمتونه دی
هر قدم پردی دی راته ښکاری د میرو وطن

څه خو په وطن کی ډیربی شمیره شهیدان شول
ډیر نور د ابرو خلک بی کوره بی کاروان شول

څوک بیا په پردی وطن کی پاتی په بیابان شول
دا نسل لا پریږده چه مو وران شو دلمسو وطن

څومره شو بی قدره په بل ملک کی چه اوسیږو
د لته هر قدم کی د افغان په نوم زوریږو

ټول عیب په نفاق کی دی په دی هم نه پوهیږو
وران شو د شملو وطن د کلو او بانډو وطن

راشی خوږو ورنو سره یو شو د افغان په نوم
څو به دا نفاق وی چه بیلیږو این او ان په نوم

لاس د وروری ورکړوداخلاص اودایمان په نوم
جوړ کړو افغانی وطن د سولی او جرگو وطن

## ولسي ( کليوالي ) مصرۍ:

لنډۍ په پښتو شاعرۍ کې تر ټولو کوچنۍ شعري فورم دی، خو د مانا د ځواک او ليږد له پلوه نه يوازې په پښتو شاعرۍ، بلکې په نړيواله شاعرۍ کې يې ساری ليدل شوی نه دی.

د لنډۍ کمال په دې کې دی، چې مجموعاً په ۲۲ څپو يا دوو مسرو کې دروند مانيز بار او ښکلا ليږدوي. د لنډۍ لومړۍ مسره ۹ او دويمه ۱۳ څپې لري، لنډۍ قافيه نه لري، خو د دويمې مسرې په پای کې يوه اهنګينه کلمه لري، چې د لنډۍ ټول اهنګ بشپړوي. هره لنډۍ بايد د زور (ه) په واول يا غږن اواز پايته رسېدلې وي. په پای کې دا زور (ه) رانه شي نو اهنګ يې نيمګړی پاتې کېږي. لنډۍ د پښتو ژبې د فونولوژيکي ( غږيز ) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي.

په نورو ژبو کې د دې ډول شعر (البته په همدې وزن او اهنګ) څرک ليدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د لنډۍ په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی.

پر ټولو لنډيو باندې يو قانون د تطبيق وړ دی، ياني دا چې د هرې لنډۍ لومړۍ مسره بايد حتمي ۹ او دويمه ۱۳ څپې وي. د هرې لنډۍ د لومړۍ مسرې څلورمه او اتمه څپه او د دويمې مسرې څلورمه اتمه او دولسمه څپه، خجنه وي.

## بېلګه:

### وطنی مصرۍ

دوطن غيږه کی می کور دی
ماته پردی مالت کی خوب کله راځينه
دوطن خاوری به رانجه کړم
دا پرديسی ژوندون می هردم زوروينه
چه مو تاريخ ته نظر وکړو
جګی شملی مو د پلرو را يادی شينه
دا مو په خپله په ځان وکړه
چه د پردو په لمسون خپل کور ورانونه
راځی چه خپل وطن اباد کړو
تر څو به ګالو د پرديو پيغورونه
وطن د ټولو شريک کور دی
دا دشمنان مو په قومونو بيلوينه
د اتفاق نه هرڅه جوړ شی
راځی چه يوکړو«افغاني » خواره قومونه

## ازاد او نیمه ازاد شعرونه:

په پښتو شاعرۍ کې د ازاد شعر څو ډولونه تر سترګو کېږي. په دې مانا چې پښتو بشپړ ازاد شعر تر څو پړاوونو وروسته دې شکل ته رسېدلی دی. دلته به د ازاد شعر څو بېلګو ته اشاره وکړو.

۱ـ هغه ډول ازاد شعر، چې د دوديز شعري فورمونو په چوکاټ کې نه وي راغلي، په شکلي ډول په کې يو څه بدلون راغلی وي. ځينې مسرې يې له قافيې ازادې، لنډې يا اوږدې وي، په نورو اکثرو مسرو کې قافيه راغلي وي، خو دا قافيه په مسرو يا بيتونو کې يو شان نه وي، څو څو مسرې يا څو بيتونه په خپل منځ کې مشترکه قافيه لري، بيا بېلې مسرې ورپسې لوېږي او په دې ډول يو بند جوړوي.

په دې ډول نظم کې اکثره مسرې تقريباً يو متحد وزن تعقيبوي. ياني له ځينو ورو مسرو پرته د نورو اکثرو مسرو د څپو شمېر سره برابر وي. په دې ډول فورم کې د ځينو بندونو د مسرو تر قافيې وروسته کېدی شي رديفونه راغلي وي او ځينې هم کېدی شي هېڅ رديفونه ونه لري. په پښتو ژبه کې ټاکلي شمېر نظمونه او شعرونه په همدې او يا دې ته ورته فورم کې ويل شوي دي. د نيمه ازاد شعر دا فورم يا ډول عام نه دی، بلکې د کاروني ساحه يې ځانګړې او خاصه ده.

## بېلګه:

### دا څه حال دی

مرګ او ژوبله، بيوسی ده

دا دهشت دليدو نه دی

نه وختونه د ليدو دی

پرهارونه مرګ او ژوبله

دبيرحمو قا تلا نود ظالمو جابرانو

دا وحشت د ليدو نه دی

نه وختونه د ليدو دی

حالتونه توفانی دی

اوس وختونه توفانی دي

ای د وخت سالار تربوره

ستا خصلت دليدو نه دی

نه وختونه دليدو دی

نن دخدای د بنده ګانو

ډیر بی حده سپکه کیږی

څوک پرزیږی څوک زږیږی

دا قیامت دلیدو نه دی

نه وختونه دلیدو دی

ای ددی زمان انسانه

سره یو شه یو همت شه

یوه چیغه د غیرت شه

نور غفلت دلیدو نه دی

نه وختونه دلیدو دی

تر دی غلو او ګیدړانو

داوحشی ، سړی خورانو

ترینه خلاص مظلوم انسان کړه

دا ذلت دلیدو نه دی

نه وختونه د لیدو دی

# د سمیع الدین « افغاني » د شعر فکر او محتوا:

ښاغلي سمیع الدین « افغاني » هم د فکر او محتوا له پلو په مختلفو مضمونونو کې شاعري کړې ده. ژبه، خیال، فکر، احساس، موسیقي او آهنګ د شعر مهم توکي دي او کومه وینا چې له دغو توکیو جوړه وي، شعردی. نو مضمون یا موضوع هغه یو توکی دی چې د شعر هیأت کې جوته ونده لري. په دغو توکیو کې د فکر خبره شوې. فکر به ضرور څه شي باندې کېږي؛ فکر به ضرور د ژوند او چاپیریال د څه برخې باره کې وي؛ فکر به ضرور د شاعر د ژوند څه خبره یا تجربه باندې متمرکز وي. نو هر هغه څه باندې چې فکر او غور کوو، هغه زموږد شعر موضوع ده

کوم شی چې د ادبي او هنري اثر عمر اوږدوي، هغه د فکر عنصر دی چې د موضوع په ښه ځان څرګندوي. یوازې د تکنیکونو رعایت یو اثر نه شي جاوېدانه کولی. د هنري اثر وجود په مضمون یا موضوع ودان دی. د هنر نور عناصر یې د پیغام ارائه کولو کې لاس کوي. خو د موضوع انتخاب او د موضوع د ارائې له پاره د مناسب صنف انتخاب هم ډېر زیات مهم دی.
ښه خواړه دې وي، خو چې لوښی یې صفا سوتره، ښکلی او مناسب نه وي، خوند به ځنې وانخیستای شو. البته، د خوړو د متقاضي اشتها هم دلته یو شاخص دی. شعر هم همداسې دی. پخوا هم د شعر مینه والو د شعر موضوع د شعر پر نورو اجزاؤو لومړی بلله او زیاتره به وربانديې بحث کېده. اوس هم د شعر مینه وال د شعر یا هنري اثر د لوستو یا ننداري په وخت کې دې باندې هم فکر کوي چې د اثر خاوند څه ویل غواړي.

دغه د « څه ویلو» مطلب موضوع ده چې له قدیمه د ښه شعر مهمه او اساسي برخه ګڼل شوې ده. اوسنیو نقادانو کې البته فرمولستان د څه ویلو پر ځای د څنګه ویلو توصیه کوي. د دوی په نزد، خبرې واړه زړې دي. فقط د ارائې او بیان انداز یې له شاعر نوي کېده غواړي. یانې ټول بیلا بیل ټولنیز، اقتصادي، کلتوري، عناصر، مفاهیم، مفکورې، واقعیتونه، احساسات او خاطرې که په عشقي، حماسي یا په بله هره ښه ؤاوسي د پنځول شوي اثر مضمون بلل کېږي.

غواړم د فکر او محتوا له مخې د ښاغلي سمیع الدین « افغاني » ځینې بیلګې وړاندې کم کنه ښاغلي سمیع الدین « افغاني » شعرونه یې په مختلفو مضمونونو کې ویلي دي.

## حماسي:

ښاغلي سمیع الدین « افغاني » داسې شاعري هم کړې ده، چې فکراو محتوا یې حماسي رنګ لري خپله حماسي نظم هغه مضمون او محتوا دی، چې پخواني او اوسني حماسي مسایل، د اتلانو کارنامې، میړاني او سرښندني په کې بیان شوې وي. بېلګه:

### د وطن اتلان

ستا په لوړو غرونو د افغان بچې
جوړې کار نامې کړی قهرمان بچې

تینګ یی په دښمن باندی ګوذار وکړ

و می لید ډګر کی پهلوان بچی

سوله یی شعار ده مخ په وړاندی ځی

دوی دی په تصمیم کی با ایمان بچی

ساتی خپل وطن لوړ شجاعت لری

دا د توری بریښ او د میدان بچی

باسی کشتی خپله د ساحل په لور

دا د طوفانونو د دوران بچی

دوی په افغانی غیرت نازیږی تل

دا د صداقت او پاک وجدان بچی

## انتقادي:

د ښاغلي سمیع الدین « افغاني » په شعرونو کې انتقادي شاعري رنګ هم لیدل کېږي. خپله انتقادي نظم مضمون هغه ډول مضمون دی، چې د ژوند د مختلفو برخو په اړه داسي نېوکې کوي چې د ژوند د یوې برخې یا د یوې مسلې ښې او بدې خواوې په ګوته کړي وي اوسي، چې ښاغلي سمیع الدین « افغاني » هم په خپلو هېواد والو باندې انتقاد کړې دی هغه هم د شهیدې فرخندې د شهادت په مناسبت، چې د خپلو هېواد والو له خوا یو کال مخکې په ډېره بې رحمانه ډول د شاه دوشمشېره مخکې په شهادت ورسیده او بیا جسد ته یې اورواچول شو په دې هکله ښاغلي سمیع الدین« افغاني» په دري ژبه یو شعر ویلي او په خپلو خلکو یې انتقاد کړې دي.

## بیلګه:

### ای الګوی حجاب

حجاب ترا اهل خرافات برده اند
بامرګ تواز قهرخدا هم نه ترسیدند

با پیکر بې جان تو هم رحم نکردند
با مکرفریبکاری چی فتنه به پا کردند

ای شهر نشینان
ای مردمان ده

ای اهل این دیار

ای سروران دین

تا کی درین مسیر جهالت و انحراف

دور از کتاب دین

در سیر خرافات

در قید اعصیان

با تاریکی جهل و خرافات

خاموش وبی صدا

در غم نشسته اید

فرخنده را به دیر ابدیت سپردند

صدای انت  الحق او را هیچ نه شنیدند

به سیر  ارمان های دلش بد جفا کردند

با جسد بی جان او اتش  روا کردن

افسوس به حال وی

افسوس به حال وی

در سوگ تو ای خواهر شهید

من اشک ،ماتم ام

من اه ، ناله ام

ای جان خواهرم

فرخونده عزیز

فرخنده باد روح، روانت شهید پاک

ای الگوی حجاب

(نن تکی اسیا)

## غنایي:

ښاغلي سمیع الدین « افغاني » په غنایي یا مینه ییز شاعري کې هم ډېري شعرونه ویلي دي .
خپله غنایي یا مینه ییزه هغه شاعري ده، چې فکر او محتوا یې له مینې محبت او عاطفي مسایلو څخه بحث کوي.

**بېلګه:**

### د مینې نغمه

ته د مینې لــوی کتاب یې

ته دمینې لــوی دریاب یې

ته تصویــر د ښکلا ګــانو

ته ښایسته شانې ګلاب یې

تــه دمیــنې سمــندر کې

د موجونو په حساب یې

ته څرګند تصویــر د مینې

ته سکون د زړګي تاب یې

ته د ژوند پــه امتحان کې

په بر لاسوکی حساب یې

تــه نغمه یــې د شعــرونو

د درخــو ادم ربــاب یې

تا نه زه لــوګی لوګی شم

د غمجن زړګي ثواب یې

(نن تکی اسیا)

## دیني:

ښاغلي سمیع الدین « افغاني » په دیني برخه کې هم شاعري کړې ده او د دین په اړه شعرونه او مناجات ویلي دي.

دیني شعرونه او شاعري هغه شاعري ده، چې شاعر په خپلو شعرونو کې د نظم متن د دیني مسایلو، آحکامو، وعظ، تبلیغ او عرفان د پیروانو په اړه مسایل څېړي.

بېلګه:

### سجدې

ستـــا د رضـــا دامیدونـــو سجدې

ربه ستا در کـــې د عذرونو سجدې

د ګـــناهونو نـــه منزلـــونـــه جوړ دي

غـــوارم ادا د ګـــناهونـــو سجـــدې

ســـتا دغفار کـــریم رحیـــم له نومو

شـــي که قبول د طاعـــتونو سجدې

زاهـــده ځانـــله چـــې مغروره نه شي

زه یـــم پیرو د پـــاکو زړونو سجدې

څوک دی عابدستا ددوزخ له ویرې

څوک کړي سجدې دثوابونوسجدې

چې مسلمان دی او قایم په خپل دین

کړي پنـــځه وخته د فرضونو سجدې

که «افغاني» وطـــن کـــې سوله راغله

زه بـــه ادا کـــړم د نفـــلونوسجـــدې

## اخلاقي:

ښاغلي سميع الدين « افغاني » په اخلاقي برخه کې هم شاعري کړې ده او د اخلاقو په اړه شعرونه او نظمونه ويلي دي.

اخلاقي شعرونه او شاعري هغه شاعري ده، چې شاعر په خپلو شعرونو کې د نظم متن يوې ټولنې د افرادو د روزنې او سمې لارې ته د دوی د لارښونې اړونده بحثونه کوي.

ببېلګه:

### پاکی هیلی

هغه څه چه مو په زړه کی هوسیږی

زموږ هیلی دی منزل ته به رسیږی

دغه هیلی ډیری پاکی او سوچه دی

چه ملګری مو د ژوند او همیشه دی

دا ژوندون د امیدونو لوی جهان دی

ځکه تل په هلو ځلو کی انسان دی

زموږ هیله زموږ ګران افغانستان دی

زموږ هیله زموږ ژوند زما ایمان دی

بی وطنه چه اوسیږی په غربت کی

خوږ ژوندون ورته په مثل د زندان دی

زموږ مینه زموږ هیله ده ارمان دی

اتفاق او وروړګلوی د هر افغان دی

دا وطن په وروړګلوی باندی جوړیږی

په یووالی باندی هر مشکل اسان دی

دوطن غیړه کی می کور دی

ماته پردی مالت کی خوب کله راځینه

دوطن خاوری به رانجه کړم

دا پردیسی ژوندون می هردم زوروینه

چه مو تاریخ ته نظر وکړو

جګی شملی مو د پلرو را یادی شینه

دا مو په خپله په ځان وکړه

چه د پردو په لمسون خپل کور ورانونه

راځی چه خپل وطن اباد کړو

تر څو به ګالو د پردیو پیغورونه

وطن د ټولو شریک کور دی

دا دشمنان مو په قومونو بیلوینه

د اتفاق نه هرڅه جوړ شی

راځی چه یوکړوافغانی خواره قومونه

## د سميع الدين « افغاني » شعري سبک:

ښاغلي سميع الدين « افغاني» په داسې ډول هم شاعري کړې ده او شعرونه يې ويلي دي. خپله يې داسې ساده کلمو کې شاعري هغه شاعري ده، چې شاعر خپله موخه او هدف يې د سمبول په ډول بيان کړي هغه هم په داسې وخت کې، چې هغه خبري چې د سمبول په ډول د خپل هېواد والو د ويښتيا لپار يې وايې په مستقيم ډول يې نه شي ويلی .

ښاغلي سميع الدين « افغاني » په خپلو شعرونو کې د ملنګ جان پيروي کوي او عروضي شاعري هم کړي ده خو په مرکزي نقطه يې همدا د وطن يادونه ده او تل يې د خپل هېواد او هېواد والو درد او غم يې په خپلو شعرونو کې بيان کړي دی.

بېلګه:

### د خره فلسفي عقل

يوه ورځ يو خر په قهر شو خپل روزګار ته
وه ژوندون ته خپل حيران محنت او کار ته

اعتصاب يې د خوراک وکړه دې خر
ويل : انسانان موږ ته کوي تل سپک نظر

ورځ له ورځې حال بتر خوار او ډنګر شو
له غصې داسې چې مرګ ته برابر شو

ولګې ، تندې له هر څه وه پاتې کړی
بس د مرګ لور ته روان وه غلی غلی

چې پلار خر يې شو خبر د زوی د حاله
د خپل زوی له اعتصاب او له جنجاله

ورته لاړه په خوږه ژبه بيان شو
د خپل زوی نه د غصې علت جويان شو

ويل : چې زويه ورځ له ورځې ډنګريږې
دې تصميم کې دې تر مرګ پورې رسيږې

ښې اوربشې او خواږه درته پراته دي
راته ووايه : په زړه کې دې نور څه دي

چا ناکام درسره کړی چې غمجن يې
ته د چا ځينې خواشينی ،انديښمن يې

زوی خر پاڅیده له ځای په زحمت
سر یې وښورو خپل پلار ته په همت

د زړه راز او حقیقت یې ور بیان کړ
په دې کار یې ملامت ظالم انسان کړ

ویل : ګیله مې د انسان او بشریت ده
له توهین له بد سلوک او د محنت ده

پلارحیران شو دخپل زوی داسې ځواب ته
د انسان د بد چلند د زوی عذاب ته

ویل : چې څه درته ویلي انسانانو!؟
څه ګیله لرې له خپل یا اجنبیانو!؟

زوی ویل: دوی مو تولنې پورې خاندې
هر تنبل ته دوئ خر واي توهین کاندي

پلار یې وویل : هغه څنګه زما ګرانه؟
په خبره سم پوه نه شوم زویکی جانه

زوی ویل : نه وینې هر وخت کوم انسان؟
چې مضر وي یا تنبل وي یا نادان

ورته وایي: ته یې خر احمق نا پوه یې
ته ټټو کله په جمع کې د سرو یې

ایا موږ په ریښتیا دومره نادان یو؟
یا بیکاره لکه دوی موږ تنبلان یو؟

موږ په اصل کې ډیر ګالو زحمتونه
انسانان په موږ کوي شاقه کارونه

شپه او ورځ په کار او بار باندې اخته یو
خوبیا هم ددوئ په نزد موږ بیکاره یو

پلار پدې وخت کې خپل زوی ته شو حیران
زړه له سوزه زوی حالت ته شو ګریان

پدې فکر چې به زوی ته څه ځواب کړي
په خپل زوی به ختم څنګه اعتصاب کړي

ورته وی څنډل غوګونه په ګفتار شو

ویل : انسان لوی خلیفه ددې دیار شو

که اشرف المخلوقا ت ددوئ رتبه ده

زما هم د ځینو ځینو نه ګیله ده

دوئ په خپلو کې کوي سره قتلونه

د انصاف نه دی بیرون کوي جنګونه

ایا خر چیرته کوم بل خر دی وژلی؟

یا د بل خره استحقاق یې تري پټ کړی ؟

داسې خر دی چا لیدلی چې قاتل وي؟

یا اوربشې یې غلا کړی د کوم بل وي؟

یا ګیله د خپل د نسله کړي بل چاته؟

یا ضرر یې رسیدلی وي دنیا ته؟

یا پردو ته جاسوسي په خپل مفاد کړي؟

ځانله جوړه کړي هستي او بل برباد کړي؟

یا کوم خر د بل د خره سره دښمن وي؟

یا خپل مینځ کې یو د بله ګیله مند وي؟

یا یې ورور پردو په لمسه وي وژلی؟

یا بل خر یې په نیرنګ وي غولولی؟

یا شیطان وي شیطانت د نورو خروکړي؟

یا وحشت، نسل کوشي په چا پیرزو کړي؟

پلار اوږده ساه د خولې وویسته بهر

په اوږه د زوی یې کېښوده خپل سر

ورته وویل :چې په ځمکه کې انسان

ددوئ مینځ کې شته بی رحمه لیډران

مرګ او ژوبله تباهي ددوی شعاردی

دوئ له وجې په هر سیمه کې ناتار دی

دوئ په ځمکه کې جوړ کړې کربلا ده

نابودي ته یې مخ کړی دا دنیا ده

دا وحشیان په مرګ او ژوبله نه مړیږي

دوئ له نیته بشریت په اور سوزیږي

بعضو خپل ګټې جهاد نه قرباني کړې

ځینو نورو اسلامي فتوا سیاسي کړې

کله یو کله بیا بل تنظیم کې پایي

کوي هغه کوم چې لوی بادار یې وایي

موږ د خرو نسل پوهیږو په خپل کار

موږ که هر څه یو بیا پیژنو خپل لار

زوی او پلار وښورو سر دې حقیقت ته

ویل چې خدای یو پیدا کړي کوم حکمت ته

پلار یې وویلې : غوښتنه مې له تا ده

زما تاته دا نصیحت او دا سلا ده

چې خپل پل دې د پلارو په پل قایم وړه

بار دپلا ر او د نیکو په دود دایم وړه

انسان پریږده چې کري هغه به ریبي

موږ او تاسو سره صبر ښه زیبیږي

موږ نه چاته کړو ښکنځل نه دروغ وایو

نه موچا سره دوکه ده ریښتیا ستایو

نه مو چور یا چپاول دی چرته کړی

نه مو یو ورور هغه بل ته لمسولی

نه غاصب د بل د ځمکو یا جایداد یو

چې د بل کره کوم غم وي موږ نا ښاد یو

زوی خر پوه شو په خبرو د خپل پلار

سر یې پورته کړو اوربشو ته په وار

ویل : ریښتیا وایې خبر دې اوس منمه

ستا په خوښه اعتصاب مې ماتومه

زه به ټول عمر یم خر، د خره لمسی یم

د خره زوی د خره د نسل کړوسی یم

د قیامت په ورځ به خدای مو مدد ګار شي

دا ظالم بې رحمه خلک به ټول احضار شي

ظالمان به د دوزخ لور ته روان وي

بیا به هلته په همدې ژبه ګویان وی

کاشکې خر وای په دنیا کې پیدا شوی

اوس دوزخ کې به په اور نه سوزیدلی

(نن ټکی اسیا)

# د سمیع « افغاني » په شعرونوکې ادبي صنعتونه:

ښاغلي سمیع الدین « افغاني » د خپلو شعرونو د ښکلا لپاره مختلفو ادبي صنعتونونه په خپل شعر کې کار اخیستي دی، چې د بېلګې په توګه یې دلته د ځینو صنعتونو یادونه کوم.

## ۱ـ تلمیح:

ښاغلي سمیع الدین « افغاني» په خپله شاعري کې د تلمیح صنعت هم کارولی دی. مخکې له دینه، چې د تلمیح صنعت بیلګې یې وړاندې کړم غواړم د تلمیح صنعت اړه ووایم، چې (( تلمیح په لغت کې مالګه کولو ته وایې. په اصطلاح کې هغه معنوي صنعت ته ویل کېږي، چې شاعر په خپل نظم یا شعر کې یوې مشهورې تاریخي پېښې یا واقعې او یا کیسې ته اشاره وکړي )).

**بېلګې:**

دا چې شلیدلی ګریبان ګرځمه زه
ځان د مجنون د ګور تر خوا نیسمه

***

په بازاري مینه غلط چې نشم
دود د یوسف او زلیخا نیسمه

***

نه ادم شته، نه رباب، نه هغه مینه
د فرهاد د زړه قرار باندې څه وشول

***

وې نسم محنت نور د ژوندون ځیني
ماته د فرهاد په شان ککره شي

***

سر مې د منصور غوندې په دار ښه وه
نه چې د خپل یار ځینې جدا یمه

***

اچوم کچکول بیا د بهلول څنګ ته
ځم د خپل اشنا د در ګدایمه

## ۲ـ مبالغه:

ښاغلي سميع الدين « افغاني » په خپلو شعرونو کې د مبالغې له صنعت څخه هم کار اخيستي ،چې ځيني بيلګې يې دلته د مثال په ډول غواړم راوړم خو له هغې مخکې بايد ووايم، چې مبالغه هغه معنوي صنعت دی، چې شاعر د يو چا يا يو شي صفت يا غيبت تر خپل ټاکلي حد او اندازې څخه زيات وښيي.

بېلګې:

مستې ستا د سپين مخ له رڼا ځينې
شپه شوه راته ورځ ستا د شغلو په چم
د حرم د باغ د حورو غم کې نه شوم
چې په زړه مې ستا د مينې خوږ بشر شو

***

## ۳ ـ ارسال المثل:

ښاغلي سميع الدين « افغاني » په خپلو شعرونو کې له ارسال المثل نه هم استفاده کړې ده. ارسال المثل هغه ادبي صنعت دی، که چېري يو شاعر په خپل شعر کې يو مشهور متل په ښکلي او خاصه طريقه ورځای کړي، له داسې شعر ته ارسال المثل وايي.

بېلګې:

څوک چې چاته کوهي کني هغه خپله
په کوهي کې به يې ځای وی تل ترتله

***

ندي منزل ته رسيدلي ته کاږه بارونه
چې دا غزو بار يې په سروي يا سمن څه په کار

***

## ۴ ـ سوال او ځواب:

ښاغلي سميع الدين« افغاني » هم په سوال او ځواب ادبي صنعت کې شعر ويلی دی. سوال او ځواب داسې صنعت دی، چې په دغه ډول صنعت کې په يوه نيم بيتي يا بيت کې سوال او په بل کې ځواب راوړل کيږي. چې دغه صنعت ته سوال او ځواب او يا مراجعه هم وايي.

دلته د نمونې په توګه د ښاغلي سميع الدين « افغاني » يو شعر چې د يو پښتون زلمی او پښتنې پېغلې تر مينځ د سوال او ځواب په بڼه ويل شوي دی.
بېلګه:

### د مينې رنګ

مـــــا ويل سترګې دې خوږې دي
دې ويـــــل تورې پـــــــه رنجو دي

ما ويل مـــــينه دې ســـــور اور دی
دې ويـــــل يار زما مـلـــــــنګ دی

ما ويـــــل زمـــــا سره اشـــــــــنا شه
دې ويل زموږ کلـــــــــي تـــه راشه

ما ويـــــل مـــــينه رســـــوا کـــــيږي
دې ويـــــل دا دمينـــې خـــوند دی

ما ويـــــل ښکلې دې ځـــــواني ده
دې ويـــــل مينـــه رســـــــــوايي ده

ما ويـــــل زه دې لـــــيونی کــــــرم
دې ويل يار مې غنم رنـــــګ دی

ما ويل سپينه خـــــوله دی راکړه
دې ويل ميـــــــــنه کـــړې بې باکه

ما ويل زړه تــــــــه مې نـــــژدې يې
ويل زه شمع يـــــــارمې پتنګ دی

ما ويـــــل راشه مـــــازيګـــر تـــــــه
دې ويـــــل دربه شـــــم ګـــــدر ته

ما ويـــــل لاره بـــــــه دې څارم
ويل منګی مې شين په څنګ دی

## ۵ـ طباق ( تضاد ):

ښاغلي سميع الدين «افغاني» په خپلو شعرونو کې د طباق صنعت هم کارولی دی. دغه صنعت ته تناقص، تضاد او تقابل هم ويل کيږي.

دا هغه صنعت دی، چې شاعر په خپل شعر کې دوه مقابل او متضاد لفظونه راوړي لکه: ښه او بد، شپه او ورځ، تور او سپين، مرګ او ژوند، جفا او وفا،...

ببېلګې:

زماني چې خپلې لوبې په ما وکړې

يم د چا سره اوس دوست د چا دښمن

سترګې د اميد مې درته پاته دي

مړ کړه را ژوندی د قصيدو په چم

يا د خوږو ترخو تو پير دې لږ دی

يا چيرې رنګ دې په ترخو کې نشته

دا د مرګ د خوب ليدل وه ؟

که د ژوند د خوب تعبير دی؟

پرې نه پوهيږمه چې کوم لوری ځم

کله د نيا کله عقبا نيسمه

## ۶ ـ تشبيه:

ښاغلي سميع الدين « افغاني » په خپلو شعرونو کې تشبيه صنعت نه هم استفاده کړي ده. تشبيه په لغت کې ورته کېدو يو شی د بل په شان کېدو ته وايي.

اصطلاحاً په يوه خاصه مانا کې د دوو څيزونو شرکت ته تشبيه ويلی شي. په بله وينا: يو څوک، يو شی يا يو حال، د بل شي يا بل حال سره ورته کول تشبيه ده خو په دې شرط چې د دواړو تر مينځ يو يا څو مشترک صفتونه موجود وي.

ببېلګې:

جګه ونه شمشاد يې قامت دی
ده مغروره شاهين يې صفت دی

## ۷ـ ذولسانین:

ښاغلي سمیع الدین « افغاني » په خپلو شعرونو کې د ذولسانین صنعت هم کارولی دی. که چېرې یو نظم په دوو او یا زیاتو ژبو سره وویل شي ذولسانین بلل کیږي.

بېلګه:

ځه چې ځو بهر ته سیل به وکړو د ملکو
توهم بیا برو ګلم توهم بیا برو
بیا که بریم ګلیم د خارج عجب روزګار است
رنګ برنګ موترو سرویس ها قطارقطاراست

ماهی یی کنسرو کتی پیوه مزه دار است
میریم سویدن، استرلیا تا به پیرو
توهم بیا برو ګلم تو هم بیا برو
نه ځمه بهر ته ځما خپل وطن یادیږي

زړه مې د کابل کلو باندونه نه صبریږي
هر مازیګری د شهرنو مې نه هیریږي
څه کړوعبث ژوند دی په وطن کې د پردو
توهم بیا برو ګلم تو هم بیا برو

هرطرف جنګل وسرسبزی شده بسیار
هر جایی که میری کس به کس نداره کار
بپوش مودی روزه کتی مه برو بی خار
میریم به سرکس ویګان وقت به کازینو

توهم بیا برو ګلم تو هم بیا برو
نه ځمه بهرته مور او پلار مې په وطن کې دي
زړه مو ډېر زوریږی شهیدان مو په مدفن کې دي
خلک مو ټول تباه شو د ښمنان مو په درشن کې دي

رب دې فضل وکړي د وطن په شاځلمو
توهم بیا برو ګلم تو هم بیا برو
ګراني زه پوهیږم ستا احساس د قدر وړ دی
هر سړی په خپل وطن کې دروند او مکمل دی

غواړو افغاني وطن زموږ دغه تکل دی
خدای دې کړی نصیب زموږ د خپل وطن ابرو

توهم بیا برو ګلم تو هم بیا برو

# د سمیع الدین « افغاني »
# نظمونو او شعرونو ته کره کتنه:

د ښاغلي سمیع الدین « افغاني » اشعار زیاتره د ملنګ جان په سبک ویلي دي او زیاتره یې ولسي ، حماسي، ساده ، او سیمییز کلمات یې استعمال کړي دي او په عروضي شاعري کې لکه غزل ، قصیده او داسې نور... او په ولسي شاعري کې یې له چاربیته ، بګټۍ داستان او داسې نورو نه استفاده شوې ده.

سمیع الدین « افغاني » هغه شاعر دی، چې په شعر کې د هغه هیلې، دردونه ، مینه او ارمانونه ژور تولنیز، انساني او بشري رنګ لري. د سولې ، هوساینې او نیکمرغۍ تږی دی. د خپل ځپل شوي هېواد د زوریدلي انسان په دردونو اوښکې تویوي، د کرکې، نفرت او توپیر غوښتنې پر ځای د مینې او محبت اواز اوچتوي د ارمانونو ارمان یې خپل خلک خپله مینه او خپل هېواد دی.

له هېواد څخه د لریوالي غم یې د زړه وینې خوري او د پردو پردي کتنې یې د شاعرانه روح ته عذاب شي. په تیرو ویاړي او په روانو ژاړي او د سولې، ورورۍ او هوساینې په هیله د نفلونو سجدې په غاړه اخلي، د شکونو او بې باوریو تورو لړو ته زوریږي او همدغه څه د افغان ولس د ناورین د اوږدیدو دلیل بولي.

د سمیع الدین « افغاني » شاعري دهېواد یادونه، درد او احساس سندرې دي، ژبه یې ساده، روانه او بې تکلفه ده. نوموړي هڅه کړې، چې په روانه ساده، او رنګینه ژبه د هېواد حالات په خپلو شعرونو کې خوندي کړي.

په مختلفو فورمونو کې یې شاعري کړې ده او ډېر ښه مضامین یې پکې بیان کړي دي، چې زیاتره یې د وطن په اړه دي. په دې لیکنه کې د شاعر او لیکوال ښاغلی سمیع الدین « افغاني » په ژوند، نثر او د شعرونو په ځینو اړخونو رڼا اچوال شوې ده. د پورته خبرو تر څنګ په دې لیکنه کې دا کوښښ هم شوی، چې د شاعر د غزلو، مثنوي او مختلفو فورمونو بیلګې هم وړاندې شي.

# پایله:

د دې مونوګراف په لیکلو او ددې تاکلي اندازې لیکنې سره زما په پوهه او تجربه کې د پام وړ اضافه شوه. ما د ښاغلي سمیع الدین « افغاني » په اړه  هر اړخیز معلومات  تر لاسه کړل  او د هغه د پوهې له انوارو مې د خپل ژوند له پاره کار واخیست.

د هغه  د هر ډول آثارو ( تخلیقي او تحقیقي )  سره مې بلدتیا  وشوه او خاصآ  د خپلې  موضوع د( ښاغلي سمیع الدین افغاني اشعار او افکار)  په اړه مې  ډېره لټونه او ټولونه  وکړه په نظم او نثر کې مې  ورته  آثار پیدا کړل  او  هغه مې  وڅېړل او په  نظم کې  مې ورته  د شعرونو  فورم،  فکر او محتوا یې او همدارنګه په نظم کې یې ادبي صنعتونه پیدا کړل دا راټول شوي مواد مې بیا ترتیب  او  هر یو مې په یو ځانګړي سرلیک کې  راونغښتل او د یو مونوګراف کار مې ترې هم واخیست.

دا لنډه لیکنه دا مانا نه لري، چې:

 د ښاغلي سمیع الدین « افغاني »  په نظم او نثر کې همدومره آثار دې ښاغلی سمیع الدین « افغاني » یو ولسي او ملي شاعر دی په خپلو هېوادوالو دردېدلی شاعر او لیکوال دی.

همیشه یې  د خپل  ولس  د زړه درد او ناخوالي یې  په  خپل قلم  خپلو  خلکو ته  په  هر حالت  او ساعت کې  وړاندې کړې دي. خپله له هیواده لري خو زړه یې همیشه له خپلو هېواد والو سره دی.

د  ښاغلي  سمیع الدین « افغاني »  ګڼ  شمېر متفرق آثار یانې  مقالې او شعرونه یې  د هېواد د مختلفو خپرونو، مجلو او ویب پاڼو له لارې خپلره شوي دي.

ما هم دغه مونوګراف  د استاد پوهنوال یار محمد « یزال »   تر لارښوونې لاندې سرته ورسولو او تر خپلې و سې مې  د شاعر او لیکوال ښاغلي سمیع الدین « افغاني»   پر ژوند، فن او آثارو رڼا واچوله، په اخر کې د خپل لارښود استاد پوهنوال یار محمد  « یزال»  څخه مننه کوم،  چې ماته یې لارښوونه کړې او ښاغلي سمیع الدین « افغاني »  ته د نورو ادبي هڅو په هیله یم.

# وړانديزونه:

لکه څرنګه چې شعر د ټولنې هنري ژبه او شاعر د ټولنې هغه ترجمان دی، چې واقعيتونه د شعر په ژبه يا په بل عبارت په مجازي ژبه وړاندې کوي ، نو ضرور ده، چې د د غسې شاعرانو د شعر د مبهمو موضوعاتو د روښانتيا په خاطر ډېر کار وشي او هغه توضح او تشريح شي.

بل دا چې په ټولنو کې داسې وګړي شتون لري، چې د شعر او شاعرۍ سره زياته مينه لري، خو د شعر د موضوعاتو ويشنه ورته ستونزمنه وي، نو ضرور دی، چې شعر ورته توضح او تشريح شي او په دې برخه کې بايد د پښتو ژبې محصلين کار وکړي.

ما د سميع الدين « افغاني » په اړه او شاعرۍ باندې خبرې کې دي دا يو داسې شاعر دی چې تر اوسه ورباندې چا کار نه وو کړی نو نورو پښتنو خويندو او ورونو ته دا وړانديز کوم چې د همداسې نومورکو شاعرانو له مخ نه پرده لري کړي او د هغوی هنر او استعداد ټولنې ته وړاندې کړي تر څو خلک د هغوی له مفکورو او محتوياتو څخه خبر شي او د ژوند په چارو کې ترېنه کار واخلي.

همدارنګه د پښتو ادبياتو د زده کړندويانو او استادانو څخه مو هيله دا ده، چې ترڅو د داسې ليکوالو او شاعرانو ، چې تل يې په پښتو ادبياتو کې رغنده رول لوبولی دی او د اوسنيو نويو شاعرانو ته هم اجازه ورکړي، چې دې ميدان ته راودانګي او په خپلو احساساتو يې ونازو لکه ښاغلی سميع الدين « افغاني » او داسې نور شاعرانو او ليکوالانو په اړه سيمينارونه جوړ کړي او هغه خپلو خلکو او نړۍ والو ته وروپيژندل شي.

# مأخذونه:


۱ـ ازمون، لعل پاچا. (۱۳۹۴ل). پښتو ازاد نظم . جلال آباد: ختیځ خپرندویه ټولنه.

۲ـ افغاني، سمیع الدین. (۲۰۰۹م ). پردیس خیالونه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۳ـ افغاني، سمیع الدین. (۱۳۵۹ه ش). داغلي زړونه.جرمنی: د حق د لارې کلتوري ټولنه.

۴ـ افغاني، سمیع الدین. (۱۳۵۸ه ش). د خاپوړو کلی. جرمنی: د حق دلارې کلتوري ټولنه.

۵ـ افغاني، سمیع الدین. (۱۳۵۸ل). دوطن یادونه .جرمنی: د حق دلارې کلتوري ټولنه.

۶ـ افغاني، سمیع الدین. (۱۳۹۰ل). زموږ کلي او باندې. جرمنی: د حق دلارې کلتوري ټولنه.

۷ـ افغاني، سمیع الدین. (۱۳۸۸ه ش). شین خالی .جرمنی: د حق دلارې کلتوري ټولنه.

۸ـ بېنوا، عبدالروف. (۱۳۸۳ل). ادبي فنون. کابل: پښتوټولنه.

۹ـ جلال الدین.(۱۳۷۸). په پښتو ادب کې مثنوي پيدايښت. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۰ـ یون، محمد اسمعیل. (۱۳۸۷ل). د پښتوشعرهندسي جوړښت. جلال آباد: یون کلتوري یون.

# سمیع الدین « سعید افغاني »
# تکړه لیکوال ، شاعر او د وطن خدمتګار



سمیع الـدین « سعید افغانـي » د مــولانا داکتر محـمد سعید « سعید افغاني » ځوی، د غـازي مــولوي عبدالمـجید « صافی » لمسی او د مـولوي سید امیر صیب کړوسی دی، چی په کال « 1333» هجري شمسي د لغمان ولایت د عـمرزیـو د سیمې په خیراباد کلي کې ، زیږیدلی دی. .

سمیع الدین « افغاني » یو تکړه لیکوال ، خوږ ژبی او په هیواد او ولس مین شاعر دی چي د هغه شعري روش او شعري سبک یوه نوې تګلاره ده.

د سمیع الدین « افغاني » شپاړس جلده « ۱۶جلده » شعري او نثري کتابونه او رسالی لیکلی چی « ۱۰جلده » چاپ او «۶جلده » ناچاپ دي . همداسی د هـغه ډیر شمیر څیړنیزي علـمي ، ټولنیزي، سیاسي مقالې او لیکنې یې د هـیواد په مختلف رسنیو او انترنیتي ویب پاڼو کې چاپ او خپرې شوې دي.

**The Sameuddin "Afghani" Poems and Thoughts**

**د سامبر میاشت ، د ۲۰۲۵ میلادی کال ـ جرمنی**